# د مرګ څپې

## له افغانستان نه تر عراقه

(د امریکا د بهرنیو چارو وزارت اسناد)

لیکوال: محمود المراغي

ژباړن: هدایت الله همیم

# منځپانګه

موضوع: مخ:

تر لوستلو مخکې: د سرلیک په لټه کې........................................................ ۴
لومړی څپرکی: دوولس کلنه جګړه........................................................۷
دویم څپرکی: هو- نړیواله جګړه! ..................................... ............. ........۱۶
درېیم څپرکی: د سپتمبر یاد .................................................... ........۲۲
څلورم څپرکی: د بحث وړ حالتونه (اوتاوا، سيډني، مسکو، وزيرستان)..................۲۸
پنځم څپرکی: واکمن قوانین..........................................................۴۲

# د ليکوال لنډه پېژندنه

محمود المراغي

دغه مصري ليکوال او خبريال په مصري ژورناليزم کې خپل ځای په لوړو پوړيو کې ساتلی و. ارواښاد المراغي د ۲۰۰۴ کال د اکتوبر پر ۱۳ مه، له اسکندريې ښار نه قاهرې ته د ستنېدو پرمهال د هرم سيمه کې د زړه د حملې له کبله د خپل موټر کنټرول له لاسه ورکړ او پر ونه وجنګېده. په پېښه کې نوموړی سخت ټپي شو، خو روغتون کې يې ډاکټران په علاج کې پاتې راغلل او ارواښاد تر ٦٨ کلونو ژوند وروسته، خپل روحی خدای ته وسپاره.




محمود المراغي يو له هغو نوموتو مصري ليکوالانو څخه و، چې د (العربي الناصري)، (الاهرام) ورځپاڼو او د (روز اليوسف) په نامه مجلې مشري يې کړې ده. د تېرې پېړۍ په اوپايمه لسيزه کې د مصري خبريالانو د ټولنې وکيل هم پاتې شوی. نوموړی په ګڼو نړيوالو او د سيمې په کچه کنفرانسونو کې ګډون کړی، خو وروستی ګډون يې بيروت کې د (عربي نړۍ کې فساد) په نامه کنفرانس کې و.

محمود المراغي څو کاله له مصر بهر هم فعاليت درلود، او د کويت د (الوطن) ورځپاڼې مدير مسؤول هم پاتې شوی دی.

د اوراښاد المراغي په اړه يو بل مصری ليکوال سعيد شعيب وايي: "موږ ډېر کلونه د لوی خبريال او استاد محمود المراغي په اړه بدګوماني کوله، خو هغه په حقه و، هغه د سياست په پرتله عملي کار ته ډېره ترجيح ورکوله او هغه مهال چې موږ کوچني ليکوالان وو، تل به يې له موږ هم دا غوښتنه کوله. ټينګار يې دا و چې د هيڅا پرضد د قلم نوکې پر دښمنانه ليکنو ونه چلوو."

محمود المراغي پر دې اند و چې ژورنالېزم له ټولنې او واکمنانو سره د مثبت متقابل عمل په اوږدو کې ښه مثبت بدلون راوستلی شي.

که څه هم ارواښاد د "ناصري" له ډلې و، خو په ژوره معنا يې د عمر په اوږدو کې د يوه اقتصادي ليکوال په توګه پيغام روښانه و، هغه دا چې د بې وزلو غم دې وخوړل شي.

محمود المرغی به ۱۹۵۸ ز کال د قاهرې پوهنتون له ژورنالیزم پوهنځي نه له خپلې همټولګیوالې ملګرې او بیا وروسته مېرمنې نجاح عمر سره یوځای فارغ شوی.
یو بل مصری لیکوال مصطفی سامي يې په اړه وايي، دغه مصري لیکوال د پاڅون پر اغېز پوره باور درلود، خو د مصر د پخواني ولمسشر جمال عبدالناصر د لاسته راوړنو او افکارو ټینګ پلوی هم و. پخپلو لیکنو کې يې د ازادۍ، ټولنیز عدالت او د مصریانو ترمنځ د توپیر له منځه وړلو لپاره مخصلانه کار کاوه.

# د ژباړن لنډه پېژندنه

## زده کړې



هدايت الله هميم (فيضكخېل) د ۱۳۵۵ کال د مرغومې پر ۲۸ مه، چې د ۱۹۷۷ کال د جنورۍ له ۱۸ سره سمون خوري، د ميدان وردګو ولايت جغتو ولسوالۍ د کلاندې ستر کلي د ارواښاد حاجي عبدالقيوم آخوندزاده په کاله کې زېږېدلی دی. نوموړي لومړنۍ زده کړې په افغانستان کې کړې دي او بيا په ۱۹۹٦ کال د ننګرهار پوهنتون د عربي ژبې او ادبياتو پوهنځی لوستی. د ۲۰۰۴ کال پای کې يې د اسلام آباد نړيوال اسلامي پوهنتون IIUI نه په عربي ژبه او ادبياتو کې د ماسټرۍ دوره هم په برياليتوب سره پای ته ورسوله.

## کاري مخينه

نوموړي د زده کړې ترڅنګ اسلام آباد کې د سعودي عربستان سرې مياشتې يا SRCS په يوه ښوونځي کې هم له ۲۰۰۲ تر ۲۰۰۴ کال پورې تدريس کړی. وروسته يې د افغانستان د مخابراتو وزارت د اکسا ACSA د ځايي تابه پروژې په Afghanistan Localization Program_ ALP يا د افغانستان د ځايتابه پروګرام کې د کمپيوټري پروګرامونو د ژباړن په توګه د ۲۰۰۵ کال د اپرېل له ۱۲ د ۲۰۰٦ کال د جون تر ۱۰ پورې کار کړی. دغه پروژه د مايکروسافټ شرکت له خوا مخابراتو وزارت ته ورکړل شوې وه، چې د کمپيوټر وينډوز، آفېس او ځينې نور اړين پروګرامونه پښتو ته واړوي.

هميم له ۲۰۰٦ کال نه تر ۲۰۰۷ پورې په United General Services Center _ UGSC کې د مرستيال اداري په توګه کار کړی. نوموړی په ياد شرکت کې ونډه وال هم و. له ۲۰۰۷ کال تر ۲۰۰۸ پورې يې له فرانسوي مشاورتي Altai Consulting شرکت سره کار کړی.

نوموړی له ۲۰۰۸ کال راپدېخوا تر اوسه (2015) له بي بي سي BBC نړيوال سرويس سره د آنلاين او راډيو پروډيوسر په توګه کار کوي، چې د کار ډېره برخه يې د بي بي سي پښتو وېبپاڼې www.BBCPashto.com ته بېلابېل خبري، تحليلي، انځوريز، وېډيويي/غږيز رپوټونه، مرکې او نور مطالب چمتو کول دي. نوموړی په آنلاين ژورنالېزم کې اته کاره تجربه لري او د بي بي سي نړيوال په بېلابېلو کورسونو کې يې برخه اخيستې ده. هدايت الله هميم پر خپلې مورنۍ پښتو ژبې سربېره، په دري، عربي، انګليسي او اردو ژبو واکمن دی.

د ژباړې تجربه او خطاطي

همیم فیضکخېل له ۲۰۰۲ کال راهیسې ژباړه پیل کړې، چې د کورنیو تلوېزیونونو لپاره یې تر ۱۰۰ ډېر مستند فلمونه له عربي او انګلیسي ژبو پښتو او دري ته ژباړلي دي. په ALP کې یې د کمپیوټر ګڼ سافټویرونه پښتو کړي. د ګڼو پښتو وېبپاڼو، خپرنیو، مجلو او ورځپاڼو لپاره یې هم سلګونه مطالب ژباړلي. په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو یې پوهنتون کې د خطاطۍ سیالۍ کې ګډون کړی، چې په لومړۍ مسابقه کې یې دویم مقام او دویمه هغه کې یې لومړی مقام ګټلی دی.

علمي او ادبي آثار:

همیم فیضکخېل له تېرو څو کلونو راهیسې په بېلابېلو علمي او ادبي موضوعاتو کې یولړ ژباړې کړې او ځینې کتابونه یې خوږې پښتو ژبې ته ژباړلي دي.

۱ـ د ماشومانو ستونزې (د ماشومانو د لسو لویو ستونزو تشخیص او علاج) په نوم کتاب یې په ۱۳۹۳ کال کې چاپ شوی.

۲ـ د پاسنی کتاب په تعقیب یې د (لوستونکی ماشوم) په نوم بل کتاب هم ژباړلی. په کتاب کې ګڼې داسې ګټورې لارې شته، چې په مټ یې ماشومان لوستلو او مطالعې ته هڅول کېدای شي.

۳ـ (د مرګ څپې: [له افغانستانه تر عراقه] په دې ژباړل شوي کتاب کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۰۱ کال هغه پټ اسناد په ډاګه شوي، چې څرنګه یې پر افغانستان د یرغل هوډ وکړ، کومو هېوادونو ورسره لومړۍ همکارۍ وکړه، د افغانستان ګاونډیو هېوادونو په دغه یرغل کې څه ډول رول لوبولی او داسې نورې نا ویل شوې خبرې..

۴ـ تر سمندر لاندې ـ (ناول) د فرانسوي مشهور ناول لیکونکي ژول وِرَن ناول دی، چې د نړۍ ګڼو ژبو ته ژباړل شوی. دغه ناول په انګلیسي کې 20000 Leagues under the Sea په نوم دی، چې په ۱۸۶۹ کال کې چاپ شو. ددغه ناول پېښې تر ډېره په سمندر کې د یوې سوداګریزې بېړۍ د ډوبېدو پر کیسې راڅرخي، چې پکې ټوټه ـ ټوټه شوې وه، خو هېڅوک یې د ډوبېدو په لامل پوی نه شول.

۵ـ د ماشومانو لپاره لنډې عبرتناکې کیسې ـد لیکوال کامل کیلاني د کیسو له ټولګې غورچانړ شوې کیسې دي.

٦ـ تر ایرو لاندې اور ـ د ارواښاد مصري لیکوال مصطفی محمود (تر ایرو لاندې اور) کتاب داسې یو ځانګړی کتاب دی چې د ځینو مهمو مسائلو په اړه په ژورو ټکو غږېدلی، په تېره بیا ځینې هغه مسائل یې ژور شاربلي چې دده په زمانه کې وو، لکه اسلامي حکم، کمونیستي مارکسي فکر، سخت دریځي، منځلاري او له خدای سره د معاملې څرنګوالی. په دې کتاب کې د دین او سیاست په تړاو د یولړ مسائلو د ظاهر او له حروفو سره د لوبو پرځای د هغوی پر ژورو اړخونو تم شوی. په کتاب کې یې د تاریخ په اوږدو کې د هغو کسانو ډېرې بېلګې وړاندې کړې دي، چې دیني، سیاسي او ټولنیز شعارونه یې وړاندې کړي، خو له خپلې لارې یې خپل پلویان اړولي او خبرې یې له کړنو سره په بشپړه توګه په ټکر کې وې.

۷ ـ لیکوال مصطفی محمود (د مرگ معما) کتاب کې له علمي او فلسفي لیدلوري مرگ څېړلی او په دې اند دی چې مرگ او ژوند د یوې سکې دوه مخونه دي، موږ هره ورځ مرو؛ او زموږ په جسمونو کې میلیونونه ژونکې پرته له دې چې موږ یې احساس کړو، مري چې دې ته کوچنی مرگ وایي. دا کتاب په لومړي ځل په ۱۹۹ کال چاپ شو.

د اوراښاد مصطفی محمود په لاس ځینې نور لیکل شوي کتابونه چې اوس تر ژباړې لاندې دي:

۱ ) د ژوند معما ـ د ارواښاد مصري لیکوال مصطفی محمود کتاب.

۲) روح او جسد ـ  د ارواښاد مصري لیکوال مصطفی محمود کتاب.

۳) د بیزوگانو زمانه ـ د ارواښاد مصري لیکوال مصطفی محمود کتاب.

۴) د لېونیانو زمانه ـ  د ارواښاد مصري لیکوال مصطفی محمود کتاب.

# تر لوستلو مخکې

## د سرلیک په لټه کې!

ډېر کله په ژوند کې له داسې کیسو او ناولونو سره مخامخېږو، چې په هنري چوکاټ کې یې یوازې د زړه راښکونکي سرلیک کمی وي، له مقدمې پیل، د ناول تر پېچلتیا او بالاخره د پېښنو پای ته رسېدو سره ختم شي.. یا غمیزه وي یا ساتیري، کومیډي مو خندوي او تراژیدي مو غمجنوي.

خو، د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ له پېښو او پر افغانستان د امریکا تر یرغل وروسته وضعیت کې چې موږ ژوند کوو، پر ډېرو سیمو پوځي یرغلونه وشول، ځینو پیاوړو هېوادونو پر کمزورو هغو خپل پوځ ور مارش کړ، چې دا لړۍ د اسیا له زړه پیل او د عربي مشرق پر عراق او د افریقا په قاره کې پر لیبیا یې پای وموند .. په دې حالت کې د لیکوال لټون هومره مهم نه و، لکه د کتاب سرلیک چې اهمیت درلود، کیسې هرڅا اورېدلې وې، خو په یوه هنري چوکاټ کې رانغښتلو ته یې ایله څو کسانو ملاوې وتړلې.

دې کار له ډېر اوږده سوچ وروسته له ما ټیک څو میاشتې وخت واخیست. ما ویل چې: که چېرې خبره د امریکا د هغې جګړې په اړه وي، چې کلونه-کلونه له یوې سیمې وبلې ته لېږدېدونکې ده، او یا د هغو نړیوالو اړیکو په باب وي، چې د دغې جګړې له لمنې راپنځېدلې او د وخت په تېرېدا پراخه شوې ده، نو د کتاب په بڼه مې په ذهن کې غوره سرلیک (ځنګل) ... یا (د زور قانون) وباله.. داسې قانون چې معادله یې د یوه بل قانون (د کمزورۍ قانون) له موجودیت پرته نه شي بشپړېدی؛ د زښت ډېر قوت لرل چې امریکا یې ادعا کوي- سړي ته غرور ورکوي ... او د مقابل لوري ډېره کمزوري برید او له قوته د ګټې اخیستو لپاره لا نوره لاره هواروي، دا کټ مټ هغه حالت دی، کله چې واشنګټن د اسیا په زړه کې د یوه ډېر کمزوري نظام جرړې ایستل خپل هدف وګرځاوه، بیا یې عربي نړۍ ته مخه کړه، هغه هم یوه داسې نظام ته چې وګړي یې راپرځېدو ته ډېر توتلي ښکارېدل، له کلونو راهیسې د (عراق)

لاس او پښې تړل شوي وو، خو افغانستان هم ترې کم نه و، بې ثباتۍ او پرله پسې کورنیو جګړو خلک په مرګ راضي کړي و.

بیا مې ویل چې: بلکې قضیه تر دې هم پراخه ده، راځه کتاب ته دې بل سرلیک غوره کړه (د نړۍ بیا جوړښت- د امریکا د بهرنیو چارو وزارت اسناد)؛ خو دا سرلیک هم کامل او شامل نه راته برېښېده، د نړۍ اړیکو او د سړې جګړې پراختیا ته په کتلو سره وپتېیله، چې د نړیوالو مؤسسو اوامر او قوانین هم د واشنګټن واکمنانو د رڼو رڼو سترګو سیاست ځان ته د ګواښ په معنا تعبیروي، د ملګرو ملتونو امنیت شورا، چې د امریکا په زړه کې راشه-درشه کوي، د ۲۰۰۲ کال دویمه نیمایي کې د عراق قضیه ښه په زړ او زبر وشاربله، ځکه د دوی ذهن لا له وړاندې داسې جوړ شوی و، چې یا به پر عراق برید حتمي وي، که نه، نو امنیت شورا ته به د عراق له بمونو ډک لاسونه وغځېږي!

دا ټول څېزونه تر یوه حده (د نړۍ بیا جوړښت) پر مفکورې متکي وو، چې په لومړي سر کې نړیوالو د پټې خولې سیاست غوره کړ، ځینو د نورو له وېرې واشنګټن ته د (هو) سر وښوراوه، خو خولې یې له وېرې مهر ولاک شوې وې.

بیا د لا پراخ عنوان او سرلیک سوچ راسره پیدا شو، چې دا ټول پکې راونغښتل شي، خو له تاوتریخوالي او د تاوتریخوالي ضد پرته مې نور څه ونه موندل.

د لومړۍ نړیوالې جګړې د قربانیانو شمېر نهه میلیونه و، چې ترې وروسته نړۍ یوڅه د ارامۍ ساه واخیسته، خو دا یې هم زمزمه کوله، چې ((جګړې ختمې شوې او د ولسونو ملګرتیا راغله))، خو دویمې نړیوالې جګړې میلیونونه نور انسانان وخوړل، ټولو فکر کاوه، چې دا د جګړو تر ټولو لویه او وروستۍ هغه ده، خو سړې جګړې (مسکو او واشنګټن) بیا سره ښکر په ښکر کړل. که څه هم د تېرې پېړۍ نوي یمې لسیزې پرمهال په نړۍ کې د جګړې بودیجه راکمه شوه، خو له ښکېلو غاړو د تېرو جګړو تاو نه وو ختلی، کورنۍ جګړې ډېرې شوې، چې د کوچنیو جګړو نوم ورکړل شو، ان دا چې یوازې د یوه هېواد روانډا د کورنیو جګړو د قربانیانو شمېر تر نیم میلیون ډېر شو.

د لویو هېوادونو جګړې کمې شوې، د کوچنیو هېوادونو جګړې ډېرې شوې. خو د چا په خوا او خاطر کې نه راتله، چې د جګړې بڼه به بدلېږي او د خپل ډول یوه نوې جګړه به پیلېږي، دا جګړه په حجم او څرنګوالي کې له تېرو جګړو بالکل بل شان وه، (د ترهګرۍ ضد جګړه) چې تر ډېره یې انګیزه سیاسي ده: قومي شخړې، جلاوالی، پر پولو اختلاف، مذهبي توپیر، ازادي، د کورنیو او نړیوالو تېریو مخنیوی... له دې جګړې سره تل په سیمه ییزه او نړیواله کچه معامله شوې، خو د پوځي مداخلې لپاره ترې د اسانه او اساسي پلمې ګټه اخیستل شوې.

د دغې جګړې په اوږدو کې د ټولې نړۍ سترګې د یوه داسې سړي پر لوري وې، چې له نړیوالو نظامونو سره یې ډغرې وهلې، واشنګټن له اسامه بن لادن د ترهګرو اتل جوړ کړی و، خو ایله یې لس کاله وروسته د پښو نښې پسې واخیستې او ځرک یې ولګول شو، لوېدیځو رسنیو اسامه د یوه خوب او خیال سړي په نامه پېژانده، او له والنټینو سره ورته سړی یې باله، خو د هغه خوبونه له وینو او عقیدې سره ګډ شول.

واشنګټن د القاعدې شبکې بنسټګر اسامه بن لادن او د افغان طالبانو مشر ملا محمد عمر ته د تېښتې کافي موقع ورکړه، دوی یې ترهګر وبلل، پرضد یې د نړیوالو ملګرو په ملاتړ زرګونه پوځیان د افغانستان پر لوري ور مارش کړل، په نړیوالو رسنیو کې د القاعدې ضد جګړې اعلان وشو، خو اسامه له وخته په ګټې اخیستو افغانستان پرېښود، او سړی تري تم شو، خو بیا هم د جګړې انګیزه هماغسې پاتې شوه (موږ ترهګر پسې اخلو) !

په برتانیا، اسپانیا فلپین او نورو هېوادونو کې هم بېلتون غوښتونکې ډلې شته، په جنوبي اروپا کې هم سخت دریځې خوځښتونه شته، د نړۍ په کچه په لاتینه امریکا کې تر ټولو ډېر قتلونه، تښتونې، جنسي تېري او تاوتریخوالي کېږي، د نشه یي توکو سوداګري له مارکسیزم سره غاړه غړۍ شوې.

په لنډ ډول، دوه اړخیزه وژنه تل د سیاسي اهدافو لپاره شوې، همدا وو چې د امریکا متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د پټو اسنادو لپاره (د مرګ ځپې) سرلیک غوره شو، چې دغه وزارت د نړیوالې ترهګرۍ په تړاو کلنی راپور خپروي. دا د نړۍ په کچه د استخباراتي او دیپلوماتیکو هڅو او اسنادو پر بنسټ پراخ نړیوال راپور دی.

د ۲۰۰۱ د سپتمبر پېښو ته په پام سره، د ترهګرۍ په تړاو د امریکا ۲۰۰۲ کال راپور تر ډېره د نړیوالو پام ورواړاوه، ځکه چې امریکا خپل ټول هغه راتلونکي هدفونه پکې ډاګیزه کړل، چې په راتلونکو کلونو کې یې د ترهګرۍ ضد جګړې په تړاو لرل. په سر کې یې د القاعدې شبکې له منځه وړل وو، چې ویل کېږي دغه شبکه ((په څه باندې شپېتو هېوادونو کې د ګڼو نورو سخت دریځو ډلو یو اساس یا بنسټ دی)).

راتلونکو پاڼو کې نظر او لیدلوری څرګندیږي، همداشان هغه اسناد مخې ته راځي، چې تر ډېره حقیقت ترې روښانه کېدی شي، که څه هم فرانسوي مکاتبو کې ویل شوي وو چې: د سپتمبر پېښې د امریکا یوه لویه ډرامه وه، الوتکو پنتاګون هېڅکله نه وو په نښه کړی.

راځئ  اوس دا کیسه له سره ولولو، ډېرش کاله وروسته یې هغه مهال هم ولولو چې د تېرې کیسې امریکایي اسناد شاید لا نور بربنډ او رسوا شي.

لیکوال: محمود المراغي

سپتمبر ۹، ۲۰۰۴

# لومړی څپرکی

# دوولس کلنه جګړه

د دغه کتاب اصلي موضوع د تېرو ۱۲ کلونو جګړه بیانوي، یا په بله وینا په هرځای او وخت کې ازاده جګړه. د کتاب متن زما نه دی، یوازې هغه شمېرې، دیپلوماتیک او استخباراتي معلومات په ډاګه شوې، کله چې بوش د سپتمبر د ۱۱ تر پېښو اته ورځې وروسته د صلیبي جګړې اعلان وکړ، بیا وروسته په رسمي څرګندونو کې دغه اټکل شوې دوه کلنه جګړه دا دي کابو دیارلسو کلونو ته وغځېده، پیل یې له افغانستانه وشو، خو بیا وروسته یې لمن نورو سیمو ته هم وغځېده.

که څه هم د امریکایي ادارې واکمنو له خپلې خاورې زرګونه کیلومتره لیرې د اسیا په زړه کې یوه بې وزله جګړې ځپلي هېواد کې جګړې پیلولو ته ډېره لېوالتیا لرله، خو تر جګړې ایله یو کال وروسته د امریکا د ننه ۹۱ سلنه امریکایان په دې نظر شول، چې تر راتلونکو لسو کلونو پورې ترهګري د امریکا لپاره لومړی درجه خطر دی.

د امریکا لپاره د وخت کم او زیاتوالی او جغرافیوي واټن مهمه مساله نه وه، په افغانستان کې یې پیل کړې جګړه تر لسو کلونو ختمه نه شوه، او د یوه کمزوري تړاو پربنسټ عراق ته ورسېده. پر عراق د برید پلان ان د امریکا د ملي امنیت په غونډو کې مطرح شوې موضوع وه، له دې کبله د امریکا د دفاع پخواني وزیر ډونالډ رمسفیلډ د سپتمبر د ۱۱ د پېښو په پلمه پر افغانستان د امریکایي یرغل په ورځو کې د یوې جلسې پرمهال پر عراق د برید موضوع رابرسېره کړه، دا د امریکا د دفاع وزارت هغه غوراوی و، چې لا له وړاندې یې هرڅه ورته چمتو کړي وو.

رمسفیلډ دا څرګندونې د هغه وخت د امریکایي مرستیال ولسمشر دیک چیني له خبرو د الهام په اخیستو کړې وې؛ ځکه چې دیک چیني د بن لادن او القاعدې ځپل او له منځه وړل کافي نه بلل، بلکې د هغو ((دولتونو، نظامونو او سیاسي بنسټونو له منځه وړل یې ډېر مهم ګڼل چې د ترهګرۍ زېږنده دي)).

د بوش د جګړې لومړی ډګر افغانستان و، ((که چېرې هلته بریالي شوو، نو د جګړې دویم پړاو ته به ننوځو)). د جګړې دویم پړاو هم پیل شو، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د راپور له مخې د ترهګرۍ تمویلوونکو اوو هېوادونو (سوریه، لیبیا، سودان، عراق، کیوبا، ایران او شمالي کوریا) د نظامونو له منځه وړل باید له عراقه پیل شي. خو د لومړي او دویم پړاو ترمنځ د امریکا او نړیوال سیاست د سېندونو ترمنځ ډېرې نورې اوبه وبهېدې، ځینو یې دغې ډرامې ته لاره هواره کړه، ځینو نورو بیا د دغې ډرامې پېچلتیا کې رول ولوباوه، د اهمیت له پلوه امریکا ځانته لا نور خطرناک او دښمنانه اهداف وټاکل، چې د امریکا ملي امنیت د ستراتیژۍ اسنادو په ډاګه او بوش د ۲۰۰۲ د سپتمبر پر ۲۰ په دې ټکو اعلان کړل: ((د امریکا متحده ایالتونه هېڅکله ته دا اجازه نه ورکوي، چې په پوځي برخه کې پرې لاسبري شي، لکه څرنګه چې د سړې جګړې پرمهال و))... په اسنادو کې دا هم راغلي وو چې: ((سر له اوسه،

د امریکا متحده ایالتونه هېڅ راز گواښ نه شي زغملی، ان که چېرې احتمال یې هم وي، بلکې په پوځي ور به یې له منځه وړي)).

له دې ښکاري چې جگړه د ترهگرۍ ځپلو په موخه نه ده، بلکې نورې غاړې په داسې توگه د خپل ځان د اقتصادي او پوځي گټو لپاره بوخت ساتل د امریکا هدف دی، چې د راتلونکو کلونو لپاره یې امریکايي واکمنانو پلان جوړ کړی. عراق هم د امریکا د برید اصلي موخه نه وه، په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ او القاعدې او نورو سخت دریځو له منځه وړل هم د امریکا اصلي هدف نه و، بلکې په سیمه کې یې خپل پوځي موجودیت اصلي موخه وه، او د اسیا په زړه کې له اقتصادي پلوه د نړۍ د مخ پر ودې چین په څنگلورو هېوادونو کې د ۱۳ امریکايي پوځي اډو جوړول واشنگټن ځان ته یو هدف گرځولی و، او تر اوبو لاندې یې د اسیا د څلورو اتومي قوتونو (چین، هند، پاکستان او روسیې) پرضد د ممکنه جگړې لپاره د چمتووالي ښوول وو.

خو شاید وپوښتئ چې پر عراق یې له بریده هدف څه و، شاید معقول ځواب او د امریکا هدف د پېټرولو ترلاسه کول او د واکمن امریکا ضد نظام ړنگول وو؛ ځکه چې عراق د نړۍ د نژدې ۱۱ سلنې احتیاطي تېلو لرونکی هېواد دی، همداشان عراق د تېلو هغه حلقه لري، چې سعودي عربستان، عراق، عربي متحده امارات او کویت پکې شامل دي، او د نړۍ د احتیاطي تېلو ۵۵ سلنه جوړوي، په دې سره واشنگټن د تېلو اوسنیو ډېرو استهلاک کوونکو اروپا او جاپان او بالاخره خپله امریکا ته د تېلو د کمښت ستونزه حل کړای شوه.

دغې موخې ته د رسېدو لپاره د سپتمبر ۱۱ پېښې ښه معقوله پلمه وه، خو د تحول ټکی چې ډېر انتظار ورته وشو او بیا تر سپتمبر وروسته ډېر ژر رسوا شو، د امپراتورۍ لوري ته د ځان کشول وو، په دې معنا چې امریکا په ډاگه ویل: ((له امریکا باید امپراتوري جوړه شي، داسې امپراتوري چې د نړۍ امپراتوریو کې تر ټولو غوره وي. په نړۍ کې د گډوډۍ او اختلافونو رامنځ ته کولو لپاره یوازېنۍ معقوله لار امپریالیزم ته په ستنېدو کې نغښتې ده)).

*************

د امریکا د نوې جگړې پیلامه د سپتمبر له ۱۱ پیل شوه، خو امریکا [1]په ۱۹۴۱ کال پر پیرل هاربر Pearl Harbor تر برید وروسته دا ډول ورځ نه وه لیدلې، هغه څه چې پېښ شوي وو، د ۳۵۴۷ انساني تلفاتو، او ۱۲۰ میلیارد ډالرو مادي زیان له اړخه ډېره ناوړه پېښه نه وه. نړۍ په دغه پېر کې لانوره پسې بد بخته شوه، د روانډا توکمیزو جگړو

---

([1])- پیرل هاربر Pearl Harbor د امریکا هاوای ایالت کې یو بندر دی، چې د ۱۹۴۱ دسمبر پر ۷ جاپان هلته د امریکا پر سمندري ځواکونو او بېړیو ناڅاپي برید وکړ، او امریکا یې دویمې نړیوالې جگړې کې ښکېلېدو ته اړ کړه.

تر نیم میلیون د ډېرو انسانانو ژوند واخیست، او ترې وړاندې په نورو افریقایي هېوادونو کې هم ورته ناورینونه وو. د سپتمبر تر پېښو مخکې او وروسته د ترهګرو اسراییلیانو په مرمیو زرګونه فلسطینیان شهیدان شول، چې مشهور امریکایی استاد نوآم چامسکي Noam Chomsky یې د (۹-۱۱) په نامه کتاب کې ددې حقیقت ډاګیزه کولو ته اړ کړ چې ((د امریکا تر ټولو لوی ترهګریز عمل په نیکاراګوا Nicaragua ۱۹۸۰ کې هغه کړنه وه، چې له کبله یې زرګونه کسان له منځه ولاړل، په سودان کې یې د درمل جوړونې پر هغې فابریکې بمبار وکړ، چې د درملو له اړخه یې د نیمایي سودان اړتیاوې پوره کولې. پر عراق د امریکایي کلابندۍ پایله کې نژدې یو میلیون ماشومان مړه شول ... همداشان د ۲۰۰۲ کال اګست کې د نیوز ویک مجلې افغانستان کې له هغو امریکایي کړنو پرده پورته کړه، چې امریکا په لږ موده کې لړترلږه زر افغانان ووژل، چې ملګرو ملتونو یې هم د سرسري پلټنې غوښتنه وکړه...)).

په دغه کتاب کې د هغو تلفاتو کچه (چې د دغه کتاب پای کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت اسنادو ته پکې اشاره شوې) ډېره لویه نه ده، خو امریکا او هغه امریکایي وګړي چې تل دا سوچ کوي ګني (ډېر خطر همدوی ته متوجه دی).. خو دوی دومره فکر نه کوي، چې د نړۍ له شماله جنوب ته، یا له بغداد، نایروبي او یا له افغانستانه واشنګټن کې امریکایي وګړو ته څه ډول خطر متوجه دی؟!

له امریکا د لېوه جوړېدو لپاره واشنګټن ته ډېر مناسب وخت په لاس ورغی، همدا وو چې د بوش ناره دا وه (له موږ سره یا زموږ پرضد). د ۲۰۰۱ سپتمبر ۱۱، له پېښې لا یو ساعت تېر شوی نه و، چې د امریکا غږ رادیو رانه وپوښتل: ((ایا ستاسې په اند دا برید د چا کار دی؟ ما وویل: ډېرې خواوې احتمالي برید کوونکي کېدی شي.. د امریکا متحده ایالتونه له اسراییلو سره همکاري کوي، چې فلسطینیان د امریکا پر دغې کړنې سخت غوسه کېږي، خو فلسطینیانو دا کار نه دی کړی او نه یې هم وس لري، او نه یې له فلسطین بهر مهم عملیات او بریدونه کړي. عراق هم د غچ اخیستو هیله لري، خو له وېرې څه نه شي کولی. که پر امریکا یې د سپتمبر ۱۱ برید کړی هم وي، عواقب یې د ځان لپاره ناوریني اټکلوي، دا احتمال هم ډېر لیرې دی، پاتې یوازې اسامه بن لادن او د هغه شبکه ده، چې د افریقا ختیځ کې یې ډېر عملیات او چاودنې کړي، او تل یې امریکا ته ګواښ کړی)). دا ټولې خبرې مې د یوه اټکل کوونکي خبریال په توګه وکړې، چې هېڅ ثبوت او دلیل مې هم نه درلود، خو وروسته د امریکا د ملي امنیت لومړۍ غونډه کې هم د برید نېغه ګوته پر اسامه واچول شوه، او دوی هم زما په شان بې دلیله او بې ثبوته د بریدونو لوی طراح اسامه وباله، د برید اصلي نولس طراحان او ترسره کوونکي هم خاورې ایرې شوي وو، او د امریکا د جګړې ناستې همدا خبره ټینګه نیولې وه چې (بریدګر بن لادن دی... نو جګړه پیلېدونکې ده). په داسې حال کې چې ولسمشر بوش پر اسامه بن لادن ډېر لاسونه پاکول، خو مرستیال یې دیک چیني او دفاع وزیر رامسفیلډ دې ته متوجه کاوه، چې د دې کار پلان تر هغه ډېر پراخه دی، چې بوش یې فکر کوي (اسامه، القاعده، طالبان+ افغانستان) دا ټول د امریکایي جګړې لپاره یو لوی حریف کېدی شي. په دویم کتار کې د ترهګرۍ پالونکي هېوادونه راځي،

لکه څرنګه چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت اسناد ښیي، د ترهګرۍ د غځېدونکو لاسونو غوڅول ضروري دي، چې د اسنادو پربنسټ ۹۵ هېوادونه د ایکي یوه تنظیم یا شبکې (القاعدې) د تنظیمولو هڅې کوي.

خو بیا هم دا پوښتنه پر هماغه ځای پاتې شوه چې ((نو ستاسې ثبوت او دلیل څه دی؟)) دا ځواب هم منطقي نه ښکاري چې ((هغه مهال به دلایل وړاندې کړو، چې یوه پېښه کې ترهګر ونیسو او د عدالت منګولو ته یې وسپارو)). هغو اروپایي هېوادونو هم خپله دغه لومړنۍ پوښتنه هېره کړه، د قطر دوحه کې هم راغونډو شویو اسلامي هېوادونو تر کنفرانس وروسته د قطر د بهرنیو چارو د وزیر له ((واشنګټن موږ ته کافي دلایل وړاندې نه کړل)) څرګندونو پرته خپله پوښتنه له سره ایستلې وه.

په میدان کې یوازې امریکا پاتې شوه، چې کوم څه حقیقت وبولي او کوم څه نه، او نور یې باید له چون او چرا پرته ((ملاتړ وکړي))، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۰۲ د مې د ۲۱ د اسنادو په حواله، د امریکا له پوځي چمتووالي سره، په ټول تاریخ کې له څه باندې سلو هېوادونو تر ټولو لوی ایتلاف جوړ شو. دغه ایتلاف یوه معما وه، چې ډېرو یې په منطقي جوړښت کې هېڅ شی بود نه کړل، څرنګه لوی هېوادونه، کوچني هېوادونه، متوسط هېوادونه خپله ځمکه، پوځ او هوا د داسې جګړې قربانۍ ته چمتو کوي، چې سوبه یې یوازې د امریکا په ګټه تمامېږي، حال دا چې په ګرده نړۍ کې د امریکا نیمایي عملیاتو ترهګریزه بڼه لرله، او یوازې واشنګټن د پوځي بریدونو د اوامرو او نواهي حق لري؟ !

خو په اصطلاح د امریکا د اور پنډوسکي مخې ته هېڅا د (نه) زړه نه شوای ښه کولی، بلکې ملګرتیا یا له وېرې وه، یا له مجبوریته، په افغانستان کې شمالي ټلوالې او ورسره نورو هغو ملېشو د امریکا برید او مداخلې ته شېبې شمېرلې، چې له طالبانو سره یې خونړۍ جګړې کړې وې، دغې ټلوالې له مخکې له امریکا سره خپل ملاتړ اعلان کړی و، ځکه چې د امریکا په مداخلې کې یې خپله سوبه لیدله، بل دا چې د افغانستان په اړه پاکستان، چین، روسیې او د منځنۍ اسیا جمهوریتونو هم خپلې ګټې اټکلولې: پاکستان تر ټولو مخکې د ((له موږ سره یا زموږ پرضد)) نارې اورېدو ته ډېر لېواله و، له یوې خوا پر خپل اټوم بم وېرېده، او بله خوا یې د طالبانو تحریک رامنځ ته او د ارګ تر کُرسۍ ورساوه، درېیم دا چې پاکستان له دې هم وېره لرله، چې پخپله لمن کې یې ګڼو هغو اسلامي جماعتونو ته ځای ورکړی، چې همدا جنګیالي طالبان یې له لمنو راوتلي دي، او اسلام اباد باید له ځانه دغه تور دفع کړي.. بیا د روسیې د مخامخ همکارۍ رول راځي، یا دا چې د منځنۍ اسیا جمهوریتونو ته به د واشنګټن پر پوځي ډوپ وهلو ځان ناګاره او سترګې پټې نیسي، مسکو چې په افغانستان کې یې مخکنۍ ماتې له مغزو نه وه وتلې، له امریکا سره لاسونه یو کړل، خو چیچنیا کې یې هم د اسلامپالو په ځپلو له زړه خواري کوله، خو دا ټولې هلې ځلې یې له دې کبله کولې، چې د امریکا له اقتصادي همکاریو بې برخې نه شي.

چین، چې اوس او راتلونکې کې اسیا کې تقریباً د امریکا تر محاصرې لاندې دی، له دې ایتلافه ځان په ځنګ تېر نه کړ، او په لومړي ځل یې د امنیت شورا تر پرېکړې وروسته د جګړې پلوي اعلان کړه، بلکې بیجینګ کې یې د امریکا د فدرالي تحقیقاتو لپاره دفتر جوړولو ته غاړه کېښوده. د عربي هېوادونو رول ته هم د شک په سترګه کتل کېدل؛ ځکه چې پر ځینو یې د ترهګرۍ د تمویل شک کېده، او ځینو خو پخپلو لمنو کې د اسرائیلو ضد حرکتونو او فعالیتونو ته پوره ازادي ورکړې وه، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په اسنادو کې دغه حرکتونه هم ترهګر بلل شوي، بلکې د لبنان حزب الله ډلې ته امریکا د القاعدې په سترګه ګوري، خو دغه ډله د ایران په پوره ملاتړ د اړیکو پراخ سیستم لري، او ان افریقا، شمالي او لاتینه امریکا کې هم د پیسو د راټولولو ډېرې چلبازې طریقې کاروي، چې په ۲۰۰۲ کال د دغې ډلې په اړه کاناډا کې سیاسي جګړه هم وشوه، او په پای کې ترهګره ډله وبلل شوه.

واشنګټن د خپل یرغل او ترهګرۍ ضد فعالیتونو لپاره د ختې پزه کېښوده، له همدې کبله یې ترهګري ((د سیاسي انګیزو زیږنده هغه تاوتریخوالی او ترهه تعریف کړ، چې د غیر محاربو اهدافو پرضد د یوې ډلې یا پټو ځارونکو له خوا ترسره کېږي)). د دغه امریکایي تعریف له مخې د فلسطین او لبنان مقاومتونه هم یو ډول ترهګر وګڼل شول، خو د اسرائیلو له خوا ترهګري یې د ترهګرو د ډولونو له جدوله وایستله.

خو، د فلسطیني مقاومت کوونکو ډلو ترڅنګ، د الجزایر او مصر ځینې نور تنظیمونه هم د ترهګرو لست کې راغلل، همدا لامل و، چې د مصر د جهاد او اسلامي جماعت دوه تنظیمونه یې له القاعدې سره د غړیتوب او اړیکو په شک ترهګر وبلل.

خو د ۲۰۰۲ پسرلي کې د امریکا د څارګرو بې پیلوټه الوتکو له خوا د یمن خاوره کې د القاعدې د یوه شکمن په نښه کول او په موټر کې د ټولو ناستو کسانو وژلو پېښې په اړه صنعاء وویل چې دوی د دغه برید په اړه خبر وو، بیا وروسته یې دا هم وویل چې دوی له امریکا د دغه برید غوښتنه کړې وه.
خو پوښتنه دا ده، چې ایا واشنګټن پر یمن دا شک درلود، چې ګڼي له افغانستانه د پخواني شوروي له ماتې خوړلو او وتلو وروسته هلته یمني جنګیالي بېرته یمن ته ستانه شوي او په ډاډه زړه هلته د القاعدې له جنګیالیو سره د یمني قبایلو په ملاتړ فعالیت کوي؟
د امریکایي معلوماتو پربنسټ، د سپتمبر د ۱۱ د الوتکو له ۱۹ تښتوونکو ۱۵ یې د واشنګټن په وینا، افغانستان کې هم جنګېدلي، چې ټول عربان وو، او تر ډېره د القاعدې غړي د سعودي عربستان، مصر او کویت دي. نړۍ هم له امریکا سره د واشنګټن له خوا په اصطلاح له اوره د جوړ شوي پنډوسکي د رغړولو له چارې له مجبوریته نه شي په

شا کېدای، چې دا کار به یا له وېرې او یا هم د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره کوي، خو کله چې پر عراق په برید سره د جګړې دویم پړاو پیل شو، محافظه کاري یوځه ډېره شوه.

په هر حال، د واشنګټن له خوا د جګړې د وهل شوي ډول غږ د نړۍ په هر ګوټ کې واورېدل شو، خو امریکا د سپټمبر پېښو دومره ترهولې وه، چې ان د سپینې ماڼۍ مخې ته پر غځېدلي سړک یې هم ځینې وخت لوی موټر نه پرېښودل، او ځینې وخت یې د واشنګټن مهمو ځایونو پر اسمان د چورلکو د چورلېدو بندیز هم لګولی و، ځو ځلې یې الوتنې بندې کړې، د ځینو وزارتونو او حکومتي بنسټونو کارکوونکو ته یې د زهرجنو موادو د خپراوي د مخنیوي پخاطر له ودانیو د وتلو امر وکړ.

د امریکا (پاټریوټ اکټ) د یوه داسې قانون په توګه رامخې ته شو چې امنیتي بنسټونو ته یې پر مخابراتي شبکو او انټرنېټ د مستقیمې مداخلې حق ورکړ او دا چې له محاکمې پرته نیونې هم کولی او پوځي محاکمې جوړولی شي. د ۲۰۰۲ جولای کې د امریکا د ملاتړ ستراتیژۍ سل مخه متن د کورني امنیت د وزارت جوړېدو ته لار هواره کړه او ولسمشر ته یې لا نور صلاحیتونه ورکړل، د مجرمینو د تبادلې لپاره یې نوي قوانین وضع کړل او سربېر پردې داسې نور پټ قوانین هم جوړ شول، چې لاهم ځوک پرې خبر نه دي.

د همدغې ستراتیژۍ پر اساس له مختلفو جنسیتونو د هغو ۲۵ کسانو د وژنو امر جورج بوش لاسلیک کړ، چې له القاعدې سره د اړیکو شک وربانديې شوی و، چې په وژنو کې یې استخبارات هېڅ راز اجازې ته اړتیا نه لري، او نه هم د هغه حکومت هوکړه ضروري ده، چې دغه غږي پکې موندل کېدای شي او ترور کول(وژل) یې ممکن وي. که ځه هم دغه پرېکړه د  وژنو د قانون ښکاره سرغړاوی و، خو دغه قانون پخپله وضاحت غواړي او د استثناء په بڼه جوړ شوی.

کله چې د امریکا متحدو ایالتونو کې د بشري حقونو د سرغړونې او یا له افغانستانه د امریکایانو په لاس د تښتونو او نیونو، په ګوانتانامو زندان کې له محاکمې پرته د بندیانو د ساتلو  او دوی ته د هېڅ راز قانوني دفاع حق نه ورکول او ... خبره کېږي، د امریکا د عدلیې وزارت یې ځواب په دغو ټکو کړی، چې ((دا خو جګړه ییز حالت دی!!)).

د امریکا پر ښکاره سرغړونو او په بندرونو او هوایي ډګرونو کې پر استثنایي اجرآتو سربېره، هر امریکایی باید تر څارنې لاندې وي، دغې موخې ته د رسېدو لپاره د امریکا د دفاع وزارت د څېړنیزو پروژو د ادارې په سلامشوره د معلوماتو د راغونډولو یو مرکز جوړ شو، د دغه مرکز دنده په نړۍ کې د معلوماتو د یوه داسې لوی بانک جوړول و،

چې د وګړو اړوند معلومات په کمپیوټرونو کې وساتل شي، دوی خپل امریکایي کارتونه څرنګه کاروي، څه لولي، کتابتونونه دوی ته څه شی وړاندې کوي او کوم کسان کتابونه د لوستلو لپاره استعاره یا په پور اخلي!

تر دې لا جالبه یې دا ده، چې د ۲۰۰۲ جولای کې د امریکا عدلیې وزارت پر انټرنېټ هغه اسناد خپاره کړل، چې له مخې یې جاسوسي اعمالو ته د امریکا ادارې د ۱۱ میلیون امریکایي وګړو د ګومارلو هوډ ښوولی و، یعنې په هرو څلورو امریکایانو کې باید یو امریکایی جاسوس یا داسې کس وي چې څارګرو ادارو ته د شکمنو کړنو راپور ورکړي، د دغه پلان له مخې په لومړي پړاو کې د لاریو چلوونکو، پوست بکس کارکوونکو، اورګاډو کې د کارکوونکو او د طبیعي ګاز او برېښنا سکتورونو مسلکي کسانو کې یو میلیون پټ استخباراتي کسان د هغو ترهګریز شکمنو اعمالو په اړه د راپور ورکولو لپاره وګومارل شول، چې د یوې مخصوصې تیلېفوني کرښې په مټ خپلې ادارې ته ژر خبر ورکړي.

خو عام امریکایان تل د خپل امنیت او د خپل سر د خوندیتوب لپاره هیله من دي، د ۲۰۰۲ د اکتوبر میاشتې یوې نظر پوښتنې په ډاګه کړې وه، چې د سپتمبر تر پېښو وروسته، امریکایان بهرني سیاست ته ډېر اهمیت ورکوي، خو ۹۱ سلنې پوښتل شویو امریکایانو نړیواله ترهګري ځانته لومړی درجه خطر باله، خو ۸٦ فیصده نورو بیا د ډله ییزو وژنو له وسلو –په تېره بیا له عراق- وېره لرله، ٦٦ سلنې امریکایانو د وژلو سیاست غوره بللی و، خو تر ۸۰ سلنې ډېرو نورو بیا د وسلو او زور کارول غوره بللي وو او درې پر څلور امریکایانو پر عراق برید معقوله لار بللې وه.

د بوش ادارې لا له وړاندې پر عراق د برید لپاره د امریکایانو نظر معلوم کړی و، خو عراق کې یې د ډله ییزې وژنو د وسلو خبره پای پاک دروغ وختله، خو د جګړې بار او لګښت بیا هم په بلا شعوري ډول د هر امریکایي وګړي د اوږې پېټی شو، امریکا د دفاع وزارت له لارې مالیې ډېرې کړې، ځکه چې بهر کې جګړه ډېر لګښتونه غواړي، د پوځي جګړې ترڅنګ باید د رسنیو د خپلولو لپاره هم رسنیو ته پیسې ورکړل شي، امریکا دا کار هم وکړ، ځینو معتبرو ورځپاڼو ته یې پیسې ورکړې، په همدې آن کې په کانګریس کې د فدرالي تحقیقاتو د دفتر له خوا د ۱۷ هغو وکیلانو د تیلېفوني مکالمو د سپارلو غوښتنه وشوه، چې په کانګریس کې یې د سپتمبر د ۱۱ د پېښو مخنیوي کې د امنیتي بنسټونو د ناغیرۍ په اړه تحقیقات کړي وو.

دا یوه بې سارې غوښتنه وه، خو تر شا یې داسې خطرناک معلومات افشا شول، چې ملي امنیت د نیویارک پر نړیوال سوداګریز مرکز  او دفاع وزارت (پنتاګان) ودانۍ د الوتکو تر جنګولو یوه ورځ وروسته په عربي ژبه دوه پیغامونه ترلاسه کړل چې پکې لیکل شوي وو ((سبالی پیلېدونکې دي)) او ((سبا د صفر ساعت دی)).

استخباراتو دغه دواړه ثبت شوي پيغامونه ترلاسه کړل، خو په شفر يې ځان پوی کړ. هدف دا نه و چې د کانګريس غړي د غير معمول امنيتي اجرآتو له اړخه راضي کړي، بلکې د تقصير او ناغيړۍ خبره مطرح وه، چې ګڼو نورو ګواهيو هم دا خبره تاييدوله، همدا وو چې د طالبانو د واکمنۍ د بهرنيو چارو وزير مولوي وکيل احمد متوکل د خپل مرستيال په ژبه ووېل چې اسامه بن لادن د امريکا پرضد د لا ډېر لوی بريد تابيا لري. دغه ګواښونه د سپتمبر تر پېښو څو اونۍ مخکې د ۲۰۰۱ په جولای کې ډاګيزه شول، چې د متوکل د مرستيال په مټ واشنګټن او ملګرو ملتونو ته ورسول شول، خو هېچا هم پر دغه پيغام باک رانه وړ.

*********************************

تر سپتمبر وروسته د امريکا ډرامه لا توده شوه، د ترهګرۍ ضد نړيوال ايتلاف لا پراخه شو، خو پر عراق د امريکايي يرغل لپاره د ايتلافيانو د پښو غړي ورو-ورو وتښتېدل، يوازې برتانيا ورسره ودرېده، هغه هم په دروغو د برتانويانو تېر ايستلو په چم، عام امريکايي وګړي هم پوهېدل، چې د ترهګرۍ ضد جګړه به کلونه اخلي، خو د امريکا او نړيوال ايتلاف د دښمنانو (القاعدې او سخت دريځو) او د ترهګرۍ په تور د شکمنو ذهن کې څه ګرځېدل؟ دا يوه بېله موضوع ده.

# دویم څپرکی

# هو... نړیواله جګړه

ځينې وخت مونږ بندر نه وينو، خو هغه بېړۍ وينو، چې سترګې يې په ليدو کې نه تېروځي.. کله مونږ د سمندر مستې ځپې وينو، خو په دې نه پوهېږو چې د بېړۍ لپاره به ګټورې وي او که ناوريني. د ترهګرۍ پرضد د امريکا د نړيوالې جګړې هم ټيک همداسې مثال دی، چې زما په ګومان به ډېر ژر يا وروسته يو بل نوم غوره کړي (نړيواله جګړه) او يا (درېيمه نړيواله جګړه).

واشنګټن په ۲۰۰۱ کال د ترهګرۍ ضد جګړې شعار ورکړ، مونږ هېڅ فکر نه کاوه، چې ګني د يوې نړيوالې جګړې پر لوري سَوق کېږو، نو توا د نړۍ لوی قوتونه به له يو بل سره ټکر ونه کړي، او د يو او بل پرضد به د نورو د ځمکو لاندې کولو لپاره خپلې سوق الجيشۍ ته مخه نه کړي لکه څرنګه چې په لومړۍ او دويمه نړيوالو جګړو کې داسې وشول؟ نو د دې مفهوم له مخې به ايا دا جګړه نه وي، چې يو لوری يې هغه ډلې او افراد دي، چې له وېرې سر نه شي راپورته کولی او وسلې هم نه لري، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د راپور له مخې، ۳۳ تنظيمونه، چې د ځينو د ټول ټال غړو شمېر تر سلګونو نه اوړي، د ناټو سلګونه زره لښکرو پروړاندې جنګېږي، د امريکا باندينيو چارو وزارت کې د ترهګرۍ ضد فعاليتونو همغږی کوونکی فرانسيس ټايلر په دې نظر دی چې د ترهګرو په تنظيمونو کې د القاعدې شبکه ډېره پراخه ده، چې د غړو شمېر يې د لسو او دېرشو زرو ترمنځ اټکل شوی، ۱۶۰۰ غړي يې د ۲۰۰۲ تر نيمايي پورې نيول شوي، يو شمېر وژل شوي، ځينې نور تيک پرک شوي دي. دا جګړه به ولې نړيواله بلل کېږي، حال دا چې دغه شمېر کسان د هېڅ يوه هېواد د پوځ له شمېر سره برابر نه دي؟

په هر حال، زه وايم چې: ((هو.. زمونږ په مخ کې يوه نړيواله جګړه هم شته))، د جګړې موجوديت د يوه هدف، دښمن او د جګړې د وسايلو د موجوديت په معنا دی. د جګړې معنا دا هم ده چې هدف ته د رسېدو لپاره ټول سياسي، اقتصادي او پوځي زور وکارول شي، په دې معنا چې د يوه ولس په ارادې سره د حکومت ټول امکانات د يوه مشخص هدف لپاره کارول کېږي، که دغه هدف ظاهري وي او يا باطني.

شايد د پيلامو په اړه ډېر خلک د نظر اختلاف ولري، او دا دليل وړاندې کړي، چې ګني امريکا ته يو ډېر لوی خطر متوجه و، او ترهګرو هرځای امريکايي اهداف او بنسټونه په نښه کول، او که نظر دا وي چې ګردې نړۍ ته مخامخ خطر يوازې په شمالي امريکا کې د ۲۰۰۱ کال د ترهګرو پېښو له خطر سره برابر دی، او يا دا چې په لاتينه امريکا کې ۱۹۴ پېښې د نړۍ د نورو ترهګرو پېښو پرتله ډېرې خطرناکې دي، چې ۱۷۸ يې په کولمبيا کې د پټرولو د نل ليکو د الوځولو پېښې وې، چې د تېلو دغه پايپونه د امريکايي حکومت د شرکتونو په پيسو چلېدل؟ شايد امريکا د سپتمبر د ۱۱ د پېښو له اړخه، له پاکستان سره يوشان وي، ځکه چې پاکستان کې د جيش محمد نفوذ بيخي پراخ شوی، او چين چې تل پکې د بېلتون پالو غړونه راپورته کېږي.

د رواني جګړې د هدف په اړه هم هرڅوک بېل نظر لري، ايا رښتيا هم د رواني جګړې هدف هماغه د (ترهګرۍ) له منځه وړل دي چې واشنګټن يې په ډاګه کوي، او که تر دې هاخوا نور مقاصد پکې نغښتي دي؛ ځکه چې ترهګري وړاندې هم سيمه ييزه مساله وه او راتلونکې کې به هم دا ډول وي، او که د امريکا د لا پياوړتيا لپاره دا جګړه روانه ده، چې په لړ کې يې خپلو ستراتيژيکو اهدافو ته ځان ورسوي.

موږ ته د رواني جګړې د وروستي تمځي څرک نه لګېږي، خو دا ببړۍ په خوځښت کې وينو چې پر سر يې د (نړيوالتوب Globalization) بيرغ رپېږي. چې موږ وايو دا نړيواله جګړه ده، کوم دلايل او ثبوتونه ورته لرو؟

***************

د نړيوالې ترهګرۍ په اړه د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د ۲۰۰۲ مې کې د خپاره شوي کلني راپور د ترهګريزو چارو ضد همغږي کوونکی سفير فرانسيس اکس ټايلر د دې پوښتنې په ځواب کې چې: امريکا په کوم ډول جګړه کې ښکېله ده؟ وويل، د کار لپاره بېلابېلې طريقې شته: ديپلوماسي، استخباراتي لار، قانوني لار، اقتصادي لار او پوځي لار. د ديپلوماسۍ له لارې دغه ايتلاف د ملګرو ملتونو د ۱۳۷۲ شمېره فرمان پربنسټ وخوځېد چې له ټولو هېوادونو يې د ترهګريزو اعمالو د بندولو او د ترهګرو د تمويلوونکو سرچينو د له منځه وړلو او د هغوی د شتمنيو او پيسو د کنګلولو غوښتنه وکړه، او د امريکا له متحدو ايالتونو سره بايد د ترهګرۍ په تړاو هر راز معلومات شريک کړي او ترهګر په يوه خوندي ځای کې له راغونډېدو محروم کړي.

همداشان، د ترهګرۍ پرضد دوولس تړونونه هم وشول، چې د سپتمبر تر پېښو وروسته د امريکا متحده ايالتونه له دوو تړونونو سره يوځای شول، يو تړون دا و چې شکمن ترهګر به نيول کېږي، شړل کېږي او هېڅ هېواد ته به د ننوتلو اجازه نه ورکول کېږي، مالونه او شتمنۍ به يې کنګل کېږي.

همداشان، د ټايلر په وينا، داسې استخباراتي همکارۍ هم ډېرې شوې، چې ډېری عربي هېوادونو پکې ګډون وکړ. د مالي بنديز په ډګر کې د امريکا د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۲۳ له صادر شوي قانون سره ۱۵۰ هېوادونه او اداري هم يوځای شوې، چې د ۲۰۰۲ تر مې پورې يې شمېر ۱۹۸ ډلو، مؤسسو او افرادو ته ورسېد. ګڼو هېوادونو له امريکايي ليډلوري سره مطابق د ترهګرۍ د تمويل په اړه خپل قوانين بدل کړل، او خپل دا کار –ان که د فلسطيني شهيدانو له کورنيو سره د مرستې په نامه هم کېده- (ترهګرۍ ته د هڅولو) يو کوښښ وبلل شو.

خو تر ټولو مهم د دغه تړون پوځي اړخ و، چې د امريکايي راپور له مخې پکې:

- ۱۳٦ دولتونو له امريکا سره د پوځي مرستو غوښتنه وکړه.

- ۸۹ دولتونو د امریکا پوځي الوتکو ته پر خپل هوايي حریم د الوتنو اجازه ورکړه.
- ۲۳ دولتونو پر افغانستان د امریکايي یرغل لپاره د امریکا او ایتلافي ځواکونو کوربه توب ته غاړه کېښوده.
- ۵۵ هېوادونو په راتلونکې جګړه کې د امریکایي پوځ د تقویې ژمنې وکړې.
- 

په راپور کې داسې ټکي هم راغلي چې ((موږ په یمن، فلپین او ګرجستان کې له خپلو شریکانو سره د ترهګرۍ ضد مبارزې له قواوو سره په پوځي روزنه کې یوځای شوو)).

خو د راپور وروستۍ اشاره دا هم وه، چې ګني امریکا د اسیا په زړه پنځو هېوادونو کې د امریکایي شتون سربېره، (د جګړې له لارې د نړیوالتوب) خپرول له یوه ځایه بل ځای ته د جګړې د لمنې د غځولو په هېنداره کې وینو، او دا کار د (جګړې د نړیوال کېدو) په هدف کوو.

د جګړې لومړی پړاو لانه وو ختم شوی، چې دویم پړاو یې پیل شو، او په منځني ختیځ کې اساسي بدلونونه او اړدوړ پیل شو.

که ووایو شاید تېروتي به نه یو، چې د فلسطین قضیې د ترهګرۍ ضد جګړې تر سیوري لاندې بله بڼه غوره کړه، او د امریکا- اسراییلو د موافقې له مخې د ازادۍ ګوندونه او تنظیمونه هم ترهګر وبلل شول، او اسراییلو ته یې زرغونه اشاره ورکړه چې هرڅه کولی شي، پر فلسطین یې دې وکړي، ان که ټول فلسطینیان هم له تېغه تېر شي او فلسطیني خاوره کې دې په زور مېشت ځایونه جوړ کړي، ترڅو ټول فلسطین د اسراییلو تر قبضې لاندې راشي.

د عراق قضیه کې بیا ترهګریز فعالیت مطرح نه و، او د (نیوز ویک) د راپور په حواله د چک جمهوریت هغه کیسه هم بابیزه وګڼل شوه، چې وایي د عراق د یوه استخباراتي چارواکي او القاعدې شبکې تورن غړي محمد عطا ترمنځ اړیکه نیول شوې، او عطا د ۲۰۰۰ په جولای کې له پراګ وتلی، او د ۲۰۰۱ اپریل کې د سیاحت لپاره امریکا ته ننوتی دی.

د عراق ضد ترهګرۍ تور ثابت نه شو، بیا هلته د ډله ییزې وژنې بابولالې وغږول شوې، بالاخره د صدام نظام ړنګ شو، د امریکایي ځواکونو په پوځي حضور سره دوی وکړای شول، چې له قزوین عراق او خلیج ته د تېلو کنټرول ترلاسه کړي. کله چې پر عراق برید پیل شو، په مسکو کې داسې انګیرنې وې چې د امریکا راتلونکی ښکار به: ایران، سوریه او لیبیا وي. همدا وو چې د ۲۰۰۲ په اوړي کې خبري رسنیو په جیبوتي کې د پوځي هدفمند حضور خبرونه ورکړل، چې له دې ځایه په یمن او د افریقا په ختیځ کې لاښه فعالیت وکړای شي.

که څه هم د ۲۰۰ په اوږدو او د ۲۰۰۳ لومړیو کې پر عراق د برید پرمهال د تمو خلاف کار وشو، خو حقایقو وښوده، چې پر ځینو هوایي حریمونو به پوځي تېری کېدونکی وي، او ځینې نورې کړې د مخامخ او نېغ یرغل لپاره تیارسۍ شوې. واشنګټن په لومړي سر کې د صدام حسین د راپرځولو او د عراقي نظام د بدلولو لومړیتوب درلود، خو ظاهراً به یې ویل، چې ((عراق کې د ډله ییزې وژنې وسلې دي)).

که چېرې د جګړې دغه پېر ته د نړیوالې جګړې د دویم پړاو د پیلامې او د ترهګرو پرضد مبارزې په سترګه وکتل شي، نو د واشنګټن سیاسي فضا او اړوندو رپوټونو لاندې ټکو ته څرګندې اشارې کولې. سفیر ټایلر د ۲۰۰۲ کال د یوه راپور په حواله په یوه خبري غونډه کې وپوښتل شو، چې ایا څومره عربي هېوادونه د ترهګرۍ ضد جګړه کې ښکېل دي؟ چې نوموړي په دغو ټکو ځواب ورکړ:

- ((سودان کې د القاعدې غړي شته، خو اوس سودان د امریکا له متحدو ایالتونو سره دی او ځینې عناصر یې تسلیم کړي هم دي)). بیا د امریکا استخباراتو لیبیا، سوریه او سودان د ډله ییزې وژنې د وسلو ترلاسه کولو په هڅو تورن کړل، لیبیا تر ځمکې لاندې په اټومي هڅو تورنه وه، او پر سوریه د کیمیاوي وسلو د ودې تور و، خو سودان ته د کیمیاوي او تر یوه حده بیولوژیکي وسلو د تولید توان لرلو د تور ګوته نیول کېده.
- د ۲۰۰۲ مې میاشت کې جوړې شوې خبري غونډې ته راستنېږو، چې ټایلر د لیبیا په باب پکې ویلي وو: ((لیبیا پوهېږي چې موږ څه غواړو. دې پوښتنې ته د امنیت شورا ښه ځواب ویلی شي، چې د لاکربي بندیانو قربانۍ څرنګه جبیره شي، او رسماً د ترهګرۍ غندلو اعلان وشي، او د حکومت کوونکو د کړنو مسؤولیت ومنل شي... تر دې ټولو وړاندې د راتلونکې په اړه خبرې نه شته)).
- زیاتوي: ((سوریه مو خبره کړې موږ د ترهګرو پالونکو حکومتونو سره څرنګه چلند کوو. لبنان بیا حزب الله د ازادۍ مخکښان بولي، خو موږ یې ترهګر بولو، خو حماس او حزب الله ډلو ویلي چې پر امریکایي اهدافو بریدونه نه کوي)).
- ټایلر سعودي عربستان ته په اشارې سره وویل چې ځینې (وګړي) یې د القاعدې لپاره خیراتونه راټولوي، او اوس د ((ځانمرګو برید کوونکو)) کورنیو ته خیراتونه راغونډوي، چې دا ټول د ترهګرۍ په ودې او هڅونه کې اغېزمن پرېوځي. له سعودي سره زموږ ټول اړیکي پر همدې راڅرخېدل. د عراق په اړه هم دا قضیه ده، چې د هر استشهادي کورنۍ ته د ۱۰ او ۲۵ زرو ډالرو ترمنځ خیرات ورکول کېږي (چې دا ټول د منځني ختیځ له سولې سره مرسته نه کوي).

همداشان، د امریکا د لومړیتوبونو جدول کې ګڼ نور عربي هېوادونه هم شته، چې د عراق تر جګړې وروسته یې د خپلو عملیاتو هدف ګرځولي.

پاتې د لاتینې او منځنۍ امریکا رول شو، چې د متحده ایالاتو پرضد عملیاتو ډېر شاهدان دي، چې زما په گومان دا د جگړې درېیم پړاو گڼل کېدی شي؛ ځکه چې هلته په ۲۰۰۱ کال کې ۴۲٦ ترهگرې پېښې وشوې، او په لاتینه امریکا کې بیا د دغو پېښو شمېر ۱۹۴ و، سربېره پردې په کولمبیا کې د وسله وال پاڅون ځواکونو، د ازادۍ ملي پوځ، د خپلواکو متحدو قوتونو ځواک په څېر گڼ کیڼ اړخي او قومي خوځښتونه او تنظیمونه امریکا خپل اصلي دوښمن بولي. دغه قاره د خپ او ترپ جگړې ترمنځ ده، ان د کیوبا کاسترو هم له تورونو نه دی خلاص شوی، چې ټایلر یې په اړه داسې وایي: هغه د سپتمبر د ۱۱ پېښه نه مني، خو د پاڅون د یوې وسیلې په توگه ترهگري نه غندي، همداشان هغه پخپل هېواد کې د دوو ترهگرو ډلو شتون ته اجازه ورکړې ده، او له اویایمې او اتیایمې لسیزو راهیسې کیوبا کې هغه اته امریکایان شته چې په ترهگرۍ کې ښکېل شوي دي.

## خو، ایا واشنگټن له ټولې نړۍ سره جنگېږي؟

ښکاره خبره ده، چې د هر حالت لپاره بېلابېلې حل لارې شته، خو دا هم روښانه ده، چې د افغانستان په اړه د واشنگټن له خوا جوړ شوی ایتلاف بیا نه تکرارېږي، که څه هم د بیا تکرارېدو هڅې یې رواني دي، دلته د امریکایي پوځي قوت څرگندیږي چې د ودې لپاره یې د (سپتمبر) تر پېښو څو میاشتې مخکې پلان هم درلود، همداشان، هغه د ټکنالوژۍ هغه پرمختیاوې، چې کوچني هېوادونه یې د وژونکو وسلو څښتنان کړل، د امریکایي وسلو د لا عصري کېدو لامل شو، چې امریکا خپل ځان ته په کې د تکتیکي اټومي وسلو حق ورکړی، د بېلگې په توگه د نورو د نه همکارۍ په صورت کې له یوې قارې بلې قارې ته الوتنې ولرلی شي. په لنډو ویلی شم دا پر یوې داسې مفکورې ولاړه تگلاره ده، چې وایي (پوځ اجازه نه اخلي).

خو تمویلول یې چمتو دي، کله چې بوش واک ته ورسېد، د مالیې له ورکوونکو یې وغوښتل چې په بودیجه کې خپله ونډه ډېره کړي، خو ان د کلنټن پر کړنو هم مخکې سختې نیوکې وې، چې گني پوځي بودیجه دې له دې اړخه راټیټه شي، چې په وینا یې سړه جگړه ختمه شوې ده او د یوه لوی پوځ ساتلو ته اړتیا نه شته. بوش دغه معادله سرچپه کړه، او د دفاع وزیر یې له نورو جنرالانو سره د کلنټن د کړنو برعکس کړنو پلویان وو. د لومړیو شمېرو له مخې، پر عراق د امریکایي یرغل او جگړې د لگښت کچه د سل او دوو سوو میلیاردو ډالرو ترمنځ اټکل شوې وه، چې د اتو کلونو جگړې دغه لگښت تقریباً د ایران او عراق د وسله والو ځواکونو له ټول ټال لگښت سره برابر و. خو امریکایانو دا هیله لرله که چېرې د عراق جگړه وگټي د تېلو کنټرول به خپل کړي او د یوه بیلر تېلو بیه به ۱۲ ډالرو ته راولوېږي، چې د ټولو لگول شویو میلیادونو ډالرو جبران به پوره شي.

نو ایا دا ټول څه په نړیوالې جگړې نه ارزي؟

جگړه عملاً پیل شوې ده، چې له یوې قارې بلې ته لېږدي!

# درېيم څپرکی

# د سپتمبر یاد

د (سپتمبر) یاد عربو ته د جمال عبدالناصر تګ، د یمن پاڅون، او د مصر او سوریې ترمنځ جلاوالی ور په یادوي، خو د امریکایانو لپاره د (سپتمبر) یاد باید یوبل داسې څه وي، چې په ۱۱ شمېره پیلېږي، چې په لړ کې یې د سوداګرۍ نړیوال مرکز او د پنتاګان ودانۍ نړېږي. ټیک د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر پر ۱۱مه، یوې داسې پېښې امریکا ویښه کړه، چې هېچا یې هم تصور نه شو کولی، او ان تر پېښې څو میاشتې وروسته هم –یعنې د ۲۰۰۲ نیمایي کې- د امریکا اداري لاهم د ویجاړو شویو ودانیو کنډوالې لا نه وې سمې کړې، او د قربانیانو په شمېر کې یې هم شکمنه وه.

د پېښې په یو کال تېرېدو نوې پوښتنې رامخې ته شوې: څه وشول؟ دا د چا کار و؟ او ایا د امریکا غبرګون یوه بېله بڼه غوره کړه، په تېره بیا د هغو شاوخوا ۳۳ تورنو ډلو پر وړاندې د مبارزې لپاره امریکا ته څه کول پکار دي، چې د ځینو غړي ان سلګونو کسانو ته هم نه رسېږي، دا خو لا پرېږده، چې وسلې یې له یوه لاسي بم سره هم نه دي برابرې؟

شاید یولړ شمېرې ځینې دغه پوښتنې ځواب کړي، لاتینه امریکا په وروستیو کلونو کې د ترهګریزو پېښو تر ټولو ډېره شاهده وه، چې د پېښو عاملین هم کیڼ اړخي سیاسي اهداف لرونکې ډلې وې، همداشان، د تېښتونو پېښې د پیسو ترلاسه کولو په مقابل کې ترسره کېدې.

خو د امریکا د بهرنیو چارو د ۲۰۰۱ کال د راپور له مخې، دواړې امریکاګانې د ترهګرۍ پروړاندې سره یو شوې، هغه که پر افغانستان د یرغل لپاره و، یا پر عراق د برید لپاره. خو د نړیوالې جګړې پیلامه له افغانستانه وشوه. په ۲۰۰۱ کال د ترهګریزو پېښو کچه ډېره لوړه شوه، چې ترې د مخکې کال په پرتله نهه برابره لوړه وه، په دې معنا چې د سپتمبر د ۱۱ پېښو کې د درو زرو قربانیانو په ګډون د ۲۰۰۱ کال د وژل شویو له ۴۰۹ څخه ۳۵۴۷ ته وختوت، او تر ټولو ډېر زیان د امریکا متحدو ایالتونو ته ورسېد.

همداشان، په همدې کال کې، د ترهګریزو بریدونو شمېر ۳۴۸ ته ورسېد، چې ۱۹۴ یې لاتینه امریکا کې وو. په دویم کتار کې اسیا کې ٦٨ ترهګریز بریدونه وو، بیا افریقا کې ۳۳ تروریستي حملې وې، منځنی ختیځ کې ۲۹، او اروپا چې د ترهګرۍ له ضد جګړې سره ملګرې شوې وه، د ۱۲ میاشتو په اوږدو کې پکې یوازې ۱۷ پېښې وشوې.
دغه شمېرې دا په ډاګه کوي، چې امریکا د سپتمبر د ۱۱ له پېښې وروسته ''لېوه دی... لېوه دی!'' نارې ووهلې، او نړۍ یې هم ترشا په بلاشعوري ډول د ''لېوه دی... لېوه دی!'' چیغې تکرار کړې، ایا رښتیا هم یو داسې لېوه شته چې نړۍ ته ریښتینی ګواښ وي، او که د ترهګرۍ ضد جګړه یوه امریکایي جګړه ده، چې یوازې د دې مفکورې له منځه وړلو لپاره پیل شوې، چې ولې نړۍ له امریکا کرکه کوي؟

د ترهګرۍ په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت وروستی راپور ـ چې بیا وروسته تر خپلې نېټې ټیک یوه میاشت وروسته خپور شو۔ وایي زموږ په مخ کې یوه داسې امریکایي جګړه ده،چې تمویل او مسؤولیت به یې موږ پرغاړه اخلو.

د دغه راپور پر اساس، په ۲۰۰۱ کال کې ترهګریزې پېښې لږ وې، په دې معنا چې په یاد شوي کال ایله ۴۲٦ ترهګریزې پېښې یا بریدونه وشول، خو په دا بل ۲۰۰۲ کال بیا د دغو پېښو شمېر ۳۴۸ ته راټیټ شو.

دا به ومنو چې د امریکا پر نړیوال سوداګریز مرکز د برید د قربانیانو شمېر ډېر و، خو د یوې مقایسې له مخې، دا شمېر د اروپا په غربي برخو کې یوازې شل سلنه و، او لاتینه امریکا کې شپږ او په منځني ختیځکې بیا د ترهګریزو پېښو شمېر ۵۱۳ او په اسیا کې ٦۵۱ و.

له دې معلومېږي چې ګني د دغو ټولو بریدونو اصلي هدف د امریکا متحده ایالتونه او یا هغه هېوادونه وو چې په هره مشروع او نامشروع جګړه کې یې د امریکا ملا تړلې ده، لکه اسرائیل.. بیا.. په اسیایي هېوادونه کې د پېښو هدف ته په کتلو سره، دا حقیقت هېڅ بدل نه شو، چې ګني په بریدونو کې لومړیتوب د امریکا متحده ایالتونه دي.

د نیویارک بریدونو ته دا توجیه پیدا شوه، چې ګني په دغه برید کې د ۷۸ هېوادونو وګړي ووژل شول، خو د امریکایي سفیر فرانسیس ټایلور د څرګندونو پربنسټ، د برید په تعقیب د القاعدې د شکمنو نیولو شویو غړو او مشرانو شمېر په ۲۰۰۱ کال یو زر شپږ سوه کسانو ته ورسېد، چې د نړۍ په ۹۵ هېوادونو کې نیول شوي وو.

خو پوښتنه دا ده چې دا بدلون څرنګه راغی؟.. او نړۍ ولې یو په یو د ترهګرۍ خوا ته پام واړاوه که څه هم ځینې هېوادونو له ترهګرۍ هېڅترهه نه لرله؟!

څرنګه نژدې ټوله نړۍ ـ یا ډېره برخه ـ پر دې سلا شوه چې هر ډول سیاسي تاوتریخوالی مردود دی، او هر مردود تاوتریخوالی له هغه شان دوزخ سره مخامخېږي، چې امریکا یې جوړول غواړي او نور هېوادونه یې ملاتړ کوي، هغه که د قانون په چوکاټ کې وي او یا له قانونه بهر، د دیپلوماسۍ له لارې وي او یا د اقتصادي او مالي بندیز له طریقه، د سرحدونو په تړلو یا د دیني مدارسو په بندولو، او یا د واشنګټن په اشارې د مازې شکمنو کسانو په نیولو سره؟!

دا سمه ده چې په نړۍ کې د تاوتریخوالي څپې وې، خو د کلونو په اوږدو کې هر هېواد او هر حکومت بېل چلند ورسره کړی، او د نړیوالې ترهګرۍ پرضد ځینو هېوادونو موافقت لیکونه هم لاسلیک کړي، په تېره بیا د داسې تروریزم پرضد چې پوله او هېواد نه پېژني.

دا به هم سم وګڼو چې ګېډاسې هېوادونه هم زیانمن شوي، چې هېڅ ګناه یې نه لرله، لکه الجزایر او یا مصر. دا هم سمه ده کله چې د سپتمبر پېښو امریکا ولړزوله، د تاوتریخوالي لاملونه ناګاره وګڼل شول، او د یولړ هغو سیاسي خوځښتونو پرضد د نړیوالې دسیسې په څېر د یولاس کېدو موافقې وشوې، چې د ازادۍ ګټلو او توکم پالنې ضد مبارزو له لارې یې له استعماري نظامونو خپلې غاړې خلاصولې. د امریکا هغه تور لست چې تر ځلوېښتو ډېر تنظیمونه پکې شامل دي، که ټول نه وي، زیاتره د نړۍ هغه حرکتونه او خوځښتونه پکې شامل دي، چې د ازادۍ چیغې وهي، چې په لومړي سر کې یې د فلسطین او  لبنان تنظیمونه راځي، او یا جلا غوښتونکي وي لکه د اسپانیا پاسک او د فلپین مورو ډلې.. خو په دغه لست کې ددغو ډلو د ترهګرو ګڼلو لپاره د پټ راز ټکی دا دی چې ګني: دغه تنظیمونه د امریکا دوښمنان دي، او امریکا دا دلیل هم وایي، چې د دغو ترهګرو او د امریکا ضد تنظیمونو اصلي مرجع د القاعدې شبکه ده، چې په دې شبکه کې د واشنګټن په ګومان د اسلامي نړۍ او منځني ختیځ تر ۹۵ د ډېرو هېوادونو وګړي او یا پخپله هېوادونه شکېل دي.

د امریکا دغه دلیل مشکوک دی، خو د ((۲۰۰۱ کال نړۍ کې ترهګري)) راپور چې د ۲۰۰۲ په مې میاشت کې خپور شو، د واشنګټن دا څرګندونې د یوه منل شوي حقیقت په بڼه یادوي، خو امریکایی سفیر ټایلور پخپله خبري ناسته کې د القاعدې شبکې د نیول شویو غړو د برخلیک په اړه له پوښتنې په ځنګ تېرېږي او یا هېڅ ځواب نه ورکوي، ایا د دوی محاکمه کېدل به څرنګه وي.

واشنګټن ځان ته مشخص دوښمن او یا دښمنان په نښه کړي، چې په سر کې یې د القاعدې شبکه راځي چې د امریکایي راپور په ګومان دغه شبکه ((د بېرته ځان جوړونې په هڅه کې ده او د خپل فعالیت پراختیا ته پلانونه جوړوي))، خو د هغو هېوادونو دوښمنان څوک دي چې په دې جګړه کې یې ګډون کړی خو د ترهګرۍ هېڅ پېښه پکې نه ده رامنځ ته شوې؟.. د فرانسې، ایټالیا، کاناډا او جرمني دوښمنان څوک دي؟!

تر لمر ښکاره خبره ده چې دا ((لامعقوله)) جګړه ده، چې امریکا پیل کړې، پر نورو یې تپلې او د تورې په زور یې نور له ځانه سره درولي، او یا یې د ((استخباراتي)) همکاریو په پلمه خپل ملاتړ ته اړایستلي، یا دا چې ګني د هغوی پرضد ترهګر یې نیولي، ان تر دې چې هر (مسلمان) یې په نظر شکمن ورغلی، د خپل زندان تیارو ته یې ور ټېل وهلی

دی، دا خو لا پرېږده چې د اسلامي خیریه ټولنو فعالیتونه یې په یوه او بله پلمه بند کړي او چلوونکي یا مشران یې نیولي او شتمنۍ یې کنګل کړې دي.

خو د جګړې وروستۍ وسله او هدف د ذهن بدلول دي.. په تېره بیا په عربي نړۍ کې، دا بدلون که د تعلیم له لارې وي یا د رسنیو په مټ، امریکا یوازې ((د یوه داسې نوي اسلام رامنځ ته کېدل غواړي چې تاوتریخوالی وغندي او د امریکا هر امر ته غاړه کښېږدي)).

خو، که چېرې د ډېری اسلامي هېوادونو په څېر زیاتره مات وزري عربي هېوادونه هم د امریکا له زور او زر سره مخامخ دي، نو ایا د امریکا د جګړې دا وسیله به لوېدیځه اروپا، روسیه، هند او پاکستان کې هم کارنده وي، ځکه چې دغو ټولو هېوادونو د امریکایي حملو ملاتړ کړی؟..او یا دغه ټول هېوادونه ـ یا ډېری یې ـ تر دې شعار لاندې راټولېدل غواړي چې ((هغه سخت دریځي مسلمانان چې د لوېدیځ کلتور له منځه وړل غواړي... د ګردې نړۍ د تمدن نابودول هم غواړي؟! ))

په داسې حال کې چې روسیه له چیچنیا سره لاس او ګرېوان ده، یا فلپین د اسلامي بغاوت له ډلو سره ښکېل دی، یا پاکستان پخپله لمن کې د پوځ د واکمنۍ او اسلامي سرټمبه سخت دریځو مرګونو ګواښونو ترمنځ راګیر شوی، له دې ببرۍ به ځان سمندر ته وغورځوي، چې ګني د (طالبانو) له همکارۍ یې لاس واخیست..؟

خو په اروپا کې بیا حالت بل ډول دی، هلته د لوېدیځ ایتلاف او د راتلونکي مسأله مطرح ده، ان که چېرې د دوی ترمنځ اختلاف هم وي، لکه د فرانسې او امریکا ترمنځ‌چې د حزب الله ډلې او د عراق په باب دریځ‌کې اختلاف دی.

د امریکایي راپور په غور لوستل ډېر اړین دي، او د هغو پېښو بیا ځلې لوستل هم اهمیت لري، چې موږ د واشنګټن پر وړاندې یوه نړیوال پاڅون ته رابولي، خو دا هم سمه ده چې واشنګټن کې ((لېوه لېوه دی!)) خو پاریس، اروپا بیروت، قاهره او کابل کې دغه لېوه بل ډول دی.

واشنګټن په روانه جګړه کې له هر ډول پروپاګندې ګټه اخیستې او د ذهنونو مینځلو او ډیپلوماتیک فشار په لار کې یې هر راز هڅه کړې ده، دا ټول د دې لپاره چې ګني په یوه لویه او دوامداره جګړه کې یې ځان ښکېل کړی دی، بیا یې داسې شمېرې خپرې کړې چې ټولې نړۍ ورسره منلې دي، خو که چېرې د امریکا لاسپیکر او هغه

وسایل چې ګټه ترې اخلي، له صحنې لیرې کړو، هېڅ به ورپاتې نه شي، او یا دا چې له القاعدې شبکې یې یوه نړیواله هیولا جوړه کړې.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت راپور مهم دی، باید په غور ولوستل شي، او د تورو او کرښو ترشا ستونزې وشاربل شي، خو ایا د امریکا لوري ترهګري رښتیا هم د نړۍ له نورو ستونزو ډېر لومړیتوب لري، په تېره بیا د بې وزلۍ او بې کارۍ نړیوالې ستونزې، چې د شمال او جنوب ترمنځ د ځمکې او اسمان ترمنځ واټن دی؟ خو تر دې یوه خطرناکه بله پوښتنه مخې ته راځي،کوم څیز نړۍ ته ډېر زیان ورساوه: ترهګرو ډلو.. او که د ترهګرۍ ضد امریکایي جګړې؟..
دا یوازې یوه پوښتنه ده.

# څلورم څپرکی

# د بحث وړ حالتونه

- اوتاوا: مرګ د امریکا لپاره؟
- سیډني: کم عقلي
- مسکو: د واشنګټن پرلار
- صنعاء: امریکایي الوتکه بمبار کوي
- ممباسا: له تاوتریخوالي پرته نور څه نه دي پاتې!

# اوتاوا او مرگ د امریکا لپاره
# د ترهگرۍ ضد ایتلاف راتلونکی

((موږ ولې د امریکا لپاره ومرو؟)).. دا پوښتنه د کاناډا، برتانیا او نورو هغو هېوادونو وګړي تل تکراروي، چې واشنګټن یې په روانه جګړه کې ((د ترهګرۍ پرضد جګړه کې خپل ایتلافي یاران)) بولي.
په وروستي ځل کاناډا کې وروسته تر هغه د خلکو نارې سورې پیل شوې، چې امریکایي ځواکونو په ۲۰۰۲ کال کندهار کې د کاناډا یو مرکز بمبار کړ، چې څلور کسان یې ووژل او اته نور ټپیان شول، همدا وو چې کاناډایانو خپل وژل شوي وګړي له خواشینۍ په یوې ډکې مظاهرې استقبال کړل؛ ځکه له تېرو پنځوسو کلونو راهیسې دا لومړی ځل و چې کاناډایي پوځیان له خپلې خاورې بهر وژل کېږي .. لومړی ځل یې د کوریا جګړه کې پوځیان وژل شوي وو. مړي کاناډا ته ورسول شول، خو یوې بورې مور چیغې کړې ((د امریکایانو په وکالت جګړه نه کوو. دا عدالت نه دی!)).خو پوښتل شویو کاناډایي وګړو ((له افغانستانه د کاناډایي ځواکونو وتل سم عمل بللی)). ۸۵ سلنه پوښتل شویو د وژل شویو او ټپیانو تعویض غوښت، حال دا چې د امریکایي قانون له مخې یوازې امریکایانو ته د تعویض حق ورکول کېږي!.

که څه هم امریکایي جرګې د پېښې عوامل بېلابېل وګڼل، او د هغه امریکایي پیلوټ د محاکمې غوښتنه یې وکړه، چې دغه بمباري یې کړې وه، خو لاهم دا پوښتنه پرخپل ځای پاتې شوه، چې د امریکا د نړیوالو ملګرو په مټ دغې جګړې نوې بڼه غوره کړې ده... او پر یوې ناپایه جګړې اوښتې چې هېڅ جغرافیوي بریدونه هم نه لري!

دا پوښتنه نه یوازې له کاناډا سره پیدا شوې، بلکې برتانیا کې هم ګڼو وګړو او ټولنو ټوني بلېر د واشنګټن په «ناروا جګړه» کې په ملاتړی تورنوي، ځکه چې هغه یوازېنی برتانوی چارواکی و چې د امریکا له پلان یې په ډاګه ملاتړ وکړ..یانې ظاهراً د ترهګرۍ پرضد جګړې هر راز ملاتړ یې وکړ، خو پایلو ته یې ذهن نه رسېده، او پر دې هم نه پوهېده، چې ایا دا د امریکا یوه نړیواله جګړه ده او که د امریکا خپله جګړه ده چې له یوه هېواده یې لمن په نوبتي ډول بل هېواد ته غځېږي.
پر همدې مهال، د جورج ډبلیو بوش لاهم هماغه بیرغ په لاس دی، چې د ۲۰۰۲ د مارچ پر ۱۱ یې نارې وهلې، چې «زموږ ایتلاف کې دې برکتي شي!».

ترې مخکې د هغه پلار (بوش) هم د دا ډول یو ایتلاف تجربه ترسره کړې وه، او پر خلیج یې د امریکا د تسلط خوبونه لیدلي وو، خو ډېر ژر یې ایتلاف دړې وړې شو، او له بهره یې هېواد ته د زرګونو جنازو په ورتګ سر خلاص شو.

د ۱۹۹۰ او ۱۹۹۱ کلونو کې د امریکا متحده ایالتونه د نژدې دېرشو هېوادونو د هڅو پر یوځای کولو وتوانېدل، څو نیم میلیون جنګیالیو ته د امر واګې یوازې د امریکا په لاس کې وې، بیا وروسته د پنتاګان (د امریکا دفاع وزارت) سندونو وښوده، چې د دغه ایتلاف مشري د امریکا په لاس کې ده، او نړیوال یې د بېلابېلو اهدافو لپاره دغه ایتلاف ته رابللي. له عملي کاره یې هم، همداسې برېښېده، د ایتلاف ونډې د جګړه مارو ځواکونو ترمنځ ووېشل شوې، لکه څرنګه چې برتانیا او ځینو عربي هېوادونو لکه مصر او سوریې چې دا کار پرغاړه واخیست، خو ځینو نورو هېوادونو ته بیا د مالي سرچینو برابرولو او مرستو چارې وسپارل شوې، لکه جاپان چې دې کار ته ملا وتړله، خو د هېواد له پولو بهر یې د خپلو ځواکونو جنګېدو ته زړه ښه نه کړ.

د امریکا یو هدف دا هم و چې له دې جګړې سره نړیوال ملاتړ دی، او تر شا یې ډېر هېوادونه ولاړ دی، دا چې دغه یوه سوچه عربي جګړه وه، اسرائیل له صحنې لیرې وساتل شول، خو سعودي عربستان ته ځکه له دې کبله ورکړل شوه، چې له خپل دریځه وخوځېږي، او مصر نور پوځیان واستوي او امریکایي ځواکونو ته د تېرېدا اجازه ورکړي، خو تر دې مهمه دا وه چې: دغو ټولو بدلونونو ته سیاسي جامه ورواغوستل شي.

جګړه پیل شوه، خو د وخت په تېرېدا او ه هېڅ مخکني رسمي اعلان پرته، دغه ایتلاف رنګ شو او د واشنګټن ترڅنګ په دې «ناروا جګړه» کې هېڅملګري او ملاتړي پاتې نه شول.

*********

په نوې جګړه کې، ټیک د سپتمبر د ۱۱ له پېښو وروسته، واشنګټن د مخکنۍ تجربې تکرارولو هڅه وکړه، او یوې داسې صعب العبوره او مجهولې خاورې ته یې د جګړې موزې کش کړې، چې مخکې یې مسکو خوله ماتوونکې ماتې خوړلې وه چې له کبله یې په ټوله نړۍ کې په شرمونو وشرمېده، چې همدغه هزیمت (ماتې) د پخواني شوروي اتحاد د درې ورې کېدو لامل شو.
د جګړې پیل کې (۲۰۰۱، اکتوبر ۲)، د ۲۷ هېوادونو له خوا پر خپله خاوره او هوایي حریم د واشنګټن د ټانکونو او الوتکو او چورلکو د چورلېدو حق ورکړل شو. همدا شان (د امریکایي څرګندونو له مخې) سلو هېوادونو د استخباراتي همکاریو او معلوماتو شریکولو موافقه وکړه..

په دې وخت کې یوه پوښتنه راپورته شوه چې: که چېرې د واشنګټن له لوري خپرېدونکي معلومات سم وخېژي، نو امریکا د دغو هېوادونو په یوځای کولو او ایتلاف جوړلو څرنګه وتوانېده؟.. ایا رښتیا هم ترهګري یو ریښتونی نړیوال خطر دی، چې پر وړاندې یې د نوي ایتلاف او بیا د ناټو غړو هېوادونو له خوا جګړه له افغانستانه پیل شوه..او بیا د

نړۍ نورو سیمو ته وغځېده؟.. او که د امریکا د فشار، نفوذ او ترهې له کبله ټولو ورسره د جګړې خبره ومنله؟ ایا دغه ایتلاف به ډېر وپایي او که د بېدیایي بړبوکۍ په څېر به خپل ځان وخوري او د امریکا «منفوره څېره» یا «داړونکی غاښ» به یوازې پاتې شي او پخپل سر چې هر ځای وغواړي، د ایتلاف د نورو غړو له موافقې، مشورې او ریښتوني ګډون پرته جګړه کولی شي؟

دغه ایتلاف په غیر طبیعي وضعیت کې جوړ شو، د ۱۱ پېښو د نړۍ امنیتي وضعیت بدل کړ.. که چېرې د امریکا متحده ایالتونه د دوو سمندرونو ترمنځ د اتوم بم له وېرې ځان خوندي نه احساسوي او د اتومي توغندیو ضد دېوالونه جوړوي، خو بیا هم د څلورو ملکي نا وسله والو الوتکو په مټ په ټول هېواد کې قیامت جوړېږي، نو پاتې نور اروپایي هېوادونه خو تر امریکا په ځان ساتنه کې ډېر وروسته پاتې دي!

وړاندې ترهګري په زیاترو حالاتو کې یوه سیمه ییزه ستونزه وه، او هر حکومت ورسره د خپلې پالیسۍ له مخې مبارزه کوله، خو د سپتمبر له ۱۱ وروسته، واشنګټن تر حده د ډېر خطر احساس وکړ، او هڅه یې دا وه چې له خپل ځانه د ترهګرۍ د ګواښونو د دفع کولو لپاره نړیوال هم په دې نړیواله جګړه کې له ځان سره ودروي..خو اروپا پخپل لوېدیځ دودیز ایتلاف کې په کور د ننه امریکا ته ایتلاف کې د ور ګډېدو د «نه» ځواب نه شوای ورکولی.. په اسیا او منځني ختیځ کې هم جګړو ځپلو هېوادونو هم ونه شوای کړای، چې دوی ته د تور نیول شوې ګوتې او پرې لګول شوي غلط تورونه له ځانه لیرې کړي.

خو د لږ وخت په تېرېدو اروپایي هېوادونه هم د جګړې پر ریښتینولۍ شکمن شول، په لندن کې حکومت په ناسم سیاست تورن شو،فرانسه کې هم د امریکایي ایتلاف د لاسنیوي پرضد نارې راپورته شوې، مسکو بیا پر ځینو اسیایي هېوادونو د هغوی پرخاوره د امریکایي لښکرو د تېرېدو اجازې ټېر وواهه، پاریس له واشنګټن سره عام او تام ملاتړ اعلان کړ، خو ځینو نورو هېوادونو د واشنګټن په مشرۍ د ترهګرۍ ضد جګړې دویم پړاو پیلېدو مخالفت وکړ، چې پیل یې پر عراق له بریده وشو، چې شاید دا جګړه به په پټو پاټو کې د فلسطینیانو او مسلمانانو پرضد د اسرائیلو له خوا د همدې رواني جګړې یوه برخه وه.

که څه هم هېوادونو د ملګرو ملتونو په ملاتړ دغه جګړه پیل کړه، خو نه یوازې یې په افغانستان کې ترهګري له منځه یو نه وړه، بلکې اورپکي لاپسې ډېره شوه، او د زرګونو بې ګناه وګړو وینې پکې وبهېدې ،او نه یې هم عراق کې د ډله ییزې وژنې وسلې وموندې، بلکې هلته یې د توکم پالنې تخم وشینده او د شیعه او سنیانو ترمنځ د جګړې ډګر یې هومره ګرم کړ، چې هره میاشت یې په اور کې له دواړو خواوو سلګونه کسان وژل کیږي، خو امریکا د خیر پر غونډۍ ورته کښېناسته او له عراقه یې پښې سپکې کړې.

همدارنگه،کله چې هېوادونو د ناټو او امریکا په ایتلاف کې د جګړې بیرغ پورته کړ، پر افغانستان د دوی د دغه اتحاد پوځي یرغل ته د استعمار او ښکېلاک په نظر وکتل شول، او چین له فرصته په ګټې اخیستلو پخپله سیمه کې د اسلامپالو په ځپلو پسې راواخیسته ،او د امریکا دا رضایت یې ترلاسه کړ، چې امریکایي بازارونو او بیا نړیوالو بازارونو ته خپل مالونه وړاندې کړي، خو د نړۍ په ډېری برخو کې د امریکا له حضوره د چین ښه نه راتلل او دا یې هم نه شوای زغملی چې په اسیایي اتوم لرونکو سیمو (چین، هند، پاکستان او روسیه) کې دې خپل ځان ته ځای پیدا کړي.

همداشان، مسکو هم له افغانانو د غچ اخیستو ته لېواله و، او یا شاید د اسلام پالو د حضور له پراخېدا یې وېره ډېره شوې وه، چې څرګنده بېلګه یې په چیچنیا کې د اسلام پالو فعالیتونه وو، خو پخپل ګاونډ کې د امریکایي حضور له ډېرېدا سره یې حساسیت له ورایه ښکاري.

ان ترکیه چې د واشنګټن یو ثابت ملګری ګڼل کیږي او نورو لوریو ته د امریکایي ځواکونو د خوځېدو مرکز ګڼل کیږي، د عراق پرضد له امریکایي یرغل سره مخالفه وه، خو ترې وړاندې پر افغانستان د امریکایي یرغل په ورځو کې یې څرګند مخالفت ونه کړ.

په عربي اړخ کې، د امریکا او د هغې د عرب ملګرو هېوادونو ترمنځ د خپلو ګټو په تړاو ښکاره اختلاف و.. عربي حکومتونو ته د هغو ډلو پرضد د امریکا ظالمانه کړنو ته په ښې سترګې نه کتل، چې واشنګټن د امریکا ضد ترهګر بللي وو او یا یې له اسرائیلو سره ښکاره دوښمني اعلان کړې وه، او د امریکا متحده ایالتونه د یو شمېر عربي رسمي او نا رسمي نظریو له اړخه، تر ډېره د اسرائیلو له لوري د ناروا کړنو او ناانساني اعمالو مسؤولیت لري. عربي نظامونو ته د امریکا له لوري د سخت دریځۍ او ترهګرو له منځه وړلو سیاست مهم و، خو د واشنګټن او عربي نړۍ اړیکي تر ډېره پېچلي دي، چې د یقین پرځای د سږي شک ډېروي.

واشنګټن په ډاګه ویلي وو چې د ترهګرۍ ضد جګړه یې لومړیتوب دی. د بهرني سیاست امریکایي سناتورانو په مخ کې د امریکا د ملي امنیت سلاکارې کانډولیزا رایس داسې ویلي وو چې: «د ترهګرۍ پرضد نړیوال ایتلاف کې همکاري اوس یو لړ کوچنیو اختلافونو ټکنۍ کړې ده». څارونکي وایي د بوش ادارې د ترهګرۍ ضد جګړه کې د نورې نړۍ په پرتله د اروپایي هېوادونو همکارۍ ته ډېر اهمیت ورکړی، او د منځني ختیځ، بلقان او افغانستان په تړاو یې د اقلیمي، امنیتي او سیاسي ستونزو په باب همکاري یوه فرعي موضوع ده، خو اروپا بیا واشنګټن ته دا ویل غواړي چې پر فلسطیني خاوره د اسرائیلي بریدونو ناروا کړنې له هر ډول قانون سرغړاوی دی.

***

په روانه جګړه او ایتلاف کې هر چا ته خپل لومړیتوب او نظر مهم دی، نو ایا د امریکا روانه جګړه رښتیا هم د ترهګرۍ ضد جګړه ده؟

کاناډا خو لا له وړاندې هغه مهال د دغې جګړې پر کیفیت شک ښوولی و، چې کندهار کې امریکایي ځواکونو کاناډایي پوځیان بمبار کړل، خو ترې وړاندې امریکایي چورلکو د افغان قبایلي مشرانو هغه کاروان بمبار کړ، چې د واشنګټن د خوښې سړي حامد کرزي د ولسمشر کېدو د خوښۍ محفل کې د ګډون لپاره کابل ته روان وو. له دې پرته چې دغه بریدونه تېروتنه او غفلت وګڼل شي، د کاناډا پوښتنه لاهم پرخپل ځای ده: «ولې نور د امریکا لپاره ځانونه وژني یا مري؟!». د ترهګرۍ ضد جګړه یو خالص امریکایي جنګ دی. که څه هم په نړۍ کې ډېرې ترهګرۍ پېښې کېږي، خو ډېره برخه یې د واشنګټن او امریکایي سیاستونو پرضد دي. ترهه اچوونکي که د هر هېواد وي د فرانسې، ایټالیا او جرمني اهداف نه په نښه کوي. بلکې د القاعدې شبکې په څېر ډلې تل د امریکا ناروا کړنې او بربریت په ډاګه کوي او فلسطین کې د اسرائیلو د وحشي کړنو سرچینه هم امریکا ګڼي.

د جګړې انګیزه..که هرڅه وي، دا امریکایي جګړه ده، نو ولې فرانسوی، کاناډایی او برتانوی پکې ووژل شي؟ د ۲۰۰۲ کال په اوړي او د ۲۰۰۳ په ژمي کې هم دا پوښتنه بې ځوابه پاتې شوه، چې د کوچني عراق پرضد دومره پراخې جګړې ته څه اړتیا وه، چې په لړ کې یې پر عراق د ښکېلو پوځي هېوادونو ګټې د امریکا دوښمنانو ته مباح وګرځېدې او په نښه کېدو ته یې عقلي او منطقي دلائل هم وموندل شول (همدا شان، که چېرې امریکا د ایران او کوریا پرضد جګړه وکړي، بیا هم د شرارت مثلث دی)

## سیډني،که کم عقلي

د هغې «وقایوي برید» نظریې مطابق چې امریکا یې مخته وړي، عربان باید سم لاسي د اسرائیلو ضد جګړه پیل کړي؛ ځکه چې اتوم بم یې ګواښونکی دی. ددغې نظریې د مصر پخوانی ولسمشر حسني مبارک باید د اتیوپیا او سودان پرضد جګړه وکړي؛ ځکه چې په ادیسه بابا کې یې د وژلو هڅه شوې او تورن یا له سودانه ورغلي او یا یې هلته پناه ورېې ده!

همداشان، که چېرې بغداد د یوه لوی پوځي برید توان لري، نو د امریکا پر متحدو ایالتونو یې باید برید کړی وای چې تل یې امنیت ته ګواښ و. دا اصطلاح د واشنګټن پنځونه ده، امریکا دا هم وایي چې دوښمن یې څو کاله مخکې

مشخص کړی، خو د ۱۱ بریدونو په پلمه یې د ترهګرۍ ضد جګړه پیل کړه، خو له ترهګرۍ سره له کلونو راهیسې جګړه روانه ده، ان هغه مهال چې قطر ورسره مخامخ و، خو د نورو لویو هېوادونو مرسته یې ونه غوښته، او نه یې هم د هر حکومت له قلمرو بهر جګړه پیل کړه.

د امریکا پر پلونو استرالیا هم ګام کېښود، او د اسیا په ختیځ کې نارامۍ هم د استرالیا د سیاست له کبله وې، ځکه چې د استرالیا د ۲۰۰۲ کال لومړي وزیر په ډاګه وویل چې هېواد یې د ځینو اسیایي هېوادونو پرضد د دفاعي او ځان ساتنې د پوځي بریدونو نیت لري؛ ځکه چې په ګومان یې د ترهګرو اخطارونه استرالیا ته غځېدلی شي. خو د بهرنیو چارو وزیر یې د لومړي وزیر څرګندونې بابیزه وګڼلې، ځکه چې د اندونیزیا، فلپین او مالیزیا له خوا یې په مقابل کې ټینګ غبرګونونه وښوول شول او دا ډول څرګندونې یې د خپلو هېوادونو پر وړاندې د ښکاره جګړې د اعلان په بڼه وبللې، د مالیزیا لومړي وزیر مهاتیر محمد د خپل هېواد او استرالیا ترمنځ‌د ترهګرۍ ضد ټولو ځانګړو ترونونو د بیا کتنې غوښتنه وکړه او د پوځ د تیارسۍ امر یې هم وکړ.

دا اسیایي هېوادونو ته یو اخطار و، او په اسیا کې د نوې جګړې د پیلېدو ګواښ و، چې ګني د ترهګرۍ ټوله ستونزه په همدغو هېوادونو کې ده.

خو له استرالیا دغه خوځښت او د دا ډول جنګي څرګندونو ترشا نور لاسونه وو، ځکه چې استرالیا په نړیوالو سیاستونو کې کوم څرګند اغېز نه درلود او نه یې هم نړیوال سیاست کې کوم رغنده رول لوبولی، خو د استرالیایي واکمنو دغو څرګندونو خپل ولس ته دا په ډاګه کړه، چې ګني مشران یې سیاستوال نه دي؟.. اندونیزیا، فلپین او مالیزیا ولې د استرالیا دا څرګندونې جدي وګڼلې؟ ایا امریکا د استرالیا د دغو څرګندونو ترشا وه، ځکه چې په اسیا کې یې له اسلامي خوځښتونو سره منافع په ټکر کې وو، او دغو اسلامي خوځښتونو امریکایي شتون نه شو زغملی، لکه څرنګه چې افغانستان کې عموماً د اروپایي او خصوصاً د امریکایي شتون خلاف مبارزه روانه ده؟

## دریځ او څو حقیقتونه:

لومړی حقیقت:

منځنۍ او ختيځه اسيا د اسلامي تحريکونو او خوځښتونو اصلي مراکز ګڼل کيږي، چې ډېری يې د امريکايي بربريت ضد د دوښمنۍ سخت دريځ لري، ان ځينو يې افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ تر ړنګېدا د طالبانو او القاعدې ملاتړ هم وکړ. د منل شويو سياسي تنظيمونو ترڅنګ، ځينې جلا غوښتونکې ډلې او تاوتريخوالي غوښتونکي خوځښتونه هم وو چې د فلپين په څېر هېوادونو کې يې خپل فعاليتونه کول، ځکه چې دغو هېوادونو يې پرضد له امريکا مرسته وغوښته، او د اندونيزيا په څېر هېواد چې د بالي بريد د ۲۰۰۲ په اوړي کې لږترلږه ۱۹۰ انسانان ووژل. خو د اندونيزيا او ماليزيا دريځونه د فلپين د دريځ برعکس و، ځکه چې دواړو (اندونيزيا، ماليزيا) په دې قضيه کې هر ډول بهرنۍ لاسوهنه او ښکېلتيا په ډاګه رد کړه.

دويم حقيقت:
د اندونيزيا بالي ټاپو پېښه کې د استراليا اتيا وګړي ووژل شول، خو دا د استراليا د هغه دريځ غبرګون کې و، چې پر افغانستان يې د يرغل لپاره د امريکا همکاري وکړه، او پر عراق يې بيا د امريکا له بريد سره مرسته وکړه. که چېرې استراليا د امريکايي يرغليز سياست سوچه ملاتړ نه واى کړی، هېڅکله به نه واى په نښه شوې او نه به يې پر منافعو بريدونه شوي واى او پرضد به يې تاوتريخوالى او ترهګريز بريدونه نه واى شوي.

د جګړې پيل له اسيا وشو، خو ددغه اور اصلي بلوونکی د امريکا متحده ايالتونه دي چې د اور څپې يې په اقليمي او د سيمه ييزو حکومتونو په همکارۍ کابو کولی شواى، خو کله چې له امريکا هم وشړېده، نو تر امريکايي چتر لاندې جګړه کې استراليا هم په لوی لاس ځان ته دوښمن پيدا کړ.
له ۱۹۵۰ کال راهيسې د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلې تر اوسه د يرغل مشخص تعريف ونه موند او د ناقانونه قوت کارولو موارد يې لاهم نه دي مشخص کړي، په ۱۹۷۴ کال يې د يرغل تعريف په دغو ټکو کړی و: ((د يوه دولت له خوا د بل دولت پرضد له وسله وال ځواک ګټې اخيستلو او يا يې د ځمکنۍ بشپړتيا لپاره خطر جوړولو او سياسي استقلاليت له منځه وړلو ته يرغل وايي، هغه که په هر ډول د ملګرو ملتونو له پرېکړو سره په ټکر کې وي». ځينو له «هر ډول» توري د هر راز سياسي فشار، اقتصادي بنديز او ايډيالوژي جګړې معناګانې واخيستې.

په دې ډول روان جګړه ييز بريدونه يرغل ګڼل کيږي، چې پيل يې امريکا کړی او تر شا يې د روسيې او استراليا په څېر هېوادونه ولاړ دي. د امريکا لپاره خو يرغل ښکاره خبره وه، ځکه چې افغانستان له امريکا سره هېڅ ډول جګړه نه کوله، نه هم طالبانو پر امريکا د بريد نيت درلود (که څه هم ژور مخالفتونه يې ترمنځ وو) او نه يې د امريکا پرضد جګړې لپاره لښکرې جوړولې، که څه هم د امريکا اصلي هدف د القاعدې شبکه په نښه کول وو، دا کار يې وکړ، د القاعدې ګڼ‌عناصر يې ونيول، ووژل او په نښه کړل، ان له القاعدې سره خواخوږي کسان يې هم وځپل، او

شکمن يې هم پرې نه ښودل، او ټول هغه نيول شوي شکمن او بې ګناه کسان يې د سپتمبر د ۱۱ له پېښو سره د تړاو په تور ګوانتانامو زندان ته ورسول.

نور نو د ډرامې نورې برخې هرچا ته ښې معلومې دي، نه عراق د امريکا لپاره ګواښ و، او نه هم د دغه يرغل لپاره د «وقايوي يرغل» منطق عقل منلی شوای، بلکې امريکايي اهدافو، د امريکا او اروپا او يا د امريکا د نورو ملاتړو ته له متوجه ګواښونو سره هېڅ‌تړاو نه درلود.

همداشان، کله چې د يمن خاورې ته د امريکا بې پيلوټه ځارګره الوتکه ننوته او پر سړک يې يو تلونکی شکمن موټر په نښه کړ، چې ګني د امريکا مطلوب سړی پکې سپور دی، دا يرغل او د بل پر هوايي حريم تېری ونه ګڼل شو، ځکه چې صنعاء د خپلې حکومتي راډيو په مټ دغه بريد د يمن د واکمنو په خوښه بريد اعلان کړ؛ توا چې يمن د دغه موټر مشخصولو او په نښه کولو توان نه درلود؟!

پر جورجيا د روسيې بريد هم يرغل ونه بلل شو، ځکه چې روسيې په دې دليل هلته پوځي مداخله او يرغل وکړ، چې ګني چيچنيايي جنګياليو پناه ور وړې او روسيې ته ګواښ دی!

بيا د استراليا وار راغی، خو د خندا خبره لا دا ده چې د ۲۰۰۲ په وروستيو کې اسرائيلو هم د خپل لومړي وزير په خوله وويل، چې فلسطين او د لبنان سوېل کې د القاعدې غړي دي، که څه هم ټولو دا يو ښکاره او بې شرمه يرغل وباله، خو اسرائيل د تل په څېر خپل ښکر تمبه کړي وو، لکه څرنګه يې چې په ۱۹۷۶ کال پر يوګندا يرغل وکړ، ځکه چې هغه مهال د فلسطين د ازادۍ ولسي جبهې عنتيبي هوايي ډګر کې هغه فرانسوي الوتکه وتښتوله، چې له تل ابيب پاريس ته روانه وه، خو اسرائيلو هوايي ډګر ونيو او پر يوګندي الوتکو يې بمبار وکړ، ځکه چې د اسرائيلو په ګومان «يوګندا د تښتول شويو په خوشي کولو کې پړه ده» .. بيا وروسته د افريقايي ټولنې غندونکی غبرګون راغی، چې ګني دغه بريد د يوګندا د حکومت له موافقې پرته شوی!

د هر چا سوابق واضح دي، خو د امريکا متحدو ايالتونو او بيا نورو د امريکا پر ګام تلونکو هېوادونو د نورو هېوادونو په کورنيو چارو کې د لاسوهنې نامشروع کړنې ترسره کړي دي، خو ډېر کله يې د خپلې مداخلې لپاره د ترهګرۍ ضد جګړې پلمه رامخې ته کړې ده، او يا دا چې ګني د دوی ملي امنيت ته خطر دی، او يا خو يې دا کار د يرغل د وقائې لپاره کړی.

د ۲۰۰۱ د سپتمبر له پېښو وروسته، په نړۍ کې بدلونونه او ناورینونه د نړیوالې ګډوډۍ لامل شوي او نوې جګړې یې پیل کړې دي.

د ترهګرۍ قضیه د نورو هېوادونو پر ځمکنۍ بشپړتیا د یرغل لپاره دلیل نه شي کېدای، د بېلګې په توګه د درېیمې نړۍ په باب د مالیزیا دریځ سم و، که چېرې پرې د وقایوي برید، په برید د ځان دفاع، او یا ځان ساتنې قانون ته دوام ورکړل شوی وای.

استرالیا د بالي پېښه کې خپل اتیا وګړي له لاسه ورکړل، اسرائیلو ممباسا پېښه کې یو شمېر اسرائیلیان ضایع کړل، خو که چېرې پر استرالیا د ګاونډیانو له لوري برید شوی وای، څومره وګړي به یې وژل شوي وای، او هرځای اسرائیلي مصالح په نښه شوي وای، څومره اسرائیلیان به قتل شوي وای او د جګړې په اوږدېدو به یې تلفات څو سلنه ډېر شوي وای؟!

برید، دفاع، وقایوي برید، د امریکایي حماقت پایله او د استرالیا کم عقلي ده. که چېرې واشنګټن د امپراتورۍ خوبونه ویني.. نو استرالیا چې د نړۍ په ډېر لیرې کونج کې له نورو معزوله پرته ده، او د خطر په مخ کې هم نه ده، څه غواړي!

## مسکو: د واشنګټن پرلار

دا د هغو مهمو نړیوالو پرمختګنو یوه بېلګه ده، چې پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد تر یرغل وروسته یې هېڅوک مخې ته ونه شوای درېدلی.. دا ځل یو نوښت د مسکو له خوا وشو نه واشنګټن، که څه هم کټ مټ د «ترهګرۍ جګړه» نوم یې ورکړ.

په داسې حال کې چې د امریکایي نوي کال لمانځنې او د سپتمبر د ۱۱ لومړۍ کلیزې پر ورځ ډیک چیني په یوه پټ ځای کې ناست و، او بوش له لیرې ګواښونه کول، ملګرو ملتنو ته د روسیې دا پیغام ورسېد چې «جورجیا کې به د ترهګرۍ ضد جګړه ژر پیل کړو که چېرې د چیچنیا [ترهګرې] ډلې تصفیه نه شي، هلته به له پوځي بریده هم مخ وانه ړوو، چې دا زموږ یو قانوني حق دی».

د ترهګرۍ ضد جګړې په درشل کې د واشنګټن پر لار د روسیې د وخت ولسمشر پوتین وویل: »زموږ پوځي برید ته به تر خپلې وسې د پراخ نړیوال ملاتړ هڅې وکړو».

نو، له دې ښکاري چې د امريکا له لوري د ګډوډۍ دا دود په ټوله نړۍ کې تيت شوی، د لويو قوتونو له خوا پوځي مداخله، او يا مستقيمه مداخله دوی ځان ته يو ډول داسې حق بللی، چې هر وخت وغواړي هرڅه کولی شي!
واشنګټن چې په افغانستان کې کومې ناروااوې وکړې، نړيوالو ته يې د يوه نوي قانون په بڼه وړاندې کړل..که چېرې امريکا د شرارت پيلامه نه وای،توا مسکو چې په سيمه کې ستر قدرت دی، جورجيا به يې ژغورلې وای، که يې غوښتي وای، ټوله جورجيا يې نيولی شوای.

خو ټولو ته څرګنده ده چې د امريکا له لوري پيل شوې ګډوډي يو دود وګرځول شو چې روسيې هم دغه کرغېړن سياست خپل کړ..ځوک پوهېږي، چې اسپانيا هم له جلا غوښتونکو باسک ډلو سره ورته چم وکړي، او يا نور هغه هېوادونه چې په کور د ننه د جلا غوښتونکو او يا خپلواکۍ اخيستو له ګواښونو سره مخامخ دي!

له تور سپتمبر ۱۱ مخکې هرڅه واضح وو، او لوبه له سيمه ييزې کچې د هېوادونو پر لور په ډېر احتياط مخ ته تلله. جلا غوښتونکو حرکتونو او قومي خوځښتونو د خپل وطن او يا بل خپل ګڼلي وطن د يوې برخې خپلولو مبارزې کولې، پر سياسي حق يې باور درلود چې ارومرو به يې ترلاسه کوي.. د بېلګې په توګه په عراق، ايران او ترکيه کې کردي حرکتونو ته د جلا غوښتونکو حق ورنه کړل شو، خو دومره يې وکړای شو چې خپل قومي حقونه ترلاسه کړي او يا خو لږترلږه د يوه قوم په نوم وپېژندل شي..

بلقان کې هم ورته حرکتونه وو، له مسکو سره د چيچينا لانجې هم دغه بڼه درلوده، چې بيا وروسته پر جلا غوښتونکي حرکت واوښتل، بيا يې جګړې شوې، او د جګړې د اور لمن يې اوس ګاونډيو هېوادونو ته هم غځېدلې ده.. دا ټولې شخړې سيمه ييزې وې، کله يې چې نړيوال بُعد غوره کړ، بايد نړيوالو سازمانونو: ملګرو ملتونو او امنيت شورا ته يې مراجعه کړې وای.

خو په يوه استثناء، د امريکا متحده ايالتونو او برتانيا پر عراق يرغل وکړ، او زياتره پوځي حملې يې له نړيوال سرپوښ يا د ختې له پوزې جوړولو پرته ترسره کړې. د سپتمبر د ۱۱ له پېښو مخکې هم نړيوال وضعيت همدا ډول و، خو کله چې پر امريکا د سپتمبر د ۱۱ ټکه راولوېده، دغه استثناء پر يوه قانون واوښته، په دې معنا چې نړيوال قانون يې تر پښو لاندې او بابيزه وباله، او واشنګټن هم قاضي شو هم مدعي او هم جلاد، او نړيوالو سازمانونه د نړيوال قانون په څېر منزوي شول، او همداسې په يوه تياره سيوري کې پاتې شول.

خو پوښتنه دا ده چې ايا په افغانستان کې د امريکا د بريد په باب د روسيې د دريځ او له چيچنيا سره د مسکو د کړکېچ ترمنځ کوم تړاو شته؟

داسې نظر شته، چې مسکو له امریکايي حملې سره همکار و، او پر دې راضي و چې امریکا دې د منځنۍ اسیا په هغو پنځو جمهوریتونو کېپوځي حضور ولري، چې په تېر کې د مسکو دوښمنان وو، امریکا هم له دې فرصته ګټه واخیسته چې د مسکو پخواني دوښمنان، د واشنګټن دوستان دي.

دا سمه ده چې روسیې د اسراییلو په څېر په چیچنیا کې خپلې نامشروع جګړې ته د ترهګرۍ ضد جګړې جامه ورواغوستله، او دا هم منو چې د سپتمبر ۱۱ له پېښو مخکې او بیا وروسته روسیې په چیچنیا کې د دغه هېواد پرضد خونړۍ جګړه وکړه، خو چیچنیا روسي ځواکونه له خپلې پلازمېنې ګروزني وشړل، خو روسیې داسې وښوده چې ګنې دا جګړه مسکو وګټله، خو بیا هم لوبه د هغه ایتلاف په چوکاټ کې پاتې شوه،چې له روسیې سره ځینو جمهوریتونو خپل ملاتړ پکې اعلان کړی و.

اوس، د دې کار د نړیوالتوب هڅې کېږي، او ترهګرۍ ته هم نړیوال نسبت کېږي چې داسې ده نو څوک به له لویو قوتونو کمزوري هېوادونه وژغوري؟
د امریکايي تعریف له مخې چې وايي «ترهګري: یعنې په نا جګړه ییزو ډګرونو کې سیاسي اهدافو ته د رسېدو لپاره تاوتریخوالی کول».. باید ټول هغه قومي حرکتونه ترهګر وګڼل شي، چې له جګړې پرته په سوله ییز ډول د خپل هدف لپاره مبارزه کوي، او زیاتره دا ډول خوځښتونه د یوه هېواد له حکومت سره د قلمرو د ننه شخړې لري، چې هېڅپوځ ته اړتیا نه لري، که لري یې هم خو ډېره لږ.

اوس ښکاري چې نړیوال حدود د لویو قوتونو له لوري پایمال کیږي، نه نړیوالو حدودو ته درناوی کیږي، او نه هم ځمکنۍ بشپړتیا په پام کې نیول کېږي.. بلکې قوت او ګټه لومړیتوب لري، او بیا له سره پر بې وزلو هېوادونو د ځنګل قانون پلی کېدونکی دی.

امریکا اوس په خړو اوبو کې خپل کبان نیسي، په منځني ختیځ کې له تېرو نژدې درو کلونو راهیسې کړکېچ روان دی، چې مصر یې یوه ښکاره بېلګه ده، خو واشنګټن غواړي، د منځني ختیځ ځینې هېوادونه په تجربه کې بیا هم تجزیه کړي، او اسرائیلو ته د پراخ فعالیت زمینه برابره کړي.

## وزیرستان: خارګره الوتکه بمبار کوي

کله چې د امریکا د څارګرۍ الوتکه چین ته ننوته، چینايي چارواکو ښکار کړه او امریکا شور او زوږ پیل کړ، چې چین زموږ الوتکه ویشتلې، خو چین دا کار له نړیوال قانون سره سم وکړ، ځکه چې ملي حدود باید پام کې ونیول شي او سرغړوونکي ته خوله ماتوونکی ځواب ورکړل شي.

خو، تر دې خطرناکه پېښه کې، کله چې د ۲۰۰۲ وروستیو کې د امریکا څارګره بې پیلوټه الوتکه د یمن ختیځ‌ته ننوته، او پر یوه ګاډي یې توغندي وتوغول، چې په کې شپږ یمنیان شهیدان شول، عربي نړۍ چوپه خوله پاتې شوه، لکه هېڅ چې نه وي شوي، او یا دا چې امریکايي استخبارات په یمن کې د خپل هېواد په څېر ګرځي راګرځي او په هېچا کې رې نه وهي.

کیسه یې روښانه ده، امریکا تېروتنه وکړه، او مشتبه د القاعدې شبکې یو کس علي سفیان الحارثي .. خو د اشتباه لامل یې د امریکايي استخباراتو په ګومان د ۲۰۰۰ اکتوبر کې د امریکا (کول) په نامه ویجاړوونکې بېړۍ الوځولو کې برخه اخیستل وو.
د ډیورنډکرښې ته څېرمه پر قبایلي سیمو هم د بوش ادارې، او بیا د اوباما په دواړو ولسمشریزو پړاوونو کې د بې پیلوټه الوتکې بریدونه واشنګټن خپل قانوني حق وباله، که څه هم د اسلام اباد واکمنو امریکا ته د دغو بریدونو په درولو خوله وچه شوه، خو امریکا یې خبرو او غوښتنو ته د پیاز په څېر اهمیت هم ورنه کړ، بلکې زرګونه بې ګناه انسانان یې په دغو بریدونو کې شهیدان کړل او لاهم دغه لړۍ دوام لري. خو د امریکا لنډه پلمه د (تېروتنې) او یا (ښبنې) په تورو پای ته ورسېږي. واشنګټن ته دا مهمه نه ده، چې په دغو بریدونو دې یمن او یا وزیرستان کې د قبایلو زړونه وچوول شي او یا دې امریکايي ضد کرکه ډېره شي.

# پنځم څپرکی

# واکمن قوانین

- د قانون نشتوالی
- د ځنګل قانون

د قانون نشتوالی

د نړيوالې قانونمندۍ توری د ډېرو ناامريکايي وګړو په ذهنونو کې د نشت له توري سره برابر دی، په دې معنا چې د امريکا اداري له نړيوالې قانونمندۍ د نورو د وژنې کار اخيستی. خو د نورو هېوادونو واکمنو (په تېره بيا هغو چې امريکا پرې يرغل کړی) د دغه توري په مقابل کې چوپتيا اختيار کړې، او يا يې پر هېواد د امريکايي ښکېلاک پروړاندې د تاييد سياست غوره کړی دی.

نړۍ د پېړيو په اوږدو کې د پرېکړو او تړونونو په لړ کې د يو ډول نړيوالې قانونمندۍ حق تل «قوي نظامونو» ته ورکړی، خو د دواړو نړيوالو جګړو په اوږدو کې دا په ډاګه شوه چې نړيواله قانونمندي بايد د يو شمېر هېوادونو له خوا ومنل شي، نه د ځينو هغو له لوري، او دغه هېوادونه د نړۍ د برخليک ټاکلو مساوي حقونه لري.. همداشان تر لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته د ملتونو تجربه هم دا وه، او بيا تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو هم تجربه هم دا وه چې د نړيوالې قانونمندۍ د تحقيق لپاره يې په اقتصادي برخه کې د (برېټو ووډز) بنسټونه جوړ شول، او بيا وروسته په کرنې، صنعت، چاپېريال، روغتيا او اسکان کې متخصص نور بنسټونه جوړ شول.

د قانونمندۍ مفکوره پر يوه متفق عليه قانوني بنسټ تکيه کوي، چې نور بنسټونه يې بايد ملاتړ او پالنه وکړي، نړۍ اوس د ملګرو ملتونو پر هرې پرېکړې د رضايت دود خپل کړی، او هر چېرې چې هېوادونه پر يوه قانون اتفاق وکړي، هغه ومني، خو دا کار د دوو چارو ترسره کولو په چوکاټ‌کې رامنځ ته کېږي:

لومړی: ډېرکيو د مفکورې درناوی، هغه که په ملګرو ملتونو کې وي او يا نورو نړيوالو او يا سيمه ييزو بنسټونو کې، دويم: په نړۍ کې د دوو لويو قوتونو شتون، او يا د دوو پوځي قوتونو موجوديت چې د توازن مفکوره عملي او د برلاسۍ تګلارې ليرې والی وغواړي، په دې صورت کې داسې قانونمندي راتلی شي، چې په لړ کې يې له ريښتونو او متوازنو ګټو دفاع کېدای شي او د هېڅخوا پرضد د بلې خوا په ګټه کار نه شي کېدای.

تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته لويو هېوادونو د فلسطين د وېش دسيسه وکاروله او د يوه يهودي هېواد پياوړي کولو ته يې هوډ وکړ، او په ۱۹۵٦ پر مصر د يرغل په وخت کې ځينو د يرغل د مخنيوي رول ترسره کړ،خو هغه مهال د قانونمندۍ نړيواله مرجع د امنيت شورا نه وه، بلکې د شوروي اتحاد دريځ‌او بيا د امريکا موقف تر نورو هغو مهم ګڼل کېدل، او له مصر د اسرائيلو د وتلو لپاره موافقه وه، چې بيا وروسته نړيوالو بنسټونو د همدغه موقف ملاتړ وکړ.

په ۱۹٦۷ کال بل يرغل وشو، عربي حکومتونو د نړيوالې قانونمندۍ اړوند بنسټ (ملګرو ملتونو) ته مراجعه وکړه، او تنفيذي برخې (امنيت شورا) ته يې د (سولې او جګړې حالت) پرمهال مراجعه وکړه، همدا وو چې د ۱۹٦۷ کال د

جولای له پنځمې يې د اسرائيلو د وتلو پرېکړه وکړه، خو له دغو پرېکړو سره د يرغلګرو پرضد له زوره کار وانخيستل شو.

بيا د خليج دويمه جګړه پيل شوه، خو شوروي اتحاد په نوې بڼه راڅرګند او د سړې جګړې خوب او خيالونه يې لومړيتوب و، خو واشنګټن د خير پر غونډۍ ورته کښېناست، خو لاهم دا پوښتنه د هرچا پر ژبه وه چې:
موږ کوم ډول قانونمندي؟..ايا د ملګرو ملتونو او امنيت شورا قانونمندي؟.. او که د داسې يوه ايتلاف له لورې ټپل شوې قانونمندي چې د امريکا په مشرۍ يو دېرش هېوادونه پکې راغونډ شوي دي؟.. او د دغې قانونمندۍ بريدونه کوم دي؟ او د پرېکړو د عملي کولو لپاره يې څومره وخت ته اړتيا ده؟

په دې وخت کې د امريکا متحدو ايالتونو د (نوي نړيوال نظام)-ناره پورته کړه، خو د دغه نظام له نښو نښانو له ورانښه ښکارېده، چې تر شا يې د امريکا ملاتړ دی.

تر دې مخکې امريکا په نړۍ کې څه ـ ناڅه نسبي وزن درلود چې له نړيوال نفوذ يې ترلاسه کړی و، څکه چې نړيوالو بنسټونو ته يې مالي مرستې ورکولې، او ان امنيت شورا کې خو تر ټولو ډېره نفوذ لرونکې وه، ملګري ملتونه، نړيوال بانک، نړيوال وجهي صندوق او نور نړيوال بنسټونه يې هم له مرستو برخمن وو.. خو کله به چې چا سرکشي وکړه، مالي مرستې پرې بندېدې، يا له ايتلافه ايستل کېده لکه له يونيسکو يا د چاپېريال له کيوتو تړون سره چې دغه کار وشو.

د ۱۹۹۱ کال له جګړې وروسته نوې خبره د (سارايي توپان) راتلل وو، چې په لړ کې يې نيم ميليون امريکايي پوځيان له خپل هېواد ډېر ليرې د خليج په وچه او سمندر کې جګړې ته سوق شول.. خو پنتاګان (د امريکا دفاع وزارت) پخپل راپور کې وروسته وويل چې دا د يوه لوی ايتلاف يوه نمونه ده.. چې مشري يې امريکا کوي، داسې نمونه چې په خليج کې تطبيقېږي، او بيا وروسته په افغانستان او عراق کې هم عملي کېدونکې ده.

په دې وخت کې کله چې شوروي اتحاد له صحنې ووت او ځای يې يوه کوچنې قوت (روسيې) ونيو، اروپايي هېوادونو، جاپان او جرمني ته په اسيا او افريقا کې د نوي توازن ساتلو په مقايسه د نوي نړيوال نظام جوړولو هڅې پيل کړې. د دغې مفکورې په درشل کې داسې غوښتنې هم وشوې، چې امنيت شورا دې غښتلې شي او د بدلون لپاره دې دايمي غړيتوب جوړ شي، امريکا ته به بل فرصت په لاس ورغی، چې له خپل عسکري زوره پر نړيوالو يوه بله شومه جګړه وتپي، همدا وو چې د ۲۰۰۱ د سپتمبر د ۱۱ پېښه د جګړې لپاره تر ټولو ښه پيلامه وه.

په دې وخت کې بوش اعلان وکړ چې واشنګټن (د جګړې حالت) کې دی، د امریکا ولس او کانګرېس یې هم دا خبره ومنله، او له نورو هېوادونو یې پخپلو خاورو او اسماني حریم کې د خپلې نامشروع جګړې ډګر ته د سوق الجیشۍ او د پوځ او جنګي کاروانونو د تېرېدو جواز ترلاسه کړ.

د امریکا دودیزو ملاتړو د دغه توپان پروړاندې د دربېدود زړه ونه کړ، بلکې پر دې یې قناعت ورکړ، چې ګني د ترهګرۍ جګړه کې باید دوی هم متې رابډوهي،که نه نو د «اسلامي- غربي» جګړې د اور لمبې به دوی ته هم ورسېږي، او واشنګټن دا دلیل هم وړاندې کړ، چې ګني دا د امریکا جګړه نه ده-که څه هم په حقیقت کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ترهګرۍ په تړاو راپور کې ویل شوي چې په نړۍ کې ډېری ترهګریز بریدونه (څه باندې پنځوس سلنه) د امریکا پرضد دي- او پاتې نور د توکمیزو او قومي شخړو له کبله دي.

په داسې حال کې چې د درېیمې نړۍ هېوادونه- چې عربي هېوادونه هم پکې دي- د جګړې له اوره ترهېدلي وو، هسې نه چې د جګړې په تور یې جګړه پلازمېنو ته لار وکړي او یا دا چې واشنګټن یې د ترهګرو ملاتړي، یا ساتونکي او د ترهګرۍ ضد جګړې په مقابل کې د چوپې خولې پاتې کېدو تور پرې ولګول شي، همدا وو چې زیاترو له قوي او یرغلګر واشنګټن سره خپل ملاتړ- یا په خوښه یا د زرو او زور په مټ- اعلان کړ.

که څه هم پر افغانستان د امریکایي یرغل ظاهراً لوی دلیل د ترهګرو د پټنځایونو له منځه وړل وو، خو کله چې په منځني ختیځ کې د جګړې دویم پړاو پر عراق په برید پیل شو، د نړیوالې قانونمندۍ په اړه هر څوک شکمن شول، ایا د امنیت شورا پرېکړې پر عراق د برید مشروعیت ورکړی؟ او که نړیوالې ټولنې دغې جګړې ته زړه ښه کړ؟

د ملګرو ملتونو له مشروعیت تل په جاسوسۍ او تېري کې ناوړه ګټه اخیستل شوې، په ۱۹۹۸ کال - لکه څرنګه چې یوې عراقي سرچینې ویلي- د وسلو نادودیزه څېړونکو له وزیرانو شورا سره ناسته لرله، چې په لړ کې یې د هغه وخت د ولسمشر صدام حسین خونه په نښه کړه.. بیا سم لاسي امریکایي الوتکو همدغه خونه بمبار کړه!

او په ۱۹۹۸ کال کله چې نړیوال څارونکي د بټلر په مشرۍ او د امریکا په امر له عراقه ووتل، دوه ورځې وروسته عراق بمبار شو.. بلکې د څارونکې یوې ډلې مشر د رادیو او د سویډن د یوې مجلې له لارې وویل چې ځینو څارونکو له امریکایي استخباراتو سره کار کاوه!

دا ټول د نړیوالې قانونمندۍ او هغو پرېکړو په پایله کې وشول، چې اصلي منبع یې ملګري ملتونه او امریکا وو، ترڅو په نړۍ کې ګډوډي جوړه کړي او دوی خپلو اهدافو ته ورسېږي.

# د ځنګل د قانون واکمني

د یقین نشتوالی، په تېروتنې وژل، وسله وال تېری، د ځنګل قانون... په ۲۰۰۲ کال دا ټول د نړیوالو اړیکو ډیپلوماتیک اصطلاحات وو، ترې وړاندې په ۲۰۰۱ کال خو د جګړې پیلامه وه، په دا بل ۲۰۰۳ کال هم وضعیت تر دې ښه نه و.

په افغانستان او عراق کې د امریکا تر یرغل وروسته د ډاډ توری د خلکو له ذهنونو الوتلی و، او تل به یې دا پوښتل چې د افغانستان او عراق جګړې پایله به څه کېږي؟.. ایا د امریکا جګړه دومره مهمه ده، چې هره میاشت پکې سلګونه افغانان او عراقیان وژل کېږي، د اتومي وسلو په کارولو سرپه ونه شوه، په دواړو هېوادونو کې هغه وسلې وازمویل شوې، چې یرغلګرو هېوادونو یې پخپله خاوره کې ازموینه ناروا عمل بللی و.

د سپتمبر د ۱۱ له پېښو وروسته، له نړۍ سره د امریکا د اړیکو څرنګوالی بل ډول شو، که څه هم د درې واړو تښتول شویو ملکي الوتکو تښتوونکي په پېښو کې ووژل شول، خو امریکا سم لاسي د دغو بریدونو د تور ګوته «القاعدې» شبکې ته ونیوه. دغه نوم د ډېرو لپاره نوی و، خو د نوم اصلي بڼه د هغه اصلي تنظیم له نامه قاعدې او بنسټراغلې وه، چې په نړۍ کې نورو اسلامي تنظیمونو الهام ترې اخیست.

د امریکا هر عمل او هرڅه پر شک او (تېروتنې) ولاړ وو، امریکا هېڅ یو داسې کس محاکمه نه کړ، چې د دغو بریدونو په تور یې نیولی وي. خو واشنګټن لاهم دا دلیل منطقي باله، چې ګني د الوتکو تښتوونکي د القاعدې شبکې غړي وو، او القاعده له طالبانو سره ده، او طالبان افغانستان کې دي.. نو، افغانستان ته باید امریکا ننوځي. لا د جګړې پیل و، چې امریکا په افغانستان کې خلکو او په تېره بیا خپلو دوښمنانو او حریفانو ته خپل کرغېړن او وحشي خوی وروښود، دا به ومنو، چې د امریکا له منطق سره سم القاعده او طالبان د واشنګټن دوښمنان وو، خو امریکایي لښکرو ټولو افغانانو ـ په تېره بیا پښتنو ته ـ هم د القاعدې او خپل دوښمن په سترګه کتل، همدا وو چې د روانې تپل شوې او ناروا جګړې په کلونو کې تر ټولو ډېر افغانان، او په افغانانو کې پښتانه وځپل شول، او په پښتنو کې د افغانستان سوېلي او سوېل ختیځو سیمو ډېر کړاوونه او غمونه وګالل، همدا وو چې ان امریکا کې د بشري حقونو ډلو په یوه جګړه ځپلي هېواد افغانستان کې د امریکایي ناروا کړنو پرضد نارې راپورته کړې.

ځینو لویو هېوادونو په نړیوالو اړیکو کې منطق او قانون ته ترجیح ورکړه، خو کله یې چې له ملي ګټو سره ټکر راغلی، ملي ګټې یې لومړیتوب بللی نه اصول او قوانین، چې داسې ده دا ډول قوانین د «معاملې قانون» بلل کېږي، روسیې له عراق سره د څلوېښتو میلیاردو ډالرو معامله کړې وه او یا یې د کېدو ژمنې شوې وې، همدا یې بس وه، چې د عراق ترڅنګ او ملاتړ کې د واشنګټن د جګړې په مقابل کې ودرېږي او امنیت شورا کې د دسیسو مخه ونیسي ـ لکه اوس یې چې امنیت شورا کې د سوریې په پلوی دواړې پښې یوې موزې ته تمبه کړې دي ـ خو کله چې عراق له روسیې سره د میلیاردونو ډالرو قرارداد لغوه کړ، بغداد وویل چې روسیې د قرارداد سرغړونه وکړ، مسکو هم وویل چې «نور مو نو ولې ملاتړ وکړو؟»

مسکو په افغانستان کې د امریکایي جګړې د ملاتړ لپاره همدغه چم وکاراوه، پوځي حضور ته یې ځکه غاړه کېښوده چې په منځنۍ اسیا کې خپل دوښمن ته ګوزار پرې ورکړي، او په مقابل کې یې واشنګټن چیچنیا کې د مسکو د جګړې ملاتړی شي.

د افغانستان له شمالي ټلوالې سره هم د (معاملې قانون) وکارول شو، او عراق کې هم دغه نسخه وکارول شوه... خو هلته ترکیې د عراقي نظام له ړنګېدا وروسته د پټرولو خپله برخه وغوښته.

د ۲۰۰۲ په وروستیو کې امریکا یوه داسې موافقه هم وکړه چې:
«د امریکا متحده ایالتونه د عراق پر تېلو تر قبضې مخکې د تېلو د وېشلو مهال وېش او تقسیم بندۍ جوړې کړې دي (چې تر سعودي وروسته د احتیاطي تېلو دویمه لویه سرچینه ده)!!

د واشنګټن او انقرې ترمنځ خبرې روانې دي، چې په لړ کې یې انقره پر عراق د برید لپاره امریکا ته د خپلې خاورې د ورکولو مقابل کې د عراقي تېلو لس سلنه برخه ترلاسه کولی شي، او ترکي پوځي د کردانو سیمو ته ورننوتی شي».
د حیرانتیا خبره خو دا وه، چې انقرې په عراقي تېلو کې خپل تاریخي حق غوښت، یعنې انقره مرستې نه غواړي، بلکې د عراقي میراث مالکیت غواړي. امریکا د تېروتنې تر قانون وروسته د معاملې قانون جوړ کړ. او د لومړنیو امریکایانو په لاس جوړ یې قانون هغه واکمني ړنګه کړه چې تر کلونو پورې عمل وربانديې کېده، بلکې د امریکا د ننه یې ډېر دیموکراتیک حقونه ویجاړ کړل، خو نوره نړۍ یې دیموکراسۍ ته د نه ژمنتیا په پلمه ملامته کړه.

نړیوال اړیکي او سیاست نه دایمي دوښمن لري او نه دایمي ملګری، همدا ده چې نړیوال اړیکي د ماینونو په یوه ډکه سیمه کې د شپې په تیاره کې تګ ته ورته دی، کله چې سړی په ځنګل کې وي، باید تېره غاښونه او څیرووکې چمتې ولري.

## سرچینې

1. د شيکاګو د بهرنيو اړيکو شورا او د امريکا د متحدو ايالتونو د جرمني مارشال صندوق ـ د سپتمبر له ۱۱ وروسته د امريکا بهرني سياست په اړه د امريکايانو عامه نظرياتو ټولپوښتنه چې د ۲۰۰۲ اکتوبر کې يې پايلې اعلان او خپرې شوې.
2. باب ووډوارډ ـ « بوش په جګړه» کتاب، د ۲۰۰۲ کال جګړه چې تر ډېره په کې د ملي امنيت ويناوو او د بوش پر مرکو تکيه شوې.
3. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت راپور ـ د نړيوالې ترهګرۍ نومې ۲۰۰۱.
4. محمود عوض ـ د لندن الحياة جريده،۲۰۰۲،اکتوبر.
5. د برتانيا ټايمز ورځپاڼې په حواله رسنيو کې راغلی راپور.
6. الاهرام مصرۍ ورځپاڼه،۲۰۰۲، دسمبر ۱۷.
7. الاهرام،۸/۹/۲۰۰۲ د برتانيا انډيپنډنټ په حواله.
8. نيوزويک ـ ۲۰۰۲ مې ۷.
9. اې ايف پي خبري اژانس- راپور
10. نړۍ کې د وسلو خرڅلاو په ۲۰۰۰ کال له ۴۰ ميليارد ډالرو تر ۲۰۰۱ کال پورې ۲۶ ميليارد ډالرو ته ټيټ شو ـ د ۲۰۰۲ وروستيو کې د امريکا کانګرېس ته د وسلو خرڅلاو وړاندې شوې څېړنه.

پټرازونه:

په نړۍ کې د ترهګرۍ په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت راپور

۲۰۰۲، مې ۲۱

د ۲۰۰۲ مې کې د «نړیوالې ترهګرۍ نمونې» دغه کلنی خپور شوی راپور د امریکایي قانون د ۲۲ مادې له مخې د بهرنیو چارو وزارت له خوا د ترهګرۍ په تړاو د کلي بشپړ راپور په بڼه د هغو هېوادونو او ګندونو په تړاو وړاندې او خپور شو، چې د دغه قانون د اې ۱ او ۲ مادې پرې تطبیقېږي.
د امریکا د بهرنیو چارو پخواني وزیر کولن پاول د ۲۰۰۱ کال په راپو کې وویل «په ۲۰۰۱ کال ترهګرۍ پر ټوله نړۍ وژونکي وزر خواره کړل، خو د مبارزې لپاره یې د نړۍ هوډ د اوس په پرتله ډېر زیات نه وو..»

مقدمه

## د امریکا د بهرنیو چارو د وخت وزیر کولن ال. پاول په قلم

«په ۲۰۰۱ کال ترهګرۍ پر ټوله نړۍ وژونکي وزر خواره کړل، خو د مبارزې لپاره یې د نړۍ هوډ د اوس په پرتله ډېر زیات نه وو». کله چې (ترهګرو) د سپتمبر پر ۱۱ بریدونه وکړل، هدف یې نه یوازې د امریکا متحده ایالتونه وو، بلکې هغه ارزښتونه یې په نښه کړل، چې امریکایي ولس یې له نورو نړیوالو لوړ ګڼي، په دې معنا چې امریکایان د نورې نړۍ د وګړو په پرتله خپله وینه، نارینه او ښځې لوړ ګڼي او پر خپله ازادۍ ویاړي. خو په حقیقت کې د سپتمبر بریدونو کې د څه باندې ۸۰ هېوادونو وګړي ووژل شول.

د ترهګرۍ پرضد جګړې د یوه ایتلاف رامنځ ته کولو لپاره د هرې قارې،کلتور، اعتقاد، سیمې، توکم او دین ولسونو او ملاتړو د بوش د غوښتنې هرکل وکړ، تر بریدونو څو میاشتې وروسته، موږ او زموږ ملګرو ایتلاف جوړ کړ، چې نړیواله ترهګري به ټوټې ټوټې کوو. هېواد په هېواد، سیمه په سیمه او کلي په کلي به یې پسې اخلو، د دې کار لپاره مو له خپلو استخباراتي بنسټونو او خپل قانون ګټه واخیسته، پر پولو مو د ترهګرو د څارو سیستمونه لاپسې ټینګ او څارو کړل، چې دوی زموږ پرضد د دسیسې جوړولو لپاره ارامه کار ونه کړي او نه هم له یوه ځایه بل ځای ته ولېږدي.

د ترهګرو ډلو ټول مالي رګونه مو یو یو وچ کړ.. په افغانستان کې د ایتلافي عملیاتو پایله کې د طالبانو او القاعدې شبکې مخکښ مشران او قومندانان ووژل شول، یا ونیول شول او یا یې هم له عدالته پښې سپکې کړې. او ډېر د ګوتو په شمار لږ ځایونه د دوی د پناه ور وړلو لپاره پاتې شول.

ایتلافي ځواکونو له افغان ولس د ناخوالو نیرنګ پورته کړ، افغانستان کې د یوه داسې حکومت د جوړېدو سیاسي تحول راغی، چې ټولو قومونو، نارینه وو، ښځینه وو او اقلیتونو پکې برخه واخیسته. نړیوالې ټولنې هم په لومړي ځل د څلورنیم میلیارد مرستو لاس ور اوږد کړ، چې افغانستان پرخپلو پښو ودرېږي او ولس یې خپل راتلونکی پخپله جوړ کړي، او یوځل بیا افغانستان د ترهګرو پرځالې او پټنځې وانه وړي.
خو د ترهګرۍ پرضد نړیواله جګړه یوازې پر افغانستان پورې محدوده پاتې نه شوه، بلکې د نړیوالې ترهګرۍ پرضد د نړیوالو هوډ او ونډه ډېره شوه. د ترهګرۍ ګواښ او خطر ګردې نړۍ ته یوه ترهه ده، چې ګڼ اړخونه لري. د نړۍ غبرګون یې هم پر وړاندې باید شامل او څو اړخیزه او په عین حال کې ثابت وي. موږ او زموږ ایتلافي ملګرو باید په دغه ایتلاف کې د یوې اوږدې او له خپلو هېوادونو ډېرې لیرې او ستونزمنې جګړې لپاره چمتووالی نیولی وای، او

ښکېلو هېوادونو د دې جګړې لپاره هر راز سياسي، ډيپلوماتيکو، قانوني، اقتصادي، مالي استخباراتي او د اړتيا په وخت کې پوځي قربانيو او همکاريو ته دوام ورکړی وای.

د ترهګرۍ پرضد دغې نړيوالې جګړې کې هېڅحکومت بايد بې پرې نه وای پاتې شوی، ځکه چې ترهګر هېڅحدود نه پېژني، جغرافيه له منځه وړل غواړي. د جګړې په هر ډګر کې خطر ډېر زيات و. ترهګري نه يوازې خلکو ته ګواښ دی، بلکې د ديموکراتيکو بنسټونو ړنګولو او اقتصادي وضعيت ځوړندولو هڅې کوي او د ګردې نړۍ ثبات څپ څپانده کول غواړي.

دغه راپور د نړيوالې ترهګرۍ په اړه ډېرې خطرناکې موضوع ګانې ډاګيزه کړې دي، او د امريکا متحدو ايالتونو او ايتلافي ملګرو هغه هڅې يې هم بربنډه کړې، چې په نړيواله ټولنه کې ترهګرۍ ضد جګړې په پلمه د خپل نفوذ ډېرولو هدف لري. دلته ذکر شوي ټول حقيقتونه د نړۍ پرله پسې ويښتابه او همغږي کار ته اړتيا لري.

لاسليک

کولن پاول

# د سفیر فرانسیس اکس ټایلر په قلم مقدمه

تاریخ به ۲۰۰۱ کال د ترهګرۍ پرضد د نړیوالې مبارزې یوه پرېکنده کال په نامه یاد کړي. د سپتمبر پر یوولسمه له کورنۍ جګړې راپدېخوا امریکا پخپل تاریخ کې تر ټولو د یوه لوی خونړي برید شاهده وه، او په نړۍ کې تاریخي لوی ترهګریز بریدونه وشول، چې پر وړاندې یې د مبارزې لپاره د ډېرو لویو ټړونونو لپاره نړیوال ایتلافونه وشول، چې لاهم دغه ټړونونه دوام لري. د سپتمبر پېښو د نړۍ پرمختللي هېوادونه هک پک او په عین حال کې ویښ کړل، چې د نړیوالې ترهګرۍ خطر مخه که ونه نیوله شي، ژر به د دوی ارامه ښارونه هم نارامه کړي. پر افغانستان د امریکا په مشرۍ لوېدیځوالو قوتونو پوځي یرغل وکړ او هلته لنډمهالی حکومت جوړ او بیا وروسته ټاکنې وشوې او داسې نظام رامنځته شو، چې ګاونډیانو ته به هېڅخطر ترې نه پېښېږي. د طالبانو نظام ړنګ شو او د هغوی خواخوږي ترهګر په لومړي سر کې ترې تم شول، خو یو کال وروسته یې افغانستان کې د حکومت او مېشتو بهرنیانو پرضد بریدونه پیل کړل. پر افغانستان د امریکا له یرغل سره د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم د القاعدې شبکې او د هغوی د خواخوږو او ملاتړو پرضد مبارزه پیل شوه، پرضد یې استخباراتي عملیات او فشارونه ډېر شول، چې د شمېرو له مخې، یوازې د سپتمبر له پېښې وروسته په یوه کال کې د نیونو تر زرو ډېرې پېښې رامنځ ته شوې.

که څه هم افغانستان کې موږ وختي کامیاب شوو او د القاعدې ضد جګړه مو پراخه کړه، خو پر نړیوالې ترهګرۍ د وروستۍ کامیابۍ لپاره لاهم اوږده لاره په مخ کې لرو. خو یو شی باید وویل شي: که چېرې ترهګر وړاندې زموږ په دې جګړه کې پخپله ماتې شکمن وو، اوس باید دا شک له منځه یوسي چې ارومرو به له ناکامۍ سره مخامخېږي. د امریکا متحدو ایالتونو له خپلو ایتلافي ملګرو سره څو-څو ساعته پر دې بحثونو تېر کړل، چې ګني د سپتمبر یوولسې پېښو کې د زرګونو وژل شویو کسانو وینې بابیزه نه دي. د سپتمبر د یوولسمې له پېښو وروسته مو په ګرده نړۍ کې د ترهګرو پرضد جګړه پیل کړه، د بهرنیو چارو وزارت د دغې مبارزې یوه نه جلا کېدونکې برخه وه، د بهرنیو چارو وزیر او نور جګپوړي چارواکي د دغې جګړې د ملاتړ راجلبولو لپاره پر زیاترو هېوادونو وګرځېدل، د نړۍ ګڼو چارواکو له ولسمشر، د بهرنیو چارو او دفاع له وزیرانو سره وکتل، له هغوی سره یې خپل دیپلوماتیک ملاتړ اعلان کړ. د هېوادونو دغه بې سارې ایتلاف د استخباراتي، امنیتي، اقتصادي، مالي او هغو پوځي هڅو په لړ کې جوړ شو، چې په یوه خوله به د نړیوالې ترهګرۍ مخه نیول کېږي. په حقیقت کې دا د ولسونو لپاره یو داسې هڅوونکی دلیل و، چې ګني د امریکا نړیوالې سوداګرۍ ودانۍ، پنتاګان او پنسلوانیا کې په لوی لاس وژنې په حقیقت کې پر نړۍ او د نړۍ پر تمدن برید دی.

((دغه جګړه به څرنګه ګټو؟ موږ د دې جګړې هر ګام باید وڅارو او کنټرول یې پخپل لاس کې واخلو، په هره دیپلوماتیکه وسیله، په هره استخباراتي طریقه، د قانون د تطبیق په هره وسیله، په هر مالي نفوذ او د جګړې په هره ممکنه کارېدونکې وسله، تر هغه چې د نړیوالې ترهګرۍ جرړې نه وي ایستل شوې)).

جورج ډبليو بوش

# بوش د ترهګرۍ ضد جګړې اعلان وکړ، چې په هره ممکنه وسیله به دا کار مخته بیایي:

## د ديپلوماسۍ له لارې:

د سپتمبر له پېښو څو دقيقې وروسته ديپلوماتيکې هڅې پيل شوې، د بهرنيو چارو وزارت چارواکو سم لاسي د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې له چارواکو سره د یوه ایتلاف د جوړولو او ملاتړ خبره شريکه کړه. بوش د دې کار ثمره پخپلو ټکو اعلان کړه او دغه ایتلاف يې ((په تاريخ کې تر ټولو لوی نړيوال ایتلاف)). د سپتمبر پر يوولسمه ولسمشر د څه باندې پنځوسو هېوادونو له مشرانو سره وکتل، او د بهرنيو چارو وزير پاول په ایتلاف کې د غړو هېوادونو له استازو او ډېری بهرنيو چارو وزيرانو سره وليدل. همداشان د بهرنيو چارو او دفاع وزارتونو له جګپوړو غړو او د مرکزي استخباراتي له چارواکو او بهرنيو چارواکو سره واشنګټن کې وکتل او د ناټو ایتلاف د ملاتړ راجلبولو لپاره يې د نړۍ زياترو ټاپو وزمو ته سفرونه وکړل، چې خپلې پيلېدونکې جګړې ته نړيوال رنګ ورکړي. همداشان، په بهر کې هم د ولسمشر ديپلوماتيکو ادارو په هره ممکنه طريقه زموږ د امنيت خوندي کولو لپاره تماسونه ټينګ کړل. د سپتمبر له يوولسمې وروسته د بهرنيو چارو وزارت په رسمي توګه له چين او پاکستان سره د ترهګرۍ په تړاو خبرې پيل کړې، او د دغه وزارت چارواکو د نړۍ زياترو کنفرانسونو کې خپلې تجربې شريکې کړې، چې يوه بېلګه يې د پولنډ ولسمشر کفاسنيويڅکي په کوربه توب د ترهګرۍ د ځپلو په موخه د نړيوالو ایتلافيانو د واک زياتېدو په تړاو کفرانس.

پر دې سربېره، ګڼو نړيوالو سازمانونو، لکه اروپايي اتحاديې، د امريکايي هېوادونو سازمان او شمالي اتلانتيک ایتلاف (ناټو)، اوو سترو هېوادونو، د اتو هېوادونو ډلې او نورو د معلوماتو شريکولو، پولو خوندي کولو او د ترهګرۍ د تمويلي سرچينو د وچولو لپاره خپلې اړوندې هلې ځلې وکړې. د سپتمبر پر اته ويشتمه د ملګرو ملتونو امنيت شورا د ۱۳۷۳ نمبر پرېکړه ليک په صادرولو سره له ټولو هېوادونو وغوښتل، چې د ترهګريزو اعمالو مخنيوی او د تمويل سرچينې وچې کړي، چې په دغه پرېکړه ليک کې د ترهګرو د مالي سرچينو کنګلول هم راغلي وو. همداشان، ټول هېوادونه بايد د خپلو پولو د خوندي ساتلو لپاره او د ترهګرو له خوا د وسله والو د ګوماړلو اعمال په ټينګه وڅاري،

او د ترهګرۍ پرضد نړیواله مبارزه کې د قانون د تطبیقوونکي سیستم له لارې خپل استخباراتي معلومات او همکارۍ ډېرې کړي ترهګر او د هغوی خواخوږي او ملاتړ خوندي پټنځای موندلو ته پرې نه ږدي. د دغه پرېکړه لیک په ضمن کې په مثبت ډول پرېکړه دا شوه، چې د امنیت شورا د ۱۲۶۷ او ۱۳۳۳ پرېکړه لیکونو (چې په ۱۹۹۹ او ۲۰۰۰ کلونو کې پرله پسې توګه صادر شول) پرېکړه دا وه چې افغانستان کې پر طالبانو (ټاکل شوي بندیزونه) ولګوي.

ډاګیزه دیپلوماسي زموږ د هڅو یوه مهمه برخه وه، د بهرنیو چارو وزارت هڅه کوله چې په بهر کې د امریکا په تړاو ناوړه نظر بېرته ورغوي، او دا کره کړي چې ګني د ترهګرۍ‌پرضد جګړه د اسلام پرضد جګړه نه ده، او دا ډاډ ورکړي چې ترهګر شهیدان نه دي، بلکې بې زړه کسان او مجرمین دي. امریکایي جګپوړو چارواکو دا نظریه پخپلو سلګونو رسنیزو مرکو او لیکونو کې په ډاګه کړه او امریکایي سفیرانو په نړۍ کې د زرګونو فعالیتونو په لړ کې د یوه نړیوال ایتلاف جوړولو او ساتلو ډنډوره خپره کړه. د امریکا متحدو ایالتونو په لندن او اسلام اباد کې د ایتلاف د اعلام لپاره دوه مرکزونه پرانیستل. د بهرنیو چارو وزارت خپلو ویندویانو ته یو فعال پروګرام جوړ کړ، چې په لړ کې یې بهر کې د امریکا پالیسي په ډاګه کړي.

## له استخباراتي اړخه

د نړۍ د استخباراتي سازمانونو ترمنځ‌د هر بل وخت په پرتله همکاري او همغږي ډېره او پراخه شوه. همدا وو چې دوی د ترهګرۍ پرضد جګړه کې د بریا لومړی شرطد ترهګرو په تړاو د استخباراتي معلوماتو شریکول، د هغوی د کړنو څارل او د شکمنو کسانو نیول وبلل. حکومتونو د نړۍ په هر ګوټ کې د دا ډول معلوماتو شریکولو په لړ کې د هغې تحتي نړۍ په تړاو د معلوماتو تر ګوتو کولو کې خپلې هڅې ډېرې کړې، چې ترهګر پکې پټ فعالیتونه کوي. پر افغانستان زموږ پوځي برید د قانون د تطبیقولو او استخباراتي کړنو سربېره، د ایتلاف د غړو هېوادونو لپاره نورې ګټې هم درلودې، ځکه چې له هماغه ځایه د نړۍ په نورو هېوادونو کې د ترهګریزو سرچینو او نړیوالو ترهګرو په اړه نور اړین معلومات ترلاسه شول.

## د قانون تطبیقول

په نړۍ کې د قانون تطبقوونکو د ترهګرو مشخصولو، هویت معلومولو، نیولو او بالاخره عدالت ته د سپارلو لپاره یوه نړیواله شبکه جوړه کړه. په امریکا کې د فدرالي تحقیقاتو مرکز د ایالتونو او فدرالي حکومت په کچه د قانون د تطبیق لپاره پروګرامونه پیل کړل، همدا وو چې تر ۷۰۰۰ ډېر استخباراتي مامورین وګومارل شول، چې د سپتمبر د

یوولسمې د پېښو په تړاو لا نورې څېړنې وکړي، او د هغه پروګرام سرچینه معلومه کړي، چې ترهګرو یې په لړ کې د سپتمبر د یوولسمې بریدونه په هم مهال ډول وکړل. همدا وو چې په نړۍ‌کې تر زرو ډېر شکمن ترهګر ونیول شول او د القاعدې شبکې یو شمېر نور عناصر او ډلې هم کشف او ونیول شوې.

په ۲۰۰۱ کال د بهرنیو چارو وزارت ۳۳ ډلې یوځل بیا د ترهګرو ډلو په لست کې راوستې، چې دا کار د ۱۹۹٦ کال د کډوالۍ او تابعیت د ورکولو د قانون له مخې وشو. د قانون له مخه دغو ډلو ته پیسې ورکول، تاییدول او فعالیت ورسره کول جرم وګڼل شو، او د امریکا مالي بنسټونو ته دا اجازه ورکول شوه، چې د دغو ډلو اموال کنګل کړي او غړو ته یې امریکا ته د داخلېدو وېزې ورنه کړي او که چېرې د دغو ډلو بهرني غړي امرکیا کې وي، باید له هېواده وایستل شي.

د اکتوبر پر شپږمه د امریکا کانګرېس د پاټریوټ یو اېس اې هغه قانون تصویب کړ، چې امریکایي قانون تطبیقوونکو واک یې ډېر کړی او د هغو کسانو د محاکمې، تحقیق او استنطاق حق لري، چې په ترهګریزو فعالیتونو کې ښکېل دي. د دسمبر پر پنځمه د پاټریوټ یو اې اې د قانون له مخې، د بهرنیو چارو وزیر کولن پاول ۳۹ ډلې د «نړیوالو ترهګرو لست» کې شاملې کړې. په لومړي ګام کې امریکا د القاعدې هغو څلورو غړو د محاکمې له چارو وزګاره شوه، چې کینیا او تنزانیا کې یې د امریکایي سفارتونو چاودنو کې یې پړه ګڼل شوې وو. په مې میاشت کې د محکمې په انګړ کې د نیویارک نړیوال سوداګریز مرکز د الوځولو په تور پر شکمنو نیول شویو کسانو ۳۰۲ تورونه پورې شول، چې سزا یې عمري بند ورته وټاکه.

## له اقتصادي پلوه

پیسې او مالي ملاتړ د ترهګرو لپاره د اکسیجن کار ورکوي، چې باید پرې قطع شي.
کله چې ولسمشر بوش د سپتمبر پر درویشتمه ۱۳۲۲۴ نمبر تنفیذي فرمان لاسلیک کړ، د هغو کسانو ژوند هم په خطر کې شو، چې د ترهګرو ډلو مالي ملاتړ کوي. د فرمان له مخې باید له نړیوالې ترهګرۍ سره له تړلو کسانو او د هغوی له مشرانو او ډلو سره سوداګریزه راکړه ورکړه بنده شي، امریکایي سوداګریز بازارونه هم باید د ونډو له هغو مارکیټونو سره خپله راکړه ورکړه بنده کړي، چې د ترهګرو له مالي سرچینو سره د راکړې ورکړې بندیز نه مني. د ۲۰۰۲ کال له مارچ راهیسې د بندیز په دغه لست کې ۱۸۹ نومونه او ډلې راغلې، چې په لړ کې یې ۱۵۰ هېوادونه او سازمانونه هم راغلل (چې تایوان او هانګ کانګ یې یوه بېلګه ده).

هم مهاله د نړۍ ځینو هېوادونو پخپلو قوانینو کې بدلونونه راوستل، او خپل قوانین یې د ترهګرو پرضد له مبارزې سره عيار کړل. په دې لړ کې مالي بنسټونو ته د ترهګرو د داخلېدو او شمولیت بندیز هم ولګول شو، په نارسمي توګه د پیسو د حوالې او د خیریه ټولنو د پیسو د لېږد پر کاروبار هم بندیز ولګول شو.

## له پوځي پلوه

د سپتمبر د یوولسمې بریدونه د امریکا پرضد د جګړې د اعلان پیلامه وه، چې لاندې نړیوال غبرګونونه یې لرل:

- د سپتمبر دوولسمه، امنیت شورا دغه بریدونه وغندل او یوځل بیا یې د ملګرو ملتونو د میثاق مطابق د شخصي ډله ییزې دفاع پر حق ټینګار وکړ.
- د سپتمبر یوویشتمه، د بهرنیو چارو وزیرانو  د ډله ییزې ځاني دفاع لپاره د یوې مادې ورزیاتولو غوښتنه وکړه او دغه ماده یې د «ریو تړون» په نامه ونوموله.
- د اکتوبر پنځمه برسلز کې د شمالي اتلانتیک (ناټو) ایتلاف د واشنګټن د تړون د هغې پنځمې مادې غوښتنه وکړه، چې وايي په اروپا او شمالي امریکا کې د ایتلاف پر یوه غړي او یا غړو هر راز وسله وال برید ته باید د ایتلاف پر ټولو غړو د برید په توګه وګڼل شي.
- ۱۳٦ هېوادونو له امریکا سره د پراخو پوځي مرستو وړاندیزونه وکړل.
- ۸۹  هېوادونو امریکایي پوځي الوتکو ته پر خپل هوایي حریم د الوتنو اجازه ورکړه.
- ۷٦  هېوادونو د امریکا پوځي الوتکو ته پخپله خاوره کې د کښېناستلو حق ورکړ.
- ۲۳ هېوادونو د هغو امریکایي او ناټو او ایتلافي ځواکونو کوربه توب ومانه، چې په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ جنګېږي.

## امریکایي سیاست

بوش د ترهګرۍ ضد جګړې بریدونه وټاکل  "د ترهګرۍ ضد مبارزه کې زموږ ستراتیژي او سیاست کې څلور اصول پام کې نیول شوي":

لومړی: د ترهګرو پر وړاندې له هېڅ‌ډول څخه نه تېرېدل او تر خپله وسه د هغوی ځپل

د امریکا متحده ایالتونه د هغو افرادو او ډلو پروړاندې له هېڅ شي ته تېرېږي، چې امریکایي حکومتي کسان او یا عادي امریکایان د برمته شویو په توګه له ځان سره ساتي. موږ به د خپلو وګړو د راخوشي کولو لپاره تر خپله وسه

ټولې هلې ځلې وکړو، همدارنګه موږ تښتوونکو یا ترهګرو ته د خپلو برمته شویو وګړو د خلاصون په موخه هېڅډول معامله، یا پیسې ورکولو ته غاړه نه ږدو.

دویم: په جرمونو تورن ترهګر باید عدالت ته وړاندې شي

امریکا ټول هغه ترهګر پسې اخلي، چې پر امریکایانو بریدونه کوي، ولو که ډېر زیات وخت هم واخلي. امریکا وایي بېلګه یې دا ده چې د ۲۰۰۱ سپتمبر له پېښو وروسته یې زاید حسن عبداللطیف مسعود، چې په ۱۹۸۶ کال د پاکستان کراچۍ کې د پان امریکن ۸۳ الوتکې د اصلي تښتوونکو له ډلې و، ونیو. په دې پېښه کې ۲۲ کسان ووژل شول، چې امریکایي وګړي هم پکې وو، او سل نور سخت ژوبل شول. مسعود هغه ځوارلسم نړیوال شکمن ترهګر و چې له۱۹۹۳ کال راهیسې بهر کې ونیول شو او امریکا ته د محاکمې لپاره یووړل شو. بل رمزي یوسف او میر ایمل کانسي و.

دریم: د ترهګر پالونکو هېوادونو د تګلورې بدلول

لیبیا یو له هغه هېوادونو و، چې د امریکا په ګومان ترهګر یې پالل. په ۱۹۸۸ کال د سکاټلنډ پر لاکربي د پان امریکن ۱۰۳ الوتکې چوولو راهیسې، امریکا او برتانیا د پېښې تورن په لټه کې وو، او له لیبیا سره یې په دې اړه اړیکي هم ترینګلي شوي وو؛ ځکه چې له لیبیا یې تورن د محاکمې لپاره غوښتل.

د ۲۰۰۱ جنورۍ کې د سکاټلنډ یوې محکمې د لیبیا د استخباراتو یو غړی عبدالباسطالمقراحي د ۲۷۰ کسانو په وژلو تورن کړ، محکمې د دویم لیبیایي تورن د مجرم ثابتولو لپاره کافي دلایل نه لرل. د ۲۰۰۲ مارچ پر څوارلسمه د سکاټلنډ استیناف محکمې د المقراحي تورن پېژندل تصویب کړل.

څلورم: له امریکا سره د همکارو هېوادونو د ترهګرۍ ضد مبارزې لپاره د غښتلتیا ډېرول

د ترهګرۍ ضد مبارزې د مرستو د پروګرام مطابق، د امریکا متحده ایالتونه د هغو حکومتونو امنیتي بنسټونو ته خپلې مرستې ډېرې کړې، چې د ترهګرۍ پرضد مبارزه کې ورسره ملګري دي. امریکا دوی ته د هوایي ډګرونو د امنیت، د بمونو د کشفولو، بندیانو د خوشي کولو او کړکېچن وضعیت د قابو کولو برخه کې مرستې کوي. همداشان د ترهګرو د پیسو مینځلو برخه کې هم له دوی سره همکاري کوي.

د تېرو دیارلسو کلونو په اوږدو کې مو د نړۍ له ۱۵۲ هېوادونو له څه باندې ۳۵ زرو چارواکو سره د ترهګرۍ ضد بېلابېلو اړخونو په اړه همکارۍ کړې دي.

د امریکا پوځې جګړه د ۲۰۰۱ اکتوبر پر اوومه پیل شوه، او په یوځو اوونیو کې یې افغانستان کې د القاعدې لمن په لویو بمونو غورځولو ورټوله کړه، او د هغوی خواخوږی طالب حکومت هم ړنګ شو. د امریکا سربېره، د نورو هېوادونو

پوځیان هم په یوه لوی ایتلاف کې راغونډ شول (استرالیا، کاناډا، چک جمهوریت، فرانسه، جرمني، ایټالیا، جاپان، نوی زیلنډ، ناروې، پولنډ، کوریا، روسیه، ترکیه، برتانیا او نور.. ) د ۵۵ هېوادونو ځواکونو د امریکایي ځواکونو ملا وتړله. د ۲۰۰۲ له مارچ راهیسې افغانستان کې پوځي عملیات پیل شول.

سفیر فرانسیس اکس ټایلر

# د امریکا د بهرنیو چارو وزارت

# د نړیوالې ترهګرۍ بیلګې ـ ۲۰۰۱

# د ترهګرۍ ضد مبارزې له همغږي کوونکي مرکزه خپور شوی

# ۲۰۰۲، د مې ۲۱

## افریقاـ ځغلنده کتنه

«د افریقایي هېوادونو د یووالي اتحادیه د امریکا له ولس او حکومت سره د زړه له کومې خواشیني شریکوي، او دغه اتحادیه د دغه ناورین نه یوازې د امریکایانو لپاره یوه لویه غمیزه بولي، بلکې د ټولو انسانانو لپاره یې یو لوی غم ګڼي».

/ د ۲۰۰۱ سپتمبر په ۲۰ د افريقايي هېوادونو د يووالي اتحاديې اعلاميه/

د سپتمبر د يوولسمې پېښه تقريباً ټولو وغندله، ان د ليرې صحرا پرتو افريقايي هېوادونو هم دا يوه لويه غميزه وبلله. دغو حکومتونو هم د ترهګرۍ ضد جګړې ملاتړ اعلان کړ. سربېره پر دې چې له امريکا او نړيوال ايتلاف سره يې خپل ملاتړ وښود، د افريقايي هېوادونو د يووالي اتحاديې، د سوېلي افريقا د ودې ډلې، او داسې نورو بنسټونو د ترهګرۍ ضد جګړې لپاره ځان ملاتړی اعلان کړ. افريقا څکه د ترهګرۍ ضد پاڅون لپاره پلمه غوښته، چې په کور د ننه د لږکيو (اقليتونو) ترمنځ د خونړيو جګړو شاهده وه، او له ترهګريزو فعاليتونو په ګټې اخيستلو يو شمېر ډلو واک ته ځان رسول غوښتل، يا يې ياغي ګوندونه جوړ کړي وو، او د حکومت ضد د خپ او ترپ غلچکي بريدونه يې کړل، چې تر ټولو ښکاره بېلګې يې په کانګو جمهوريت، لايبريا او سيراليون کې وې. خو ځينو نړيوالو ترهګرو ډلو اسلامي اړيکي هم پالل، چې القاعده او د لبنان حزب الله يې يوه بېلګه ده. دغو ډلو د افريقا په بې وزلو هېوادونو کې خپل حضور ډېر کړی و، څکه دوی باوري وو چې واکمن کمزوري حکومته يې پخپله خاوره کې نه شي ځپلی. ځينې داسې رپوټونه هم وو چې ګني ترهګر د الماسو د ناقانونه سوداګرۍ له لارې په شخړمنو سيمو کې سيمه ييز خواخوږي هم د پيسو په مقابل کې د ځان کړي دي. سودان د ترهګرو له اوو پالونکو هېوادونو يو دی.

# انګولا

د سپتمبر پر ۱۱ پر امريکا له بريدونو وروسته انګولا د ترهګرۍ پرضد پراخ ګامونه واخيستل. او د نومبر په وروستيو کې د انګولا ولسي جرګې يو قانون تصويب کړ، چې له مخې يې د ترهګرۍ پرضد سيمه ييزه او نړيواله مبارزه کې خپله ژمنتيا وښوده. ولسمشر ډوس سانتوس په ښکاره د امريکايي پوځي خوځښتونو ملاتړ وکړ او د ترهګرۍ پرضد د امريکايي يووالي د پرېکړو ملا يې وتړله.

تر څه باندې دوو پېړيو پورې، انګولا د انګول د ازادۍ ملي جبهې (يونيتا) او د انګولا د حکومت ترمنځ د کورنۍ جګړې شاهده وه. داسې باور کيږي چې يونيتا په ۲۰۰۱ کال د ولسي وګړو د وحشيانه وژنو مسؤوله وه. ناپېژاندو سخت دريځو ـ چې تر ډېره د يونيتا ياغيانو ته اشاره کيږي ـ د اګست په وروستيو کې يوه اورګاډي ته ځو (کمين)

ونیو، چې په پایله کې یې لږترلږه ۲۵٦ کسان ووژل شول او ١٦١ نور سخت ژوبل شول. د همدې میاشتې په وروستیو کې وسله والو پر یوه بس توغندی وتوغاوه، چې لږترلږه ۵۵ کسان یې ووژل او لس نور یې ټپیان کړل.
د ۲۰۰۱ کال په اوږدو کې د انګولا د کورنۍ جګړې اور څنګلوري نامیبیا ته وغځېد. د انګولا حکومت د نامیبیا د حکومت په غوښتنه نامیبیا ته د یونیتا د یاغیانو د پښو اثار پسې واخیستل. پر سرحدي سیمه ډېرې نښتې وشوې، خو په مې میاشت کې یاغیانو پر یوه کلي برید وکړ چې لږترلږه یو کس یې وواژه او ګڼ نور یې ژوبل کړل.

## ایا الماس او تنزانیت د ترهګرۍ د تمویل بدیلې لارې دي؟

ګڼداسې رپوټونه وو، چې ګني د القاعدې شبکه په سیرالیون کې د یاغیانو له خوا  د الماسو له استخراجولو میلیونونه ډالر ترلاسه کوي، او داسې ګومان هم کېده چې د یاغیانو متحده جبهې پر القاعدې شبکې د میلیونونو ډالرو په ارزښت الماس پلورلي دي.

دې ته ورته، د القاعدې شبکې د تمویل پخاطر د تنزانیت د پېر او پلور خبره هم کېده، ان تر دې چې په یوه راپور کې راغلي وو، د القاعدې شبکې د بنسټګر اسامه بن لادن یوه مخکني سکرتر  د هغو تنزانیت پېر او پلور ورځنی راجستر ساتلی، چې په تېرو څو کلونو کې یې له برکته القاعدې څو کاله عملیات مخته وړي دي.

له دغو ګومانونو او اټکلونو وروسته، سخت دریځې اسلامپالې ډلې (چې د لبنان حزب الله ډله هم پکې ده) د کانګو جمهوریت د الماسو له پېر و پلور میلیونونه ډالر ګټه ترلاسه کړې، چې د فعالیت په خپلو سیمو کې خپلې چارې پرې سمبالوي.

خو د امریکا متحدو ایالتونو له ملګرو ملتونو سره په ګډه او د الماس تولیدوونکو هېوادونو په همکارۍ او د واردوونکو هېوادونو په ښکېلتیا سره، د سوداګرۍ نړیوال سیستم ته د هغو سیمو د الماسو پر رسولو بندیز ولګاوه، چې ناامنه او تل پکې شخړې وي.

## جیبوتي

جیبوتي د ترهګرۍ پروړاندې د امریکا په مشرۍ پیل شوې مبارزه او جګړه کې له وخت مخکې د ملاتړ لاسونه پورته کړل، جیبوتي د فرانسې، جرمني او برتانیا د ځواکونو کوربه توب په ډېره سړه سینه ومانه. دغه هېواد هغه مالي

شبکې او بنسټونه هم وتړل، چې د القاعدې شبکې د تمویل ګومان او شک ورباندې کېده، او د هېواد ټولو ادارو ته یې امر وکړ، چې د امریکا د ترهګرۍ ضد مبارزې له بنسټونو سره پوره همکاري وکړي.

## ایتیوپیا

ایتیوپیا د ترهګرۍ ضد جګړې بل قوي اړم وګرځېد او د سپتمبر د ۱۱ تر بریدونو وروسته سم لاسي یې پخپله خاوره کې د شکمنو ترهګریزو مالي راکړو ورکړو کارونه بند کړل. دغه هېواد په سیمه کې د ممکنه ترهګریزو فعالیتونو د مخنیوي لپاره هم ځان چمتو کړ.

## کینیا

کینیا لا له وړاندې د ۱۹۹۸ په اګست کې د القاعدې له بریدونو هغه مهال ځپ ځپانده شوه، چې په نایروبي کې د امریکا پر سفارت القاعدې برید وکړ. کینیا هم په سیمه کې د القاعدې شبکې ضد فعالیتونو ملاتړې شوه. دغه هېواد د بېلابېلو ترهګریزو مالي بنسټونو په ترلو لاس پورې کړ. په سومالیا کې یې د ملي پخلاینې رامنځ ته کولو هڅې وکړې. کینیا د ترهګرۍ ضد له ۱۱ نړیوالو تړونونو ۱۰ لاسلیک کړي چې تر ټولو وروستی تړون په ۱۹۹۹ کال د ترهګرۍ د تمویل د مخنیوي په موخه د ملګرو ملتونو تړون و.

## نایجریا

نایجریا پر دې سربېره چې په نړۍ کې یې د ترهګرۍ ضد په نامه د امریکایي جګړې ملا وتړله، بلکې پر افغانستان یې د امریکا د برید هرکلی هم وکړ. نایجریا په ملګرو ملتونو له دیپلوماتیکو لارو د ترهګرۍ ضد جګړې او په تېره بیا د افریقا لویدیځې څنډې هېوادونو امنیت خوندي کولو ته ډېرې هلې ځلې وکړې.

د نایجریا حکومت د ترهګرۍ ضد مبارزې د مالي او اقتصادي ملاتړ قانون هم ومانه، چې د ترهګرو مالي ملاتړ په کې جرم بلل شوی. د نایجریا حکومت ـ که څه هم ډېری وګړي یې مسلمانان دي ـ له دې ډېره وېره لرله، چې ګنې هېواد یې د اسلامي سخت دریځو د روزنې پر مرکز وانه وړي.

## سنیګال

سنیګال د سپتمبر د یوولسمې تر بریدونو وروسته د افریقایي غوښتنې منلو کې مخکښ رول درلود، داسې چې د ولسمشر عبدالله واد له خوا د ترهګرۍ ضد وړاندیز شوی تړون یې ومانه. ولسمشر واد د ۲۰۰۱ اکتوبر کې په ډاکار

کې د افریقایي یووالې هېوادونه د ترهګرۍ ضد مبارزې ته په دوه ورځني کنفرانس کې راوبلل او په ډاکار کې د سنیګال له مرکزي او نورو بانکونو یې وغوښتل، چې د شکمنو ترهګرو کسانو د پیسو راکړه ورکړه ودروي.

سنیګال په سیمه کې د ترهګریزو فعالیتونو د څارلو لپاره خپل استخبارات هم د امریکا په واک کې ورکړل.

## سومالیا

سومالیا چې کلونه کلونه پکې مرکزي حکومت نشته، د ترهګرو د فعالیتونو او ترهګریزو شبکو خوندي ځای ګڼل کېږي. په سومالیا کې د قبیلو ترمنځ‌جګړو او بې وزلۍ د دغه هېواد د حکومت کمزوري کولو ته ډېره زمینه برابره کړه او هېڅ‌کومې ډلې ونه شوای کړای، چې د هېواد واګې ترلاسه او قوي حکومت جوړ کړي. په سومالیا کې ځینو ډلو د ترهګرۍ ضد مبارزې نارې پورته کړې، خو له دې سره سره، یوه سیمه ییزه ډله (اسلامي اتحاد) چې په سومالیا کې د اسلامي حکومت جوړولو هڅې کوي، ان له خپلې خاورې بهر په ایتیوپیا کې هم بریدونه وکړل چې له القاعدې سره د تړاو لرلو شک ورباندې کېږي. دغه ډله لاهم د سومالیا په ځینو برخو کې فعاله ده. خو تر ټولو خطرناکه ډله د (الشباب) جنګیالي دي.

## سوېلي افریقا

جنوبي افریقا لومړی هېواد و چې په امریکا کې یې د سپتمبر د ۱۱ بریدونه وغندل. د سوېلي افریقا حکومت هم لکه نورو افریقایي حکومتونو له امریکا سره ظاهراً د ترهګرۍ ضد جګړې ملاتړ اعلان کړ. همداشان د ترهګرۍ ضد افریقایي یووالي اتحاد تړون یې هم تایید کړ. خو د ۲۰۰۱ کال په اوږدو کې دغه هېواد له ترهګریزو بریدونو خوندي نه و.

## یوګندا

د یوګندا ولسمشر یوري موسیویني په ښکاره د سپتمبر د یوولسمې بریدونه وغندل او نړۍ کې د ترهګرۍ ضد مبارزې یو موټی کېدو ته راوبلله. خو په دغه هېواد کې د (رب پوځ) د شمالي سیمو د نیولو هڅې پیل کړې او په لوېدیځه برخه کې یې د دیموکراسۍ متحد ځواکونه جنګېدل.

# د امریکا د بهرنیو چارو وزارت

# د نړیوالې ترهګرۍ نمونه ۲۰۰۱ او د ۲۰۰۲ د مې ۲۱

# سوېلي‌اسيا ته ځغلنده نظر

((پاکستان د ترهګرۍ ضد نړيواله جګړه کې ثابت خو ابتدايي دريځ لري، موږ په هره بڼه چې وي د ترهګرۍ خلاف يو  هغه که د نړۍ په هر ځای کې وي)).
دا د پاکستان د پخواني ولسمشر پرويز مشرف هغه څرګندونې وې، چې د ۲۰۰۲ فبرورۍ پر ۱۳ يې واشنګټن کې د امريکا له پخواني ولسمشر جورج بوش سره لرلې.
په ۲۰۰۱ کال، سوېلي اسيا د ترهګرو له خوا د امريکا او ملګرو  پرضد يې په ګرده نړۍ کې د ګټې اخيستو تر ټولو خوندي ځای ګڼل کېده، چې ښکاره بېلګه يې د دسمبر پر ۱۳ د هند پر پارلمان بريد و، خو د سپتمبر د يوولسمې له بريدونو وروسته، د ترهګرو خوا ته نړيوال پام واړاوه، او په همدې پلمه يې پر افغانستان خپل ځواکونه ور مارش کړل، چې ګني د ترهګرو جرړې له همدې ځايه نورې نړۍ ته غځېدلې دي. همدا وو چې افغانستان د ترهګرۍ جګړې د زور ازمايلو لومړی ډګر وګرځېد.

پر افغانستان د امريکا په مشرۍ د پوځي يرغل اهداف ښکاره وو:

1. د القاعدې او ترهګرۍ له منځه وړل،
2. د طالبانو واکمنې ختمول،
3. افغانستان کې د يوه پراخ ديموکراتيک حکومت جوړول.

په سوېلي اسيا کې ټولو هېوادونو د ترهګرۍ ضد دغه هڅې تاييد کړې، ځکه چې په سيمه کې واکمن حکومتونه په وېره کې وو، که چېرې افغانستان کې د ننه ترهګري ختمه نه شي، شايد ژر د دوی خوندي ښارونو ته هم ترهګر لاره ومومي، خو د وخت په تېرېدو سره د دغو هېوادونو په سياستونو کې هم بدلون راغی.

ښکاره بېلګه يې د پاکستان د هغه وخت د ولسمشر پروېز مشرف له خوا د پاکستان سياست کې يو لړ بدلونونه راوستل وو. نه يوازې پاکستان له طالبانو سره ټينګ اړيکي لرل، بلکې اسلام اباد پخپله خاوره کې د افغانستان د ننه د طالبانو د واکمنۍ ړنګولو لپاره امريکايي جنګي الوتکو ته خپل هوايي ډګرونه هم ورکړل. پاکستان له افغانستان سره خپله پوله په دې هدف وتړله، چې له افغانستانه هغه کسان ونه وځي،  چې امريکا او لوېديځ قوتونه يې د خپلو او نابودولو لپاره ورغلي وو. پاکستان نه يوازې امريکا ته د تښتېدونکو هويتونه او د تېښتې ځايونه هم مشخص

کړل، بلکې په اسانۍ یې ونیول. مشرف پخپل هېواد کې د سیمه ییزو سخت دریځو پر وړاندې هم له سختګیرۍ کار واخیست او تر ۲۰۰۰ ډېر سخت دریځي یې ونیول، چې د جیش محمد مشر مولانا مسعود اظهر هم پکې و.

او په سریلنګا کې، د حکومت او تامیل پړانګانو ترمنځ له لسیزو راهیسې د پرله پسې لانجو د سوله ییز حل کمزوری امکان و. په ۲۰۰۱ کال تامیل پړانګانو د کولمبو شمال کې پر ځینو نړیوالو او پوځي هوایي ډګرونو ویجاړوونکي بریدونه وکړل. خو پردې سربېره، دسمبر میاشت کې دغې ډلې او حکومت د ناروې په منځګړتوب اوربند وکړ. د امریکا متحده ایالاتو هم د ناروې د وساطت ملاتړ وکړ او د خبرو له لارې یې د لانجې د هوارولو هڅې وکړې. پر دغه مثبت بدلون سربېره، د امریکا متحدو ایالتونو د تامیل پړانګانو ازادي غوښتونکې ډله د بهرنیو ترهګرو په لست کې پرېښوده.

## افغانستان

په افغانستان کې د طالبانو د اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال نړیوالې ټولنې او امریکا د افغانستان په قلمرو کې د ترهګریزو فعالیتونو د درولو غوښتنې وکړې، خو د طالب مشرتابه د سخت دریځۍ له کبله پر افغانستان د امریکا او اروپایي هېوادونو د پوځي یرغل لپاره د القاعدې د ځپلو پلمه او د پوځي مداخلې بهانه پیدا شوه. د ۲۰۰۱ کال په لومړیو نهو میاشتو کې، اسلامپالو سخت دریځو جنګیالیو د شمالي امریکا، اروپا، افریقا، منځني ختیځ سوېلي او سوېل ختیځې اسیا په ګډون د نړۍ له ګوټ ـ ګوټه افغانستان ته مخه کړه او افغانستان یې د پوځي روزنو او ترهګریزو فعالیتونو لپاره د لوبې ګرم میدان وباله. هغه مهال د افغانستان د ننه د طالبانو جګپوړي مشران او په نیویارک، واشنګټن او پنسلوانیا کې د سپتمبر د ۱۱ د بریدونو اصلي طراح او د القاعدې شبکې بنسټګر اسامه بن لادن هم افغانستان کې اوسېده، اسامه لا له وړاندې په ۱۹۹۸ کال کینیا او تنزانیا کې د امریکایي سفارتونو په چاودنو کې پړ بلل شوی و. القاعدې له فرصته په ګټې اخیستنې افغانستان د خپلو جنګیالیو د پوځي تمریناتو او ترهګریزو فعالیتونو د عملي ډګر لپاره غوره ځای وباله، همدا وو چې د طالبانو امریکایي ضد مفکورې د طالبانو د حکومت په لمن کې دوی ته ځای ورکړ، او د امریکایي او نورو اروپایي هېوادونو د ګټو خلاف بریدونو لپاره یې په بهرنیو هېوادونو کې سخت دریځي اسلامپالي وروزل او د سپتمبر پر ۱۱ یې د خپلو وېروونکو بریدونو لړۍ پیل کړه.

دغو بریدونو د امریکا او نړیوال ایتلاف پوځي پام ځان ته واړاوه. همدا وو چې د طالبانو او القاعدې شبکې پرضد زموږ جګړه تر ډېره بریده کامیابه وه، چې اوس مهال افغانان له امریکایي او ایتلافي ځواکونو سره اوږه ـ په اوږه په هېواد کې د طالبانو او القاعدې د ځپلو او جرړې ایستلو پرضد جنګېږي. د جرمني په بن ښار کې د افغانستان د کړکېچ ختمولو او حکومت جوړولو لپاره غونډه وشوه، او پر سوله ییز حل او د پخلاینې پر لارو چارو خبرې وشوې. د بن پرېکړه دا وه چې افغانستان کې دې لنډمهالی حکومت جوړ شي او نړیواله ټولنه دې د ترهګرۍ ضد جګړې

د مبارزې ترځنګ د افغانستان د بیارغونې په برخه کې مرسته وکړي. په مقابل کې نړیوالې ټولنې د ۲۰۰۲ جنورۍ میاشت کې له افغان ولس سره د څلورنیم میلیارد ډالرو مرستې ژمنه وکړه، چې د طالبانو د واکمنۍ پرمهال ویجاړ شوی افغانستان ورغوي.

## طالبان

طالبان په ۱۹۹۶ کال افغانستان کې راپورته شول، خو د ۲۰۰۱ پیلېدو سره یې د افغانستان نژدې ۹۰ سلنه خاوره لاندې او تر خپل کنټرول لاندې راوسته، خو په شمالي ولایتونو کې د شمالي ټلوالې له کلک مقاومت سره مخامخ شول، که څه هم شمالي ټلوالې مخکې پر ځینو سیمو حکومت چلاوه، خو ملګرو ملتونو او ځینو هېوادونو په رسمیت پېژندلې وو.

د طالبانو حکومت د نړۍ له ډېرو دیکتاتوري حکومتونو څخه و، چې د واکمنۍ پرمهال یې افغانستان د ترهګرو د ارام او ازاد فعالیت ډګر وګرځېد، اسامه بن لادن او د القاعدې ترهګرو د طالبانو له نظام سره د شمالي ټلوالې د ځپلو لپاره د وسلو، پیسو، او پوځي روزنې مرسته کوله، خو په مقابل کې طالبانو تر خپل نفوذ لاندې سیمو کې القاعدې ته خوندي ځایونه او لوژستیکي اسانتیاوې برابرې کړې وې.

د ملګرو ملتونو امنیت شورا د ۲۰۰۰ دسمبر میاشت کې پر طالبانو له دې کبله بندیزونه ولګول، چې د القاعدې شبکې او نړیوالو ترهګرو ملا تړې او پخپله لمن کې یې هغوی ته ځای ورکړی، او اسامه عدالت ته نه سپاري، او نه هم غواړي چې افغانستان کې دې د القاعدې د ترهګرو پوځي روزنځایونه وتړل شي.

### پر طالبانو د امنیت شورا بندیزونه:

- د اسامه بن لادن د ټولو مالي سرچینو وچول
- د طالبانو ضد وسلو پر بندیز پابندي
- بهر کې د طالبانو د ټولو دفترونو تړل
- بهر کې د طالبانو د ډیپلوماتانو شمېر راکمول
- له منځګړو او استازو پرته، د طالبانو پر زیاترو مشرانو د سفر کولو بندیز
- د طالبانو رژیم ته د هغو کیمیاوي توکو پر صدور بندیز لګول، چې د هیروینو په تولید کې کارول کېږي
- د (آریانا افغان) هوایي شرکت ټولو دفترونو تړل، او له افغانستانه بهر او افغانستان ته له بشري مرستو پرته پر ټولو الوتنو بندیز

د امریکا متحدو ایالتونو په وار ـ وار ګواښ وکړ تر هغو چې اسامه بن لادن افغانستان کې د طالبانو د قلمرو د ننه وي، د طالبانو مشران به د دغو بریدونو پړه بلل کیږي. د سپتمبر د ۱۱ تر پېښو وروسته، ولسمشر بوش ګواښ وکړ چې یا دې اسامه ورته وسپاري او یا دې بریدونو ته ځان تیار کړي، خو طالبانو دویمه خبره غوره وبلله، همدا وو چې پر افغانستان د یرغل په لومړیو څو اوونیو کې له کابل او زیاترو ولایتونو د طالبانو د واکمنۍ ټغر ټول شو.

## هند

هند هم د کال په اوږدو کې د ترهګرو هدف ګرځېدلی و، خو پر امریکا یې د سپتمبر د ۱۱ بریدونه په سختو ټکو غندلي وو، او د کورنیو ګواښونو د چارې موندلو لپاره هندي پارلمان په اکتوبر میاشت کې داسې یو قانون تصویب کړ چې امنیتي ځواکونو ته د ترهګرو د ځپلو او وژلو واک ورکړ. له هماغه وخته د هندي حکومت د (ترهګرو ډلو لست کې ۲۵ ډلې شاملې شوې او دغه ټولې ډلې یې (ناقانونه) ډلې وبللې، د کورنیو چارو وزارت له نورو ټولو وزارتونو وروسته تر هغه د خپلو برېښنالیکونو لپاره د خوندي سیستم جوړولو غوښتنه وکړه، چې اکتوبر میاشت کې یوه برېښنالیک وایروس واستاوه. همداشان، دغه وزارت اکتوبر میاشت کې د کشمیر دره کې د هندي هوایي ځواکونو پر یوې اډې تر یوه ځانمرګي برید وروسته د مهمو بنسټونو د ساتنې لپاره نور امنیتي ځواکونه وګومارل. بیا وروسته هند د ډېر خطر احساس وکړ، ځکه چې دسمبر کې یې پر پارلمان هم برید وشو.

د بغاوت کچه لانوره پسې وغځېده، په تېره بیا په ۲۰۰۱ کال کشمیر کې ډېرې شخړې وشوې. د اکتوبر پر لومړۍ نېټه په سرینګر کې د جمو او کشمیر قانون جوړونې د ټولنې ودانۍ په دروازه کې د سخت دریځو له لوري بمي برید لږترلږه ۳۱ کسان ووژل او ۶۰ نور یې ټپیان کړل. د دغه برید پړه کشمیري ترهګرې ډلې جیش محمد پرغاړه واخیسته. د دسمبر پر یو دیرشمه په وسله سمبالو کسانو نوي ډیلي کې د هند پر پارلمان برید وکړ، چې لږترلږه ۱۳ ترهګر او امنیتي کسان پکې ووژل شول. هند د دغه برید د پړې ګوته لشکر طیبه او جیش محمد ته ونیوله او له پاکستاني حکومت یې وغوښتل چې سم لاسي دې هغه ترهګر ونیسي چې د پاکستان خاوره کې پر هند بریدونه طرح کوي. هند همداشان په شمال ختیځ کې د جلا غوښتونکو ډلو له پرله پسې شخړو او تاوتریخوالو سره لاس او ګرېوان و. (د ۲۰۰۲ د اکتوبر پر ۲۲، وسله والو کلکته کې د امریکایي مرکز مخې ته پر پولیسو ډزې وکړې او څلور کسان یې ووژل نهه یې ټپیان کړل، که څه هم کوم امریکایی پکې ونه وژل شو، خو هندي پولیسو په ډاګه وویل چې دغه امریکایي مرکز په لوی لاس په نښه شوی و).

هندي حکومت له امریکا سره د ترهګرۍ ضد مبارزه کې د یووالي غږ پورته کړ، چې په دې لړ کې د هند او امریکا د قانون د تطبیقولو بنسټونو ترمنځ همغږي او راشه درشه ډېره شوه، د هند- امریکا هغه مشترکې هڅې ډېرې شوې، چې د ترهګرۍ له منځه وړلو د هدف لپاره په ۱۹۹ کال رامنځ ته شوې وې. د ۲۰۰۱ په جولای کې واشنګټن او د ۲۰۰۲ جنورۍ کې نوي ډیلي کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د هند او امریکا د اطلاعاتو د شریکولو هوکړه وشوه.

# نیپال

د ترهګرۍ ضد مبارزې او نړیوال ایتلاف جوړېدو پیل کې نیپال د ترهګرۍ ضد پوځي ګام اخیستو قوي ملاتړی و، او نړیوال ایتلاف ته یې پرخپلو هوایي ډګرونو د الوتنو او فضایي حریم کې د الوتکو د تګ راتګ اجازه ورکړه. د هند په پرتله نیپال ته د ترهګرو ګواښ لوی و ـ ځکه چې ځایي ماویستانو هلته د امریکایي بنسټونو پرضد نه، بلکې د خپل حکومت او هېواد پرضد د پاڅون هڅې کولې، چې بیا وروسته یې د هېواد پنځه سیمې ونیولې. په ۱۷ سیمو کې یې خپل نفوذ او شتون ثابت کړ، او د هېواد په تقریباً دري پنځوسو نورو سیمو کې هم کم او زیات موجودیت لري.

د هغه وخت د نیپال لومړی وزیر شیر بهادر دوبا په جولای کې واک ته ورسېد، او د جوړجاړي له لارې یې د شخړو د سوله ییز حل نارې وهلې. حکومت او ماویستانو د اوربند موافقه وکړه او د خبرو درو پړاوونو کې دوبا د مهمو ټولنیزو اصلاحاتو راوستلو ژمنه وکړه، چې ماویستانو ته یې په اقتصادي او ټولنیزو برخو کې اندېښنې راوټوکولې، خو په پای کې ماویستان له خبرو په شا شول، او د اوربند له ژمنې هم تېر شول، د نومبر پر درویشتمه ماویستانو د هېواد بېلابېلو سیمو کې ترهګریز بریدونه وکړل. حکومت بېړنی حالت اعلان کړ. او د۲۰۰۱ نیمایي کې، ماویستانو د خپلو بریدونو لمن وغځوله او پر چارواکو او سوداګریزو پروژو یې بریدونو ته لومړیتوب ورکړ. په دې سره راتلونکي کې د جوړجاړي د خبرو امکان ډېر لږ شو.

ماویستان تر ډېره د حکومت پرضد له ترهګریزو فعالیتونو ګټه اخلي، چې ډېر کله ولسي وګړي هم پکې په نښه شوي، د نړیوالو مرستندویو ټولنو او امریکایي اهدافو پرضد بریدونو ډېرېدو په اړه هم اندېښنې ډېرې شوې. (د بېلګې په توګه: ترهګرو په منګالیسین سیمه کې د پاملرنې Care نړیوالې ټولنې پر ودانۍ د ۲۰۰۲ کال د فبرورۍ پر ۱٦ او ۱۷ بریدونه وکړل). تر برید مخکې د دسمبر پر ۱۵، د امریکا سفارت کې یو ځایي کارکوونکی ووژل شو، چې تر ډېره نیپالي پولیسو او امریکایي چارواکو د پېښې پلټنه جاري وساتله. خو کره معلومات یې ترلاسه نه کړل چې دا کار چا او د کومې انګیزې له کبله کړی دی.

# پاکستان

د سپتمبر د ۱۱ تر پېښو وروسته، پاکستان د ترهګرۍ پرضد نړيوالو ايتلاف جګړه کې د کلک ملاتړ ژمنه وکړه. پاکستان امريکا ته د دغې جګړې د پيل ورځو کې بې سارې شاتګ وکړ، امريکايي ځواکونو ته يې پر خپلو هوايي ډګرونو د فعاليت اجازه ورکړه. پاکستان له امريکا سره په ګډه پخپله خاوره کې د سخت دريځو د موندلو چاره کې هم بې دريغه هڅې وکړې، هغوی يې ونيول، او د افغانستان او پاکستان ترمنځ پوله يې وتړله (د ۲۰۰۲ فبرورۍ کې، امريکا او پاکستان د ترهګرۍ مبارزې په باب د رسمي ليدنو کتنو کچه ډېره کړه).

د نومبر له مياشتې اسلام اباد په ځينو پاکستاني بانکونو کې د ترهګرۍ په تړاو تر ۳۰۰ زرو ډېر ډالر کنګل کړل. او دسمبر مياشت د هغه وخت ولسمشر پرويز مشرف يوه داسې طرحه اعلان کړه، چې حکومت بايد پاکستان کې هغه ديني مدرسې د هېواد په رسمي تعليمي سيستم کې مدغمې کړي، چې ځينې يې ترهګرو ته خوندي ځايونه ورکړي. پاکستان د پوليسو سيستم کې هم د اصلاحاتو راوستل پيل کړل او د کډوالۍ تګلارې څارنه يې پراخه کړه، او د ترهګرۍ ضد نويو مالي قوانينو جوړولو ته يې ملا وتړله.

په دسمبر کې، مشرف د (پاکستان خلاف) ترهګرو پرضد مبارزه چټکه کړه، او د ۲۰۰۲ کال پيل کې پاکستاني چارواکو تر ۲۰۰۰ ډېر داسې کسان ونيول، چې د لشکر طيبه او جيش محمد اوړيکو ډلو غړي او مشران هم په کې وو، او له طالبانو او کشمير کې يې له نورو سخت دريځو ډلو سره اړيکې لرل. همدا وو چې پاکستان کې له وېرې له کشميري سخت دريځو ډلو سره خواخوږي کمه شوه، ځکه چې دغه ډلې يې ترهګرې وبللې او هغه څوک به يې نيول، چې له دغو ډلو سره نژدې تړاو او راشه درشه ولري. خو لاهم ځينې داسې پوښتنې بې ځوابه پاتې دي، چې ايا د کورنيو سخت دريځو په اړه د مشرف غوڅ سياست رښتيا هم عملي شوی دی او دوام به وکړي.

| |
|---|
| ډانيل پيرل<br>د ۲۰۰۲ د جنورۍ پر ۲۳، د وال سټريټ ژورنال خبريال او د سوېلي اسيا د دفتر مشر ۳۸ کلن ډانيل پيرل کراچۍ کې وتښتول شو. هغه مهال دغه پېښه د ريچرډريډ د القاعدې د اړيکو له کيسې او پاکستان کې له سخت دريځو ډلو سره وتړل شوه، د پيرل تښتوونکو د يوه برېښناليک له لارې هغه يو جاسوس وباله او خپلې اوږدې غوښتنې يې وړاندې کړې.<br>څو اونۍ د پيرل برخليک نامالوم و، ولسمشر بوش او مشرف هم دغه پېښه وغندله او ژمنه يې وکړه چې ترهګرو ته به په دې موضوع کې له هيڅشي هم تېر نه شي. |

پاکستاني چارواکو د پیل د ځرک لګولو او تښتوونکو د موندلو لپاره تر خپلې وسې پورې هلې ځلې وکړې، د امریکا سفارت هم په دې برخه کې د تحقیقاتو برخه کې ډېره همکاري وکړه. د فبرورۍ یوویشتمه، په ډاګه شوه چې پیل د تښتوونکو له خوا وژل شوی.

په کراچۍ کې پولیسو د دې قضیې په تړاو د احمد عمر شیخ په ګډون یو شمېر کسان ونیول. شیخ په زندان کې درې کاله له دې کبله بندي شو چې په ۱۹۹۴ کال کې یې دوه برتانویان او یو امریکایی تښتولي وو او له نیپال نه هند ته تلونکې هندۍ الوتکه یې د افغانستان کندهار ولایت کې اجباري کښېناستو ته اړ کړې ده. خو د الوتکې د یو سل او پنځه پنځوس سپرلۍ د خوشي کولو مقابل کې تښتوونکو د شیخ او د جیش محمد د هغې اورپکې ډلې له هندي زندانه د بنسټګر مسعود اظهر د خوشي کولو غوښتنه وکړه، چې په ۲۰۰۱ کال کې د امریکا د بهرنیو ترګرو په لست کې شامله شوې ده. هندي حکومت دواړه خوشي کړل.
ولسمشر بوش وویل: ((هغه کسان چې امریکایان ګواښي، هغه کسان چې په ترهګرو جرمي جرمونو کې ښکېل دي، باید پوی شي چې دغه جرمونه نه یوازې د دوی قضیو ته زیان رسوي، بلکې نړۍ کې د ترهګرۍ د عواملو له منځه وړلو لپاره د امریکا هوډ لاپسې پیاوړی کوی)). د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د پیرل وژنه یو (وحشي عمل) وباله او ژمنه یې وکړه چې امریکا او پاکستان (باید په دې جرم کې د ټولو ښکېلو کسانو د پېژندلو او عدالت ته یې د راکښلو لپاره تر خپلې وسې پورې هڅې وکړي).
له پیرل د هغه فرانسوی خبریاله مېرمن ماریان پاتې شوه، چې د خپل مېړه د وژل کېدو په ورځو کې د اوو میاشتو ماشوم میندواره هم وه.
د پیرل په وژل کېدو، دا اهمیت په ډاګه شو، چې ترهګرو ته باید له هېڅ‌شي باید سړی تېر نه شي، او نړۍ کې د خبریالانو د خطرناکې دندې مخته بېولو لپاره د هغوی د خوندیتوب د ضمانت خبره رامخې ته شوه.

## سریلنکا

سریلنکا هم پر افغانستان د امریکایي پوځي یرغل ملا وتړله او د امریکا د هغې نارې هرکلی یې وکړ چې هېچېرې به ترهګر پرې نه ږدي. د اکتوبر پر لومړۍ نېټه، د سریلنکا حکومت یو فرمان صادر کړ چې ټول مالي بنسټونه باید مرکزي بانک ته د هغو ترهګرو د مالي راکړې ورکړې په اړه خبر ورکړي، چې بندیزونه پرې لګول شوي. حکومت د ترهګریزو مالي سرچینو د وچولو امر هم وکړ. او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۷۳ شمېره پرېکړه لیک عملي کولو په رڼا کې یې نوي قوانین وضع کړل. کولمبو د سپتمبر تر پېښو وروسته د خپل کورني امنیت لپاره کلک تدابیر ونیول، او په هغو ځانګړو ځایونو کې یې خپل سرتېري ډېر کړل، چې په اسانۍ د ممکنه بریدونو هدف

ګرځېدلی شي. کولمبو د هغو پلاستیکي چاودېدونکو له نړیوال تړون سره هم یوځای شو، چې د ترهګرو لپاره په سیمه ییزه کچه ارزانه او اسانه وسله ګرځېدی شي.

د ۲۰۰۱ کال لومړیو کې، د تامیل ازادي غوښتونکو پړانګانو ایلام د ۲۰۰۰ کال لومړیو کې له یوه لوري پیل شوی اوربند بېرته تطبیق کړ. او اپریل میاشت کې یې اوربند مات کړ. همدا وو چې د حکومتي، امنیتي او ملکي او پوځي بنسټونو پرضد یې د هېواد په کچه پراخ بریدونه وکړل. د جولای پر څلورویشتمه، دغې ډلې د کولمبو شمال کې پر نړیوالو هوایي او پوځي ډګرونو د بریدونو لړۍ پیل کړه، چې ډېرو الوتکو او بنسټونو ته یې درانه مالي زیانونه واړول. په نومبر کې د دغې ډلې بریدونو ۱۴ پولیس ووژل او ۱۸ نور یې ټپیان کړل، چې څلور په کې ولسي وګړي وو. په نومبر کې یې د یوه داسې مخالف سیاستوال د وژلو هڅه وکړه، چې د پارلمان دسمبر ټاکنو ته یې کمپاین کاوه. خو د ۲۰۰۱ په اوږدو کې سریلنکا کې دغې ډلې یا نورو سخت دریځو ډلو پر هېڅ امریکایي ګټو او سوداګریزو مصالحو بریدونه ونه کړل.

د دسمبر پر څلورویشتمه، تامیل پړانګانو د یوې میاشتې لپاره اوربند اعلان کړ. د سریلنکا نوي منتخب حکومت هم اوربند وکړ. په ۲۰۰۲ کې دواړو خواوو خپل اوربند نوی کړ او د ناروې له حکومت سره یې له سره د سولې د خبرو هڅې پیل کړې. د ۲۰۰۲ فبرورۍ څلورویشتمه، دواړې غاړې د یوه رسمي اوربند په لاسلیکولو سلا شوې.

# د امریکا د بهرنیو چارو وزارت
# د نړیوالې ترهګرۍ نمونه ۲۰۰۱
# د ۲۰۰۲ مې ۲۱

## ختیځې اسیا ته ځغلنده نظر

د سپتمبر یوولسمې تر پېښو وروسته، د ختیځې اسیا هېوادونو دغه بریدونه وغندل، او زیاترو یې عملاً د ترهګرۍ ضد پیل شوې جګړه کې د مرستو وړاندیز وکړ، همدا وو چې په سیمه ییزه کچه یې د ترهګرۍ ضد قوت جوړولو کې پرمختګ وکړ. له القاعدې شبکې سره د تړاو په تور یې د نیول شویو عناصرو خبرونه د رسنیو او ورځپاڼو د سر لیکونه شول.
جاپان ډېر ژر لاس په کار شو او پر افغانستان یې د امریکا او لوېدیځ پوځي یرغل برخه کې سم لاسي مرسته وکړه.

په لومړي ځل **استرالیا** د امریکا له متحدو ایالتونو سره د پوځي همکارۍ په موخه انزوس معاهدې تطبیقولو ته متې بډوهلې. د ترهګرو په تړاو یې د ملګرو ملتونو امنیت شورا پرېکړه لیک عملي کړ او د هغو ترهګرو د مالي سرچینو بندولو چارې یې پیل کړې، چې د امریکا په لست کې شامل شوي وو. له افغانستان سره یې ۱۱ نیم میلیون ډالر مرسته وکړه او افغانستان ته یې استرالیایي ځواکونه واستول.

**نوي زیلنډ** هم افغانستان ته خپل سرتېري ولېږل، او په بشپړه توګه یې د ترهګرۍ ضد مبارزې د ملګرو ملتونو پرېکړه لیک هرکلی وکړ. دغه هېواد نوي قوانین او اجرآت هم وکړل، چې په لړ کې یې د افغانستان د مرستې په خاطر دغه هېواد ته سي ـ۱۳۰ ډوله الوتکې واستولې.

**فلپین** هم د خپلې مشرې ماکاباجال ارویو په مټ د امریکایي ایتلاف ملاتړ وکړ. سم لاسي یې خپله خاوره کې امریکایي پوځي الوتکو ته د تګ راتګ او هوایي حریم کارولو اجازه ورکړه، د کلارک او سوبیک اډې یې امریکایانو ته ورکړې، چې له دغه ځایه په اسانۍ پوځي توکي ولېږدوي، استخباراتي او لوژستیکي همکاري یې هم ورسره وکړه.

**جنوبي کوریا** هم د ترهګرۍ ضد مبارزې په باب د امریکایي جګړې بې قید او شرطه ملاتړ وکړ او د متحدو ایالتونو د یوه نژدې ملګري او ملاتړي په توګه یې د اړینو مرستو د وړاندې کولو ژمنه وکړه. د دغه هدف لپاره سوېلي کوریا افغانستان کې د پوځي ملاتړ په هدف د هوایي او ځمکني لېږد او طبي ملاتړ برخه کې له ایتلافي ځواکونو سره همکاري وکړه. همداشان د افغانستان د بیارغونې او بشري مرستو په چارو کې یې هم له افغانستان سره مالي مرسته وکړه. جنوبي کوریا د ترهګرۍ په نامه پیل شوې جګړه کې د مالي ملاتړ له اړخه خپل بنسټونه قوي کړل او خپل استخباراتي بنسټ یې پیاوړی کړ.

**چین** چې د ترهګرۍ قرباني شوی هم و، له دیپلوماتیک اړخه یې په ملګرو ملتونو او سوېلي او منځنۍ اسیا کې د ترهګرۍ ضد هڅو ملا وتړله، او له افغان لنډمهالي اداري سره یې مالي مرسته وکړه. بیجینګ زموږ د مرستې پر ټولو غوښتنو موافقه وکړه، او په لوړه او د کارپوهانو په کچه مو د ترهګرۍ ضد خبرې پیل کړې.

د کال په وروستیو کې، لا ډېرو نورو کارونو ته اړتیا وه؛ ځکه چې د وسلو نشه یي توکو او انسانانو قاچاق، منظم جرمونه او فساد هغه خطرناکې پدیدې وې، چې ترهګرو یې په لړ کې ګټه اخیستله.

**سنګاپور** او **مالیزیا** د کال په وروستیو کې په ختیځه اسیا کې داسې ترهګرې ډلې کشف کړې، چې له القاعدې شبکې سره یې تړاو درلود. همداشان د دغو ډلو د هغو پټو بریدونو له طرحو یې هم پرده پورته کړه چې د سیمې په کچه یې د لویو بریدونو نیت درلود. سنګاپور په دسمبر کې د اسلامي جماعت ۱۳ غړي په دې تور ونیول، چې ګنې سنګاپور کې یې د امریکا او نورو سفارتونو د بریدونو تابیا لرله. مالیزیا هم په ۲۰۰۱ کال هغه لسګونه شکمن ترهګر ونیول چې ویل یې د سیمې په کچه یې فعالیتونه درلودل.

د ختیځې اسیا زیاتره هېوادونه د ۲۰۰۱ کال په اوږدو کې له ترهګریزو فعالیتونو تر پزې راغلي وو، چې ددغو فعالیتونو زیاتره برخه پر سیمه ییزو شخړو ولاړه وه. فلپین کې د ابو سیاف ډلې د ۲۰۰۰ کال په څېر تښتونې تکرار کړې. د مې پر ۲۷ مه دغې ډلې د فلپین سوېل کې له یوې سیاحتي سیمې درې امریکایان او ۱۷ نور کسان وتښتول. یو امریکایي یې وواژه او دوه امریکایان او یو فلپینی د کال تر پایه په بند کې پاتې شول.
اندونیزیا، چین او تایلنډ هم د کال په اوږدو کې د چاودنو شاهدان وو. چارواکو باور کاوه چې دا کارونه په دغو هېوادونو کې د سخت دریځو اسلامپالو کار دی، خو ډېر لږ کسان یې په تور ونیول شول.

# شمالي کوریا

بیا د اوو ترهګرۍ پالونکو هېوادونو په کتار کې وه.

# برما

برما د نومبر پر دېرشمه ملګرو ملتونو ته یو لیک واستاوه، چې د ترهګرۍ ضد مبارزه کې خپله ژمنتیا وښیي. د برما حکومت د ترهګرۍ ضد مخالفت وښود او چارواکو یې اعلان وکړ چې هېواد کې به د ترهګریزو بریدونو د طرح کولو او یا عملي کولو لپاره هېڅا ته اجازه ورنه کړي. حکومت وویل چې د ملګرو ملتونو پر هغې پرېکړې ولاړ دی، چې د ترهګرو د تمویلولو بندیز یې لګولی دی، د برما حکومت د مالي راکړې ورکړې ادارو او بنسټونو ته د ټولو هغو ترهګرو او ترهګریزو ډلو نومونه ورکړل، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په ۱۳۳۳ نمبر پرېکړه لیک کې راغلي وو.

# چین

د سپتمبر د یوولسمې پېښې په ټینګه وغندلې او اعلان یې وکړ چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پرېکړه لیک او نړیوالو قوانینو پربنسټ به له نړیوالې ټولنې سره د ترهګرۍ پرضد فعالیتونو کې ونډه واخلي. چین د سپتمبر تر پېښو وروسته، د خپل ملي امنیت د ښه کولو او د ترهګرو خلاف ځینې اجرآت وکړل، په لوېدیځ سینکیانګ کې یې خپل پوځي حضور ډېر کړ؛ ځکه چې هلته په وروستیو کلونو کې اویغوري جلا غوښتونکو بریدونه کړي وو، همدا وو چې په سیمه کې یې باید پوځي حضور غښتلی کړی وای. چین د افغانستان او پاکستان پولو ته څېرمه هم خپل پوځي کنډکونه تقویه کړل، ترڅو له افغانستانه ترهګرۍ تېښتې ته پرې نه ږدي.

چین هم ترهېدلی و، چې ګني اسلامپالي سخت دریځي به په سینکیانګ ـ اویغور کې د کورواکې اداري جوړولو لپاره تر خپله وسه مبارزه وکړي، او له طالبانو او القاعدې شبکې په الهام اخیستو به افغانستان کې لانوره سخت دریځي زده کړي. که څه هم ګڼ رپوټونه وو چې اویغوري سخت دریځو پوځي روزنې ترلاسه کړې او له پخواني شوروي اتحاد سره یې د چیچنیا په څېر اسلامپالو ډلو په لیکو کې جګړې کړې دي.

خو چین له دوو ډلو ډېره وېره لرله: یوه د ختیځ ترکستان اسلامي حزب او د ختیځ ترکستان د ازادۍ تنظیم. د ترکستان اسلامي حزب د تېرې پېړۍ اتیایمې لسیزې لومړنیو کې جوړه شوه، چې هدف یې د ختیځ ترکستان یوه ازاد دولت جوړول وو، خو هدف ته د رسېدو لپاره یې په وسله والې مبارزې هم سرپه نه کوله. خو د ختیځ ترکستان د ازادۍ ډله په یو لړ بریدونو کې تورنه شوه.

ځینې اویغوري سخت دریځي افغانستان کې د القاعدې په لیکو کې وموندل شول. موږ ته ځینې داسې رپوټونه هم راغلي وو، چې ځینې اویغوریان د القاعدې تر لاس لاندې روزل شوي او بیا چین ته ستانه شوي دي.
د چین سینکیانګ کې د اویغوریانو د ځپلو پر وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو چیغې راپورته شوې.

# اندونیزیا

د سپتمبر د یوولسمې تر بریدونو وروسته، د اندونیزیا ولسمشرې میګاواتي په ډاګه له ترهګرۍ سره د نړیوالې مبارزې ملاتړ اعلان کړ، خو ژمنه یې وکړه چې د ترهګرۍ ضد جګړه کې به د ملګرو ملتونو پرېکړې عملي کړي. خو د اندونیزیا حکومت وویل چې له یوې خوا پر افغانستان د امریکایي پوځي غبرګون مخالفت کوي، همدا وو چې حکومت له هماغه وخت راهیسې د ترهګرۍ ضد جګړې له نړیوالو مبارزو سره د خپل تایید کچه ټیټه وساتله. خو اندونیزیا په کور د ننه له ځینو کورنیو ستونزو سره لاس او ګرېوان شوه، اندونیزیایي پولیسو د اندونیزیا د مجاهدینو د شورا له مشر ابو بکر بصیر سره د اړیکو په ساتلو سره په اګست کې هغه مالیزیایی ونیو، چې د جاکارتا په یوه سوداګریز ځای کې یې د چاودنې هڅه کړې وه.

اندونیزیا کې دوه مالیزیایان ونیول شول، خو وروسته یې د هغو ترهګرو د نیولو امر وکړ، چې د ملګرو ملتونو د ۱۳۳۳ نمبر پرېکړه لیک مطابق مطلوب کسان وو.

ځینو اندونیزیایي سخت دریځو اسلامپالو ډلو امریکایي سفارت ته د بریدونو ګواښ وکړ او په زور یې افغانستان کې د امریکایي یرغل په غبرګون کې ځینې امریکایي وګړي له اندونیزیا څخه وتلو ته اړایستل.که څه هم اکتوبر کې سخت دریځو لاریون وکړ، خو د امریکا سفارت خوندي ترې پاتې شو. د اندونیزیا تر ټولو قوي ډلې (بیمبیلا اسلامي جبهه) یا (د اسلام مدافعه جبهه) وړاندې هېواد کې امریکایانو ته ګواښونه کړي وو.

خو په جولای او دسمبر میاشتو کې سخت دریځو تر دېرشو ډېر بریدونه وکړل، چې یو هم د اندونیزیا اتچېه سیمه کې د امریکا پر اکسون موبېل شرکت و. په همدې کال ناپېژاندو وسله والو ځینې مشهور اندونیزیایان هم وتښتول.

# جاپان

په امریکا کې د سپتمبر تر بریدونو وروسته جاپان چټک غبرګون وښود. د جاپان لومړي وزیر کویزومي د جاپان د دفاعي ځواکونو پیاوړي‌کولو ته پام ډېر کړ، خو افغانستان کې یې د بهرنیو ځواکونو تر شا د ملاتړي مرستندویه رول

ولوباوه. د شکمنو اورپکو بانکي حسابونه يې وتړل او د نژدې ۳۰۰ ډلو او اشخاصو د څارنې لیست یې خپور کړ. د ترهګرۍ په تړاو د ملګرو ملتونو ټولې ۱۲ مخکنۍ او وروستۍ معاهدې د جاپان د حکومت له خوا لاسلیک شوې.

## لاووس

د لاووس حکومت هر ډول ترهګري وغندله او د ترهګرۍ له نړیوالې مبارزې سره يې لاسونه یو کړل. د لاووس مرکزي بانک امر وکړ چې د ترهګرو ټولې شتمنۍ دې کنګل شي. خو د ترهګرۍ پرضد نړیوالو معاهدو په لاسلیکولو کې يو څه پښه نيول پاتې شو.

## مالیزیا

د مالیزیا ولسمشر مهاتیر محمد د سپتمبر د یوولسې بریدونه بې موجبه بریدونه وبلل خو د امریکا سفارت ته له دې کبله ولاړ چې د غمشریکۍ کتاب کې خپل یاداشت ولیکي. خو حکومت په استخباراتي چارو کې د همکارۍ ژمنه وکړه.

## فلپین

د فلپین ولسمشرې ماکاباجال اوریو په سوېل ختيځه اسيا کې تر نورو ډېره د ترهګرۍ د مبارزې ټینګه ملاتړې وه. په ۲۰۰۱ کال د فلپین کانګرس د پیسو د سپینولو د مبارزې قانون پاس کړ. د امریکا په همکارۍ د فلپین پوځ شمېر ډېر او امریکايي مرستې ورسره زیاتې شوې، همدا وو چې د ابو سیاف پر ډلې یې بریدونه ډېر کړل. ابو سیاف له کلونو راهیسې په تښتونو تورنه وه.

تر اوږدو جلسو وروسته، د فلپین کانګرس د سپتمبر پر ۲۹ د ۲۰۰۱ قانون د پیسو د سپینولو قانون ومانه. همدا وو چې له فلپیني پوځ سره د امریکا مرسته او روزنه ډېره شوه، چې هدف یې د ابو سیاف پر ډلې د فعالیت د کړۍ تنګول وو؛ ځکه چې دغه ډله پخوا په ډېرو تښتونو او ترهګریزو فعالیتونو تورنه شوې وه.

| سنګاپور: د ترهګریز پلان شنډول |
|---|

دا یو ډېر باتدبیره او پېچلی ترهګریز پلان و، چې هدف یې د امریکا سفارت، امریکایي سمندري ځواکونه او نورې امریکایي موخې وې، خو هدف ته تر رسېدو مخکې د سنګاپور چارواکو ددغه برید پلان کشف او شنډ کړ.
د سنګاپور ټول ټال اوسېدونکو شمېر څلور میلیون کسانو ته رسېږي، خو۱۷۰۰۰ پکې امریکایان اوسېږي.

د سنګاپور لومړي وزیر د سپتمبر د یوولسمې بریدونه وغندل، او ترڅنګ یې د ترهګرۍ پرضد د امریکایي مبارزې ملاتړ وکړ. سنګاپور افغانستان کې د جګړې له هڅو سره خپله ملګرتیا اعلان کړه، او د افغانستان له بشري مرستو سره یې لاسونه یو کړل. خو تر دې ورهاخوا یې له هغو نړیوالو هڅو سره ځانونه شریک کړل، چې ظاهراً یې هدف د نړیوالو ترهګرو له منځه وړل او په سوېلي ختیځ اسیا کې د دوی د فعالیتونو شنډول وو.

سنګاپور پخپله خاوره کې د ۲۰۰۱ کال په درشل کې د هېڅ کوم کورني ترهګریز برید شاهد نه وو، خو پولیسو یې د هغې یوې اسلامي ډلې په ځپلو پسې راواخیسته، چې له القاعدې شبکې سره د تړاو لرلو شک پرې کېده، چې غالباً د دغې ډلې غړو د سنګاپور د ننه د امریکایي، برتانوي او استرالیایي اهدافو ضد بریدونو طرحې لرلې. همدا وو چې سنګاپور له ترهګرۍ سره د تړاو په تور ۱۳ کسان ونیول.

## تایوان

د تایوان مشر په ښکاره وویل چې هېواد یې د ترهګرۍ ضد مبارزې ملاتړی دی، خو دا یې هم ویل که څه هم د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري، خو ددغه سازمان د ترهګرۍ پرېکړه لیک مني. تایوان د ترهګرۍ ضد خپل قوانین قوي کړي او د سپتمبر تر پېښو وروسته یې خپل جنایي قوانین سخت او د پیسو د سپینولو قوانین تغییر کړل.

## تایلنډ

د تایلنډ لومړي وزیر تاکسین د سپمبر بریدونه وغندل او ژمنه یې وکړه چې هېواد به یې د ترهګرۍ ضد مبارزه کې له امریکا او د هغې له نړیوالو ملګرو سره همکاري کوي. تایلنډ دا ژمنه هم وکړه چې استخباراتي سازمان به یې د امریکا له څارګرې ادارې سره یوځای د ترهګرو په ځپلو کې کار کوي. تایلنډ افغانستان کې د بیا رغونې د همکارۍ ژمنه هم وکړه. همدا وو چې د طالبانو او القاعدې د مالي سرچینو د وچولو پخاطر یې د ملګرو ملتونو د بندیزونو قوانین عملي کړل. تایلنډ افغانستان کې د عملیاتو او جګړې ډګر ته د پنځو طبي ډلو او بیارغونې د ډلې استولو وړاندیز هم وکړ. تایلنډ د ترهګرۍ پروړاندې جګړه کې د نور پام وړ ملاتړ اجرآتو سرته رسولو ټېر هم وواهه. ددغه هېواد چارواکو د ملګرو ملتونو د فرمانونو پربنسټ د القاعدې شبکې او طالبانو د مالي سرچینو د وچولو لپاره هم

گام پورته کړ. د ترهګرۍ او جرم د مخنیوي د هڅې په پلمه د کډوالۍ چارو چارواکو په دسمبر کې د هغو هېوادونو دائره نوره هم پسې وغځوله، چې تایلنډ ته یې تر سفر مخکې د تګ په اړه معلومات اړین ښکارېدل او د وېزې د ترلاسه کولو غوښتنې یې درلودې. تایلنډ د ملګرو ملتونو په سپارښتنه افغانستان ته د بیارغونې د یوې ډلې او پنځو طبي ډلو د استولو وړاندیز هم وکړ، چې په روانو عملیاتو کې ونډه واخلي. د سپتمبر د یوولسې له بریدونو وروسته،په تایلنډکې پولیسو د خپلو امنیتي بنسټونو او امریکایي او لوېدیځو ادارو او بنسټونو د امنیت ټینګولو تدابیر لاپسې ټینګ کړل.

تایلنډي چارواکو د هېواد په جنوب کې هغه ګڼمسلمان مېشته سیمه د ۲۰۰۱ کال د جرمونو په پېښو کې شکمنه وګڼله، چې په لړ کې یې درو چاودنو یو ماشوم وواژه او لسګونه نور کسان یې ټپیان کړل.

# امریکا د بهرنیو چارو وزارت

# د نړیوالې ترهګرۍ نمونه ۲۰۰۱

# د ترهګرۍ ضد فعالیتونو د همغږۍ له دفتره خپور شوی

# د ۲۰۰۲ مې ۲۱

# پر افغانستان د امریکا پوځي یرغل

د سپتمبر د یوولسمې د بریدونو له پیل راهیسې، د القاعدې په اړه شکونه ډېر شول، چې په افغانستان کې یې د طالبانو د واکمنۍ تر سیوري لاندې مشرتابه او د روزنځایونه فعالیت کوي. له لومړي سره د امریکایي حکومت تمه دا وه چې طالبان وځېږي چې په دې سره طالبان د القاعدې شبکې د فعالیتونو درولو ته اړباسي. امریکایي ولسمشر ددې کار لپاره د پراخ پوځي ګام اخیستل ضروري وبلل.

همدا وو چې د امریکا پوځي مرکزي قوماندې تر چتر لاندې د جنرال ټومي فرانکس په مشرۍ په افغانستان کې د پوځي ګام اخیستو او ځواکونو راغونډولو چارې او پلان جوړول پیل شول. په لومړي سر کې امریکا د طالبانو دفاعي او رادار سیستم له منځه یووړ، د اکتوبر پر اوومه یې د ځانګړو ځواکونو په مټ‌په افغانستان کې د طالبانو مهم هدفونه په نښه کړل. د امریکا د هوایي، سمندري او پلي ځواکونو عسکرو او الوتکو د طالبانو او القاعدې شبکې د مرکزونو بمباروول پیل کړل.

له امریکا سره د ترهګرۍ په نامه پیل شوې جګړه کې د نړۍ نور هېوادونه هم ملګري شول، پوځي مرستې یې وکړې، او د ترهګرۍ پرضد یې په ایتلاف کې برخه واخیسته. د کال په پای ته رسېدو سره، د ۵۵ هېوادونو له امریکا سره لاسونه یو کړل، چې ځینې پکې د اسلامي نړۍ هېوادونه هم وو، خو امریکایي ځواکونو تر ډېره د طالبانو او القاعدې د مشخصو مرکزونو له منځه وړلو عملیات کول.

په تدریجي ډول له بمباریو وروسته، د القاعدې شبکې او طالبانو د مرکزونو پرضد ځمکني عملیات هم پیل شول، چې په دې کې د شمالي ټلوالې وسله والو ـچې د طالبانو سرسخته دښمنان وو- همکاري وکړه. د نومبر په لسمه، د شمالي ټلوالې وسله وال شمالي مزار شریف ښار ته ننوتل، چې په دې سره پر دغه شمالي لوی ښار د طالبانو واکمني ختمه شوه. په وروستیو ورځو کې د هېواد په ډېری برخو کې د طالبانو د جنګیالیو لمن ورټوله شوه، چې زیاترو یې هغه سوېلي کندهار ولایت ته پښې سپکې کړې، چې له همدې ولایت یې لومړی خپل فعالیت پیل کړی و. د نومبر په دیارلسمه، د شمالي ټلوالي جنګیالي له کوم مقاومت پرته پر کابل ورننوتل.

که څه هم په دې وخت کې کندهار کې د طالبانو پر مرکزونو د امریکا بمبارۍ او عملیات روان وو، خو د اکتوبر په نولسمه، امریکا خپلو هوایي ځواکونو ته امر وکړ، چې د طالبانو د ثابتو مرکزونو بمباروول محدود کړي. د نومبر په شپږویشتمه، امریکایي سمندري ځواکونو د کندهار لوېدیځ کې اډه جوړه کړه، او د طالبانو د تېښتې د مخنیوي او نیولو لپاره یې ګزمې پیل کړې. په پای کې، د طالبانو تر واکمنۍ لاندې وروستی او لومړی مورچل کندهار ښار

تر بیا بمباریو او بریدونو لاندې راغی، چې په دې کې د دسمبر په شپږمه د شمالي ټلوالې جنګیالي هم له امریکا سره لاسونه اوږه په اوږه مخته تلل. خو پر دې ټولو سربېره د طالبانو مشر ملا محمد عمر په تېښته بریالی شو.

په دې وخت کې افغان او ایتلافي ځواکونو د القاعدې شبکې د مشر او بنسټګر اسامه بن لادن لټون پیل کړ، له پاکستان سره پر پوله یې د تورې بورې شاوخوا سیمې او غرونه هم پل په پل پسې ولټول، غره په غره جګړه وشوه، چې په پای کې توره بوره غر هم تسلیم شو، خو بن لادن بیا هم د امریکایانو له منګولو وژغورل شو.

څو اونۍ وروسته د طالبانو ضد افغان وسله وال د هېواد بېلابېلو سیمو ته ولاړل، چې د طالبانو ځای ځایګی او د القاعدې جنګیالي وځپي، همدا وو چې د طالبانو او القاعدې تر پنځو زرو ډېر کسان ونیول شول. له دغو کسانو چې کوم امریکا ته ډېر مهم ښکارېدل، چې زیاتره پکې د طالبانو مشران او د القاعدې کلیدي غړي وو، ځانګړو زندانونو ته یووړل شول، چې بیا وروسته یې امریکا ته د لېږدولو چاره اسانه شي.

د نومبر په شپږویشتمه، په بُن کې د افغانستان د بېلابېلو ګوندونو او ډلو غړي او مشران سره جرګه شول، چې د یوه نوي حکومت په جوړېدو سره سلا شي. په پای کې د دسمبر په دوه ویشتمه کابل کې لنډمهالې اداره جوړه شوه. د افغانستان د دغې نوې ادارې د تقویې کولو لپاره د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۸۶ فرمان له مخې د دسمبر په شلمه، د بریتانیا په مشرۍ نړیوالو له افغانستان سره خپلې مرستې پیل کړې.

په افغانستان کې د پوځې یرغل ظاهري شعار دا و، چې امریکا په هېڅډول ترهګرۍ ته مخه کوونکي غړي او ډلې نه پرېږدي، او له دوی سره به په هېڅ راز قساوت سرپه ونه کړي.

# امریکا د بهرنیو چارو وزارت
# د نړیوالې ترهګرۍ نمونه ۲۰۰۱
# د ترهګرۍ ضد فعالیتونو د همغږۍ له دفتره خپور شوی
# د ۲۰۰۲ مې ۲۱

# د ترهګريزو اعمالو شمېرې

د نړيوالو ترهګريزو بريدونو مجموعي شمېر، ۱۹۸۱ـ۲۰۰۱
د سيمو په کچه د نړيوالو بريدونو شمېر، ۱۹۹٦ـ ۲۰۰۱
د سيمو په کچه د نړيوالو بريدونو قربانيان، ۱۹۹٦ـ۲۰۰۱
د نښه شويو بنسټونو په کچه د نړيوالو بريدونو شمېر، ۱۹۹٦ـ ۲۰۰۱
په نړيوالو ترهګريزو اعمالو کې امريکايي قربانيان، ۱۹۹٦ـ ۲۰۰۱
د امريکا پرضد د بريدونو شمېر، ۲۰۰۱

## د نړيوالو ترهګريزو بريدونو مجموعي شمېر، ۱۹۸۱ـ ۲۰۰۱

## د نړيوالو ترهګريزو بريدنو شمېر، ۱۹۸۱ـ۲۰۰۱

په وروستيو کلونو کې، ځينو فلسطينيانو د نورو فلسطينيانو پرضد په ازادو شويو سيمو کې تاوتريخجني پېښې وکړې، چې د نړيوالې ترهګرۍ د پېښو په لست کې شاملې شوې، ځکه چې فلسطينيان بې دولته ولس ګڼل کېده. پر همدې بنسټ د نړۍ په نورو سيمو کې هم د توکم پالنې لپاره مبارزې او تاوتريخجني پېښې ترهګري وبلل شوې.

## د ۱۹۸۱ او ۲۰۰۱ ترمنځ هر کال نړيوالې ترهګريزې پېښې

| کال | بريدونه |
|---|---|
| ۲۰۰۱ | ۳۴۸ |
| ۲۰۰۲ | ۴۲٦ |
| ۹۹ | ۳۹۵ |
| ۹۸ | ۲۷۴ |
| ۹۷ | ۳۰۴ |
| ۹٦ | ۲۹۷ |
| ۹۵ | ۴۴۰ |
| ۹۴ | ۳۲۲ |
| ۹۳ | ۴۳۱ |
| ۹۲ | ۳٦۳ |
| ۹۱ | ۵٦۵ |
| ۹۰ | ۴۳۷ |
| ۸۹ | ۳۷۵ |
| ۸۸ | ٦۰۵ |
| ۸۷ | ٦٦٦ |
| ۸٦ | ٦۱۲ |
| ۸۵ | ٦۳۵ |
| ۸۴ | ۵٦۵ |
| ۸۳ | ۴۹۸ |
| ۸۲ | ۴۸۷ |
| ۸۱ | ۴۸۹ |

د سیمو په کچه د نړیوالو بریدونو شمېر

| سیمه | ۱۹۹٦ | ۱۹۹۷ | ۱۹۹۸ | ۱۹۹۹ | ۲۰۰۰ | ۲۰۰۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| افریقا | ۱۱ | ۱۱ | ۲۱ | ۵۳ | ۵۵ | ۳۳ |
| اسیا | ۱۱ | ۲۱ | ۴۹ | ۷۲ | ۹۸ | ٦۸ |
| لاتینه امریکا | ۸۴ | ۱۲۸ | ۱۱۱ | ۱۲۲ | ۱۹۲ | ۱۹۴ |
| منځنی ختیځ | ۴۵ | ۳۷ | ۳۱ | ۲٦ | ۲۰ | ۲۹ |
| شمالي امریکا | ۰ | ۱۳ | ۰ | ۲ | ۰ | ۵ |
| لوېدیځه اروپا | ۱۲۱ | ۵۲ | ۵۲ | ۸۵ | ۳۰ | ۱۷ |

د سیمو په کچه د نړیوالو بریدونو قربانیان، ۱۹۹٦ـ۲۰۰۱

تبصره:

د نیویارک د چاړواکو له خوا د نهایي رسمي شمېرې د نشتوالي له کبله، موږ اټکلي (نارسمي) شمېرې تخمینولی شوې، چې په ۲۰۰۱ کال کې پر نړیوال سوداګریز مرکز برید کې درې زره کسان وژل شوي وو. همداشان په دغه برید کې د ټپیانو کره شمېره هم نه ده روښانه شوې.

| سیمه | ۱۹۹٦ | ۱۹۹۷ | ۱۹۹۸ | ۱۹۹۹ | ۲۰۰۰ | ۲۰۰۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| افریقا | ۸۰ | ۲۸ | ۵۳۷۹ | ۱۸۵ | ۱۰۲ | ۱۵۰ |
| اسیا | ۱۵۰۷ | ۳۴۴ | ٦۳۵ | ٦۹۰ | ۸۹۸ | ٦۵۱ |
| اروپایي اسیا | ۲۰ | ۲۷ | ۱۲ | ۸ | ۱۰۳ | ۰ |
| لاتینه امریکا | ۱۸ | ۱۱ | ۱۹۵ | ۹ | ۲۰ | ٦ |
| شمالي امریکا | ۰ | ۷ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳۳۱۵ |
| لوېدیځه اروپا | ۵۰۳ | ۱۷ | ۴۰۵ | ۱٦ | ۴ | ۲۰ |
| منځنی ختیځ | ۱۰۹۷ | ۴۸۰ | ٦۸ | ۳۱ | ۷۸ | ۵۱۳ |

په ۲۰۰۱ کال پر نړیوال سوداګریز مرکز بریدونه

| د بنسټ ډول | ۱۹۹٦ | ۱۹۹۷ | ۱۹۹۸ | ۱۹۹۹ | ۲۰۰۰ | ۲۰۰۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سوداګریز | ۲۳٥ | ۳۲۷ | ۲۸۲ | ۲۷۸ | ۳۸۳ | ۳۹۷ |
| ديپلوماتيک | ۲۴ | ۳۰ | ۳٥ | ۹٥ | ۳۱ | ۱۸ |
| حکومتي | ۱٦ | ۱۱ | ۱۰ | ۲۷ | ۱۷ | ۱۳ |
| پوځي | ٦ | ۴ | ۴ | ۱۷ | ۱۳ | ۴ |
| نور | ۹۰ | ۸۰ | ٦۷ | ۹٦ | ۱۱٥ | ۹۹ |

په نړیواله کچه د ۱۹۹٦ـ ۲۰۰۱ کلونو ترمنځ د امریکایانو کلنیز تلفات

تبصره: د ۲۰۰۱ کال په اړه، په پنتاګان (دفاع وزارت) او پنسلوانیا کې د سپتمبر پر یوولسمه د امریکایانو د تلفاتو رسمي شمېرې تایید شوې دي. خو د نیوارک د چارواکو له خوا بیا پر نړیوال سوداګریز مرکز بریدونو کې د تلفاتو کره شمېره ددغه راپور تر چاپېدو پورې نه ده تایید شوې.

| سیمه | ۱۹۹٦ | ۱۹۹۷ | ۱۹۹۸ | ۱۹۹۹ | ۲۰۰۰ | ۲۰۰۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وژل شوي | ۲٥ | ٦ | ۱۲ | ٥ | ۲۳ | ۲۴۰ |
| ټپيان | ٥۱۰ | ۲۱ | ۱۱ | ٦ | ۴۷ | ۹۰ |

د امریکا ضد ټول ټال بریدونه، ۲۰۰۱

| سیمه | د برید ځرنګوالی |
|---|---|
| شمالي امریکا | تښتوني |
| افریقا | وسله وال برید |
| لوېدیځه اروپا | تخریب |
| منځنی ختیځ | تښتونه |
| لاتینه امریکا | چاودني |

### په امریکا مجموعي بریدونه

پوځي

حکومتي مامورینو

ديپلوماتیک

نور

سوداګریز

---

مجموعي: ۲۲۸

### په ۲۰۰۱ کال د امریکا ضد مجموعي بریدونه، د سیمې او څرنګوالي پربنسټ

| سیمه | هغه بریدونه چې د امریکا پربنسټونو شوي او امریکایي وګړي پکې وژل شوي |
|---|---|
| شمالي امریکا | ۳ |
| اروپایي اسیا | ۲ |
| افریقا | ۳ |
| لوېدیځه افریقا | ۴ |
| اسیا | ۷ |
| منځنی ختیځ | ۸ |
| لاتینه امریکا | ۱۹۱ |